د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د بنوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو
د تالیف لوی ریاست

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري په بازار کې يې اخیستنه او
خرڅونه په کلکه منع ده. له سر غړونکو سره قانوني چلن کیږي.



تفسیر شریف

د ولسم ټولګی

Ketabton.com

تفسیر شریف- دولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش

ketabton.com - The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو
د روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

تفسیر شریف

دولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـــ. ش.

ketabton.com - The Digital Library

ليکوالان

- دکتور فضل الهادی وزين
- فضل الله نيازی

علمي او مسلکي ايډيټ

- محمد عارف لودين
- محمدآصف کوچي

د ژبې ايډيټ

- محمد قاسم هيله من

ديني، سياسي او کلتوري کميټه

- مولوی قيام الدين کشاف
- دکتور عبدالصبور فخري

د څارنې کميټه

- دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين
- دکتور شېر علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس

طرح او ډيزاين

عنايت الله غفاري

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

ملي سرود

دا وطـــن افغانـــستان دی — دا عـــزت د هـــر افغـــان دی

کـور د سـولې کـور د تـورې — هـــر بچـــی یـــې قهرمـــان دی

دا وطـــن د ټولـــو کـــور دی — د بلوخـــــــو د ازبکـــــــو

د پـــښتـــون او هـــزاره وو — د ترکمنـــــــو د تاجکـــــــو

ورســره عــرب، ګوجــر دي — پامیـــــریان، نورستانیـــــان

براهـــوي دي، قزلبـــاش دي — هـــم ایمـــاق، هـــم پـــشه یـــان

دا هیـــواد بـــه تـــل ځلیـــږي — لکـــه لمـــر پـــر شـــنه آسمـــان

پـــه سینـــه کـــې د آسیـــا بـــه — لکـــــه زړه وي جـــــاویدان

نـــوم د حـــق مـــودی رهبـــر — وایـــو الله اکبـــر وایـــو الله اکبـــر

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام

ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف وموميي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځیدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو مینديې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا وموميي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تألیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

سرليکونه

لومړی لوست: قرآن کريم د رڼا په لور هدايت ۱

دويم لوست: د تېر لوست پاتې برخه ۷

دريم لوست: د شورا ارزښت..... ۱۱

څلورم لوست: د تېر لوست پاتې برخه ۱۵

پنځم لوست: د انبياوو مقام..... ۱۹

شپږم لوست: د تېر لوست پاتې برخه..... ۲۲

اووم لوست: اسلام غوره دين دی..... ۲۸

اتم لوست: د تېر لوست پاتې برخه ۳۲

نهم لوست: په آخرت ايمان او پر ژوند يې اغيز..... ۳۸

لسم لوست: د تېر لوست پاتې برخه..... ٤۱

يوولسم لوست: په دين کې اعتدال (منځلاريتوب) ٤٦

دولسم لوست: د تېر لوست پاتې برخه ۵۰

ديارلسم لوست: ګټوره سوداګري..... ۵۸

څوارلسم لوست: د ديني زده کړې ارزښت ٦٤

ketabton.com - The Digital Library

پنځلسم لوست: د ديني شعائرو تعظيم او درناوی ٦٩

شپاړسم لوست: دتېر لوست پاتې برخه ٧٣

اوولسم لوست: ټولنيز عدالت د قرآن په رڼا کې ٧٧

اته لسم لوست: د تېر لوست پاتې برخه ٨٢

نولسم لوست: د انسان د وينو تويولو حرمت ٨٨

شلم لوست: د تېر لوست پاتې برخه ٩٢

يو ويشتم لوست: د خلکو په شتمنيو د تيري حرمت ٩٦

دوه ويشتم لوست: ګډ ژوندون او خواخوږي ١٠٢

درويشتم لوست: په قرآن کريم کې نمونه ځوانان ١٠٨

ketabton.com - The Digital Library

لومړی لوست

قرآن کریم د رڼا په لور هدایت

قال الله تعالی: ﴿الر كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ۞ اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَوَيْلٌ لِلْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ۞﴾ [ابراهيم:١-٢]

د کلمو معنا

الر: الف، لام، را- په دې آیت کې د مقطعه تورو له جملې څخه دي چې په معنا او تفسیر یې پرته له الله تعالی او د هغه له پیغمبرﷺ څخه بل هیڅوک نه پوهیږي.

كِتَابٌ: قرآن.

لِتُخْرِجَ: چې وباسې ته.

الظُّلُمَاتِ: د ظلمه جمع ده، تیارې.

النُّورِ: رڼا.

الْعَزِيزِ: غالب، د الله له مبارکو نومونو څخه یو نوم دی.

الْحَمِيدِ: ستایل شوی،د الله له مبارکو نومونو څخه یو نوم دی.

وَيْلٌ: هلاکت، افسوس، د دوزخ په ښخ کې یوه کنده ده.

ژباړه

(الـ ل ـ ر) ای پیغمبره! دا یو کتاب دی چې موږ ستا لورې ته نازل کړی دی چې ته پرې خلک د هغوی د رب په مرسته له تیارو څخه د رڼا په لور چې د برلاسي او ستایل شوي رب لیار ده راوباسي.

الله هغه ذات دی چې د آسمانونو او ځمکې د ټولو هستیو څښتن دی. او سخت عذاب او هلاکت د کافرانو په برخه دی.

تفسیر

د آیتونو شرح او څېړنه

د دې لوست مبارک آیتونه د (ابراهیم) سورت لومړني آیتونه دي چې مدینې منورې ته له هجرت د مخه په مکه معظمه کې نازل شوي دي. د دې سورت لومړنی آیت په (الر)

ketabton.com - The Digital Library

يعني دري تورو (الف، لام، را) پېل شوی دی. دا ډول توري په قرآن عظيم الشان کې د مقطعه، يعني له يو بل نه بيل او جلا تورو په نامه يادیږي. د قرآن عظيم الشان نهه ويشت سورتونه په دغو تورو پيل شوي دي.

مفسرين د دغو تورو د معنا په هکله بيل، بيل او متفاوت نظرونه لري،[1] خو د دغو تورو حقيقي معنا او په دغو تورو د قرآن عظيم الشان د ځينو سورتونو د پېلېدو اسرار يوازې الله تعالی او د هغه رسول عليه السلام ته معلوم دي او موږ نشو کولای په يقين سره د دې تورو د معنا او مفهوم په اړه څه ووايو.

په مبارک آيت کې له کتاب څخه مراد قرآن مجيد دی. (کتاب) د قرآن عظيم الشان له نومونو څخه دی چې په ګن شميرآيتونو کې په دې معنا ياد شوی دی. په نکره صيغې سره د (کتاب) لفظ کارول د دې مبارک کتاب په اوچت مقام او لوړې مرتبې دلالت کوي.

د کتاب د نازلېدو معنا دا ده چې قرآن عظيم الشان د الله له لوري د جبرايل عليه السلام په واسطه د دنيا د اسمان له (بيت العزة) نه په پېغمبر ﷺ باندې نازل شو.

له تيارو نه د رڼا په لور د خلکو را ايستل د پېغمبر ﷺ د رسالت او بعثت ستر هدف دی . د تيارې لفظ له کفر، جهل، شرک، بدعت او نورو ټولو اعتقادي او عملي مفاسدو او انحرافاتو څخه استعاره ده. د **(ناس)**: کلمه په عربي ژبه کې د خلکو په معنا ده. د (ال) راتلل د دغې کلمې په سر کې د انسان په مطلق جنس دلالت کوي، د هرې زمانې او هر ځای انسانانو ته شاملېږي چې د خدای ﷻ د وروستني پېغمبر په حېث د رسول الله ﷺ په عالميت، او د هغه مبارک د رسالت په تل پاتې کېدو او د وروستني کتاب په حيث د قرآن عظيم الشان په عالميت، عموميت او همېشه والي دلالت کوي.

د (نور) کلمه له ايمان، توحيد، اسلام، د پېغمبر ﷺ له سنتو او ټولو اعتقادي او عملي فضايلو او ښېګڼو څخه استعاره ده. دلته د تيارو او ظلمونو لپاره د جمعې لفظ (الظلمات) تيارې، او د رڼا لپاره مفرد لفظ (النور) کارول شوی دی؛ ځکه کفر ډېر انواع او طريقې لري، خو د ايمان لاره يعنې د الله تعالی او اسلام لاره يوه ده.

---

[1]- د امام بيضاوي انوار التنزيل تفسير

ketabton.com - The Digital Library

د ﴿بِإِذْنِ رَبِّهِمْ﴾ عبارت په دې دلالت کوي چې له تیارو، شرک او اعتقادي او عملي مفاسدو څخه د خلکو را ایستل د قرآن او د پیغمبرﷺ د لارښوونو په وسیله، د الله تعالی په امر او ارادې سره ترسره کیږي. لکه څرنګه چې د ﴿إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾ له مبارکې جملې څخه څرګندیږي. د الله ﷻ له لارې نه مقصد د الله تعالی دین، شریعت او الهي سنن دي. د آیت پای په دوو صفتونو(العزیز) یعنې غالب، او(الحمید) یعنې د ټولو مخلوقاتو په ژبه ستایل شوي، سره شوې ده، چې په دې کې د کفارو لپاره یو ډول ډار (انذار) او یادونه (تذکیر) ده ترڅو کفار پرکفر او عملي مفاسدو باندې له اصرار څخه لاس واخلي.

د لوست د دویم آیت لومړنۍ برخه پر ټوله هستۍ او کایناتو یعنې اسمانونو او ځمکې باندې د الله تعالی د مالکیت او مطلق قدرت څرګندونه کوي. د آیت په دویمه برخه کې د کافرانو لپاره تهدید او سخت وعید دی، چې پر کفر باندې د استمرار په حالت کې به سخت عذاب د دوی په انتظار کې وي. د نکرې صیغې کارول د (ویل)، (عذاب) او (شدید) په کلماتو کې د عربي ژبې د اسلوب او دستور له نظره د عذاب په شدت او سختۍ دلالت کوي چې د کفارو لپاره تیار شوی دی.

دآیتونو لنډ مفهوم

د پورتنیو مبارکو آیتونو اجمالي مفهوم دا دی چې الله تعالی په دغو دوو مبارکو آیتونوکې د قرآن عظمت ته په اشارې سره په روان او څرګند اسلوب سره د قرآن کریم د نازلېدو او د پیغمبرعليه السلام د بعثت موخه، د کفرله تیارو نه د خلکو را ایستل او له اعتقادي انحرافاتو او عملي مفاسدو نه د ایمان او اسلام د رڼا په لور راتلل ښودلي دي او پر هستۍ اوکایناتو باندې د عزیز او حمید ذات بشپړې غلبې ته په اشارې سره یې کافران پرکفر د اصرار اوسرغړونې له خطرناکو پایلو څخه ویرولي دي.

د قرآنکریم څانګړتیاوې

۱ – قرآن د هدایت او لارښوونې کتاب

څرنګه چې په پورتنیو آیتونو کې یادونه وشوه چې الله تعالی قرآن نازل کړ، ترڅو پیغمبرعليه السلام خلک له تورو تیارو نه راوباسي او د رڼا په لور ورته لارښوونه وکړي. دا د دې څرګندونه کوي چې قرآن د هدایت او لارښوونې کتاب دی. په قرآن عظیم الشان

ketabton.com - The Digital Library

کې داسې ډېر آیتونه شته چې په هغو کې قرآن ته هدایت ویل شوی دی. نوموړي آیتونه د پورتني آیت شرح او تفسیرکوي؛ ځکه چې د قرآن ښه او غوره تفسیرونکی پخپله قرآن دی. مثلاً: په لاندینیو مبارکو آیتونو کې غور او دقت وکړئ:

﴿ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ﴾ [البقرة:۲] **ژباړه:** دا د الله کتاب دی، هیڅ شک پکې نشته، پرهیزګارانو ته لارښوونکی دی. ﴿هَذَا بَيَانٌ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [آل عمران:۱۳۸] **ژباړه:** دا قرآن د عامو خلکو لپاره بیان او د پرهیزګارانو لپاره هدایت او پند دی. ﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ﴾ [النحل:۸۹] **ژباړه:** او مونږ داسې کتاب پرتا نازل کړی دی چې هر څه یې پوره بیان کړي او د مسلمانانو لپاره هدایت، رحمت او د خوښۍ زیری دی.

د پام وړ ده چې د هدایت لفظ په قرآن کریم کې کله د ارشاد او لارښوونې په معنا او کله هم د توفیق په معنا کارول کیږي.

۲ - قرآن نړیوال او تلپاتې کتاب

قرآن کریم کې د (هدایت) د کلمې معنا کارولو ته په پام او په مختلفو مواضعوکې د قرآن مجید د آیتونو سیاق او مفهوم ته په کتلو سره، پرته له شکه دا څرګندیږي چې قرآن کریم د هغو کسانو لپاره د هدایت او لارښوونې کتاب دی چې ایمان یې پرې راوړی دی او د هغه د تعلیماتو او ژغورونکو قوانینو له خوړې سرچینې څخه یې ګټه پورته کړې ده، خو په دې کې هم شک نشته چې د قرآن دعوت او خطاب عام او نړیوال دی؛ ټول بشریت ته په هرځای او هروخت کې متوجه دی او په یوې ځانګړې ډلې او یا خاصو خلکو پورې اړه نه لري.

د مثال په توګه: په لاندینیو آیتونو کې قرآن کریم د ټولو خلکو لپاره هدایت بلل شوی دی:

الف: ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ﴾ [البقرة: ۱۸۵].

ژباړه: روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوی دی چې د خلکو لپاره له سره تر پایه هدایت دی او داسې څرګندې لارښوونې په کې دي چې د سمې لارې ښوونکې او د حق او باطل یوله بله په ډاګه بیلوونکي دي.

ketabton.com - The Digital Library

ب: ﴿تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا﴾ [الفرقان:١] **ژباړه:** ډېر لوړ او برکتناک دی هغه ذات چې پرېکړه کوونکی قرآن يې پر خپل بنده (محمد) نازل کړی تر څو د ټولو خلکو لپاره ډاروونکی وي.

ج: ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ﴾[ص:٨٧] **ژباړه:** قرآن پرته له دې، چې د ټول عالم لپاره پند وي، بل څه نه دی.

د قرآن عظیم الشان د عالمیت بل دلیل د خاتم الانبیا حضرت محمدﷺ نړیوال او تلپاتې رسالت دی چې دا کتاب پرې نازل شوی دی، ځکه نبوت اوقرآن دوه نه بیلیدونکي شیان دي او یو له بل څخه نه جدا کیږي. الله تعالی فرمایي:﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾ [الأنبیا: ١٠٧]. **ژباړه:** موږ ته نه يې رالیږلی، مګر رحمت د ټولو عالمیانو لپاره.

د قرآن عظیم الشان آیتونه پردې ناطق او ګواه دي چې قرآن یو نړیوال، عالمي او تلپاتې کتاب دی. دا کتاب په خپلو تعلیماتو، احکامو او ارزښتونوسره د تل لپاره نوی دی، هیڅکله هم نه زړیږي او په هر وخت او زمان کې د بشر د هدایت او لارښوونې لپاره واضح او څرګند پیغام لري.

فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د قرآن کریم د نړېوالتوب، عالمیت او همیشه والي په هکله په خپلوکې سره مباحثه وکړي.

۳ - قرآن کریم له لاس وهنې (تحریف او تبدیل) نه ساتل شوی کتاب

د بشر د هدایت لپاره د الله تعالی د وروستني کتاب په حېث د قرآن د عالمیت او همېشه والي غوښتنه دا ده چې دا کتاب له تحریف او لاس وهنو څخه پاک وي؛ ځکه که چېرې په قرآن کې هم د پخوانیو کتابونو، لکه د تورات او انجیل په څیر تحریف او بدلون راغلی وای، نو په دې صورت کې قرآن نه شوای کولی د هرځای او هرې زمانې د خلکو لپاره د هدایت کتاب وای. له دې امله الله تعالی په ډېر ټینګار سره د قرآنکریم د ساتنې په اړه داسې فرمایي:﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ [الحجر:٩] **ژباړه:** بېشکه چې موږ ذِکر (قرآن) رالیږلی دی او موږ يې خامخا ساتونکي یو.

ketabton.com - The Digital Library

د الله تعالی د دغې ژمنې تحقق موندل او ترسره کیدل د قرآن عظیم الشان له معجزو څخه یوه څرګنده معجزه ده. قرآن کریم د مسلمانانو په اجماع او د مخالفینو په ګواهۍ سره د تورات او انجیل پر خلاف، چې د یوې ځانګړې زمانې او خلکو لپاره نازل شوي وو، له تحریف او تبدیل څخه محفوظ او مصئون پاتې دی، په دې معنا چې د قرآن په نصوصو یعنې آیتونو، سورتونو او الفاظو کې په لږه اندازه کمی، زیاتی او یا تغیر او تبدیل هم نه دی رامنځته شوی. کوم قرآن چې دا مهال زمونږ سره دی، په بشپړه توګه هماغه الهي وحي ده چې جبرئیل علیه السلام د الله له لوري پر محمد ﷺ باندې نازله کړې ده. بیا قرآن کریم د رسول علیه السلام په واسطه په لیکلې بڼه په صحیفو او د اصحابوکرامو په سینو کې وساتل شو. وروسته بیا دغه قرآن پرته له دې چې یوه کلمه او یا توری له هغه نه کم او یا پرې ورزیات شي، له یوه نسل نه بل نسل ته په نقلیدو ترمونږ راورسید. دا لړۍ به تر قیامته پورې دوام ولري او قرآن به د الهي ژمنې پر اساس له لاس وهنې څخه خوندي پاتې وي. قرآن د انسانانو د هدایت او لارښوونې لپاره د الله تعالی وروستنی کتاب دی چې هیڅ ډول نسخ، تحریف او تبدیل هغه ته لاره نشي موندلی. د قرآن کریم له نزول وروسته د وحي لړۍ بنده شوې ده. د الله تعالی له لوري بل کتاب نه راځي. همدارنګه بل پیغمبرهم نه رالیږل کیږي. لکه څرنګه چې دا مطلب په لاندینې آیت کې په څرګند ډول بیان شوی دی، الله تعالی فرمایي: ﴿لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنْزِيلٌ مِنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ﴾ [فصلت:٤٢] **ژباړه:** نه ورته د مخ له لوري باطل راتلای شي او نه د شا له لوري، دا د حکیم او ستایلي شوي ذات رالیږل شوی کتاب دی.

ketabton.com - The Digital Library

قرآن کريم د رڼا په لور هدايت

۴ - قرآن کريم شامل او کامل کتاب دی

خرنگه چې قرآن د بشر د هدايت لپاره په هرعصر او زمان کې تلپاتې کتاب دی، نو په کار ده چې دغه کتاب شامل او کامل کتاب وي او د ژوند ټولو برخو ته شامل وي. له دې امله د قرآن سپيڅلي تعليمات، احکام او ارزښتونه داسې هراړخيز دي چې د ژوند ټولې خواوې رانغاړي.

قرآن عظيم الشان د قضاياو په مطرحولو او څېړلو کې داسي بليغ او خرگند اسلوب لري چې په هر وخت اوځای کې د تطبيق قابليت او وړتيا لري. د مثال په ډول لاندينی آيت تر غور لاندې نيسو. الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَقَدْ جِئْنَاهُمْ بِكِتَابٍ فَصَّلْنَاهُ عَلَى عِلْمٍ هُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ [الأعراف:۵۲] **ژباړه:** مورږ هغوی ته د علم په رڼا کې پوره او بشپړ کتاب راوړی و چې د ايمان راوړونکي قوم لپاره هدايت او رحمت و. همدارنگه فرمايي: ﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ﴾ [النحل: ۸۹] **ژباړه:** او مورږ پر تا داسې کتاب (قرآن) نازل کړی دی چې هر څه يې پوره بيان کړي دي او د مسلمانانو لپاره هدايت، رحمت او د خوښۍ زيری دی.

۵ - قرآنکريم او پخواني آسماني کتابونه

قرآن کريم د بشريت د لارښوونې لپاره د الله تعالی وروستنی او تر ټولو بشپړ کتاب دی. د قرآن کريم په نزول سره ټول پخواني اسماني کتابونه منسوخ شوي دي، ځکه قرآن د بشر د لارښوونې لپاره د الله تعالی د وروستني کتاب په حيث د پخوانيو کتابونو ټول هغه احکام چې د بقا وړتيا يې درلودله په خپل ځان کې لري او د دغو کتابونو تصديق کوونکی دی. الله تعالی فرمايي: ﴿نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ﴾ [آل عمران: ۳] **ژباړه:** (الله تعالی) په حقه پر تا هغه کتاب (قرآن) نازل کړی چې پخواني آسماني کتابونه ريښتيني ګڼي او هم يې تورات او انجيل نازل کړی دی.

له دې امله پر ټول بشريت فرض دي چې پر قرآن اوخاتم النبيين حضرت محمدﷺ باندې ايمان راوړي. رسول اللهﷺ په دې اړه داسې فرمايلي دي: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ يَهُودِيٌّ أَوْ نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ يَمُوتُ وَلَا يُؤْمِنُ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَّا كَانَ مِنْ

ketabton.com - The Digital Library

أَصْحَابِ النَّارِ» [1] **ژباړه:** قسم په هغه ذات چې د محمد نفس د هغه په لاس کې دی هرڅوک له دې امت څخه که هغه یهودي وي یا نصراني او زما له بعثت څخه خبر شي، بیا په داسې حال وفات شي چې ایمان رانه وړي پر هغه څه چې زه پرې رالیږلی شوی یم، مګر دا چې هغه به د دوزخیانو له جملې څخه وي.

څرنګه چې په پخوانیو کتابونو کې ډېر زیات تحریف او بدلون راغلی دی او نسخې یې یو تر بله ډېر توپیر لري نو مونږ نشو کولای چې پر دغو نسخو د الهي کتاب په حیث اعتماد وکړو. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا...﴾ [البقرة: ٧٩] **ژباړه:** هغه خلک دې هلاک وي چې یوشی په خپل لاس ولیکي او بیا وایي دا د الله ﷻ رالیږلې لیکنه ده، ترڅو ډېرې لږې پیسې پرې ترلاسه کړي.

قرآن د تورات او انجیل د هغو کتابونو (کوم چې اوس مهال اهل کتاب ورته لاس رسي لري) د محتویاتو د حقیقت او بطلان تشخیصوونکی او څېړونکی دی. له دې امله قرآن عظیم الشان ته د نورو اسماني کتابونو ساتونکی(مهیمن) او ناظر ویل شوی دی. الله تعالی فرمایي:﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ..﴾ [المائده: ٤٨] **ژباړه:** ای محمده، مونږ تا ته دا کتاب (قرآن) په حقه درلیږلی دی چې له ده وړاندې کتابونه ریښتیني ګڼي او ساتونکی یې دی.

- د قرآن په وړاندې د مسلمان مسؤولیت

پر قرآن باندې د ایمان لرلو او د الله تعالی د وروستني کتاب په حیث د هغه د تعظیم او درناوي برسیره، مسلمان د قرآن په وړاندې نور وجایب او مکلفیتونه هم لري چې د قرآن د نصوصو په رڼا کې به له دغو مسؤلیتونو نه ځینې په لنډ ډول بیان کړو:

۱- پر قرآن باندې د پوهېدو او ګټو ترلاسه کولو په منظور په ډېر دقت سره د قرآن کریم د آیتونو استماع او اوریدل. الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ [الأعراف:٢٠٤] **ژباړه:** او کله چې ستاسې په وړاندې قرآن لوستل کیږي نو هغه په غور سره واورئ او چپ اوسئ، ښایي چې پر تاسې رحم وشي.

---

۱ – رواه مسلم

ketabton.com - The Digital Library

۲- د قرآن له آیتونو څخه پند او ګټه اخیستل او د هغو په احکامو او حکمتونو ځان پوهول. الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ﴾ [القمر: ۱۷] **ژباړه:** او په یقین سره موږ قرآن د پند اخیستلو لپاره اسان کړی، آیا شته کوم پند اخیستونکی؟.

۳- د قرآن په آیتونو کې تفکر او تدبر او د هغه په احکامو، اوامرو، نواهیو او ارزښتونو پوهیدل. الله تعالی فرمایي:﴿كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾ [ص:۲۹] **ژباړه:** دا یو برکتناک کتاب دی چې موږ پرتا نازل کړی تر څو یې هغوی په آیتونو کې فکر وکړي او د عقل خښتنان تري پند واخلي.

۴- د قرآن تلاوت، یعنې په سمه توګه د قرآن تلاوت او لوستل، په تلفظ او معنا کې له غلطۍ او خطا نه د مخنیوي په خاطر د تجوید د قواعدو او احکامو د مراعاتولو پر اساس د تورو ادا کول. د قرآن تلاوت په سمه توګه پرهر نارینه او ښځینه مسلمان لازم دي، الله تعالی فرمایي:﴿وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا﴾ [المزمل: ٤] **ژباړه:** او قرآن په ترتیل او تجوید سره ولوله.

۵- د قرآن کریم تبلیغ او نورو ته د هغه د احکامو، تعلیماتو، ارزښتونو او پیغام رسول. دا خبره د پام وړ ده چې د قرآن تبلیغول او په مختلفو سطحو کې د هغه د مفاهیمو، علومو او ارزښتونو خپرول د ټولو مسلمانانو (که هغه نارینه وي یا ښځینه، ټولنه وي او یا حکومت) دنده او مکلفیت دی. الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ﴾ [المائدة: ٦٧] **ژباړه:** ای رسوله، هغه څه خلکو ته ورسوه چې ستا د رب له لورې پر تا نازل شوي دي.

۶- د قرآن د احکامو او تعلیماتو پلي کول، د الله تعالی د کتاب په وړاندې د مسلمان په فردي او ټولنیز ژوند کې ترټولو مهم مسؤولیت او مکلفیت د قرآن کریم د اوامرو د تطبیق اوپلي کولو لپاره مخلصانه هڅه او هاند دی، څکه قرآن کریم د تطبیق او عملي کولو په خاطر نازل شوی دی. الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا﴾ [النساء: ۱۰۵] **ژباړه:** موږ تا (محمدﷺ) ته قرآن په حقه نازل کړی دی تر څو د الله ﷻ د لارښوونو په رڼا کې د خلکو ترمنځ پریکړې وکړې او هېڅکله د خاینانو لپاره جګړه کوونکی مه کیږه.

ketabton.com - The Digital Library

الله تعالى دې ټولو مسلمانانو ته د قرآن كريم د سم تلاوت، ژورې پوهې، په احكامو او تعليماتو د عمل كولو او د قرآن تر سيوري لاندې د نيكمرغه ژوند كولوتوفيق وركړي.

د لوست ګټې او لارښوونې

۱- قرآن په هر وخت او هر ځای کې د ټول بشريت هادي او لارښود دی.

۲- قرآن يو نړيوال كتاب دی او د كومو ځانګړو خلكو او يا ځانګړې ډلې لپاره نه دی رالېږل شوی.

۳- قرآن كريم له تغير او تبديل نه محفوظ او مصئون دی او هيڅوک نشي كولی په هغه کې تحريف او بدلون راوليِ.

۴ـ د قرآن كريم خدمت، د هغه حفظ كول، په هغه پوهيدل، د هغه تبليغ او تطبيق د ټولو مسلمانانو دنده او رسالت دی.

۵ـ د قرآن كريم د نزول او د نبي كريمﷺ د بعثت مقصد د كفر له تيارو، شرک، جهل او له اعتقادي او عملي مفاسدو څخه د خلكو را ايستل دي.

پوښتنې

۱- مقطعه توري يعنې څه؟ د تفسير علماء د دې تورو د معنا په اړه څه نظر لري؟

۲- ولې په دغه مبارک آيت کې د تياري لپاره د جمعې صيغه او د رڼا لپاره د مفرد صيغه کارول شوې ده؟

۳ـ په دې مبارک آيت کې د اللهﷻ له لارې نه مقصد څه شی دی؟

۴ـ د دې مبارک آيت کومه برخه د قرآن کريم په نړيوالتوب او هميشه والي باندې دلالت کوي؟

۵ـ د دی مبارکو آيتونو لنډ او اجمالي تفسير بيان کړئ.

۶ـ په دې لوست کې په قرآن سره د قرآن د تفسير دوه نمونې بيان کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د قرآن په وړاندې د مسلمانانو د مسئوولت په هکله يوه مقاله وليکي. بيا دې په ټولګي کې د ښوونکي په مرسته او لارښوونه د دې موضوع په اړه خبرې وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

دريم لوست

د شورا ارزښت

قال الله تعالى: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾ [آل عمران: ١٥٩]

د كلمو معنا

{لِنْتَ}: نرم شوي.

{فَظًّا}: بد خويه.

{غَلِيظَ الْقَلْبِ}: د سخت زړه خاوند.

{لَانْفَضُّوا}: هرو مرو به خواره شوي وو.

{شَاوِرْهُمْ}: مشوره وكړه له هغوی سره.

{عَزَمْتَ}: هوډ(قصد) دې وكړ.

{فَتَوَكَّلْ}: نو توكل وكړه.

{يُحِبُّ}: خوښوي.

ژباړه

نو د الله ﷻ د مهربانۍ له امله نرم شوې ته د هغوی(صحابه وو) لپاره او كه وای ته بد خويه سخت زړی، هرو مرو به دوی ستا له شاوخوا نه خپاره شوي وو. نو هغوی ته عفوه وكړه او د هغوی لپاره بښنه وغواړه او په كار كې له هغوی سره مشوره وكړه او كله چې هوډ وكړ تا، نو توكل وكړه په الله ﷻ بې شكه الله ﷻ خوښوي توكل كوونكي.

تفسير

د آيت شرح او څيړنه

پورتنی مبارك آيت د (آل عمران) د سورت له آيتونو څخه دی. د (آل عمران) سورت په مدينه منوره كې نازل شوی دی. دغه سورت د نورو مدني سورتونو په څير د اسلامي

ketabton.com - The Digital Library

ټولنې د چارو د تنظیم لپاره په ډېرو احکامو او تعلیماتو مشتمل دی. یو له دغو احکامو څخه چې په دې سورت کې بیان شوی دی، د (شورا) حکم دی.

دغه مبارک آیت دهغو آیتونو په لړ کې نازل شوی دی چې د احد په غزوې پورې (چې د هجرت په دریم کال پیښه شوه) تړاو لري. په دې آیت کې پیغمبرﷺ ته خطاب شوی دی؛ خو د اطاعت او پیروی د اصل پر بنسټ د پیغمبرﷺ امت په هغه سره د خطاب وړ ګرځېدلي دي او د دی مبارک آیت د احکامو د مقتضا په عملي کولو مکلف دي.

د (ب) توری د {فَبِمَا} په کلمه کې د سبب د بیان، یعنې د پیغمبرﷺ د اصحابو او یارانو په وړاندې د هغه د نرمۍ د سبب د بیان لپاره، چې د الله ﷻ له رحمت او مهربانۍ څخه عبارت دی، راغلی دی.

د [ما] توری دلته د الله تعالی د رحمت او مهربانۍ د تأکید افاده کوي.

غلظت د رقت او نرمۍ ضد دی او د زړه غلظت د سختۍ او نه متأثره کیدلو په معنی دی.

د آیت لومړنۍ برخه یعنې د ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ﴾ جملې د رسول اللهﷺ په یارانو د هغه ﷺ د نرمۍ سبب د الله تعالی رحمت او مهرباني بیان کړې ده او د سخت خویه او سخت زړې صفتونه یې له هغه څخه نفي کړي دي.

د (عزم) کلمه د هوډ او ارادې په معنا ده. الله ﷻ خپل ګران پیغمبرﷺ ته امر کوي وروسته له دې چې دې له خپلو یارانو سره د یو کار په تر سره کولو کې مشوره وکړه او بیا دې تصمیم ونیو، نو پرته له کوم شک او تردد څخه پر الله ﷻ توکل او اعتماد وکړه او کار دې ترسره کړه.

د آیت لنډ مفهوم

د آیت لومړنۍ برخه چې د احد د غزا د آیتونو د سیاق په لړ کې نازل شوې ده په دې کې الله تعالی خپل پیغمبرﷺ د هغه ﷺ له یارانو سره په نرمۍ او شفقت کولو ستایلی دی او له هغه نه د ناوړو صفاتو، بدو خویونو او سخت زړه والي نفي کوي؛ ځکه که چېرې په هغه کې ناوړو صفاتو شتون درلودای، نو دا به له پیغمبرﷺ نه د خلکو د کرکې او لرېوالي لامل شوی وی، له شک پرته دا کار د رسالت د سترې موخې، چې خلکوته د رښتیني بلنې رسول او په ښې طریقې سره د دغې بلنې د قبلولو لپاره د خلکو هڅول دي، مطابقت نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

د آیت په دویمه برخه کې الله تعالی خپل پیغمبرﷺ ته امر کوي چې د خپلو یارانو له تېروتنو څخه تېر شي. دغه تېروتنې د احد د غزا پر مهال رامنځته شوې چې په پایله کې یې مسلمانان ډیر زیات زیانمن شول او ګټلې جګړه یې ظاهراً له لاسه ورکړ. همدارنګه الله ﷻ خپل پیغمبرﷺ ته امر کوي د خپلو یارانو تېروتنې او خطاګانې، چې د احد په غزا کې له هغوی نه شوي دي، وبښي.

په دې آیت کې پیغمبرﷺ ته د الله تعالی له لوري دریم امر مشوره کول دي. الله تعالی خپل پیغمبرﷺ ته امر کوي چې د کارونو په ترسره کولو کې له خپلو اصحابو سره مشوره وکړي او د هغوی نظر واوري. دا حکم یعنې په شورا امر کول د اسلامي ټولنې، حکومت او چارواکۍ د نظام بنسټ جوړوي.

د آیت په پای کې الله تعالی خپل پیغمبرﷺ ته خطاب کوي اوداسې فرمایي، وروسته له دې چې د کارونو په ترسره کولو کې دې مشوره وکړه، نو په الله ﷻ توکل او اعتماد وکړه او پرته له تردد څخه کار ترسره کړه، ځکه الله ﷻ هغه کسان خوښوي چې پر الله تعالی توکل کوي.

د حکیم او پوه لارښود ځینې صفات

په دغه مبارک آیت کې د پیغمبرﷺ اووه صفتونه بیان شوي دي، درې صفتونه یې د وصف او اخبار صبغه لري او څلور نور صفتونه یې د امر په صیغې راغلي. دغه صفتونه په لاندې ډول دي:

- له نورو سره په شفقت او نرمۍ کړنه اوتعامل.
- له خلکو سره له بد خویۍ او بد چلن څخه ځان ساتل.
- له پیغمبرﷺ نه د سخت زړه توب د او صافو نفې کول.
- عفوه او بښنه.
- د عفوې او بښنې غوښتل.
- په چارو کې مشوره کول.
- د چارو په ترسره کولو کې پر الله تعالی توکل او اعتماد لرل.

د قرآن کریم د پورتني آیت د احکامو پر بنسټ مسلمانان د الله تعالی د رسول په پیروۍ مکلف دي. الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ..﴾ [الأنفال:٢٠].

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه: ای مؤمنانو، د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ متابعت او فرمانبرداري وکړئ. ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾ [الأحزاب:۲۱]. **ژباړه:** په یقین سره چې د الله رسول ستاسې د هغو خلکو لپاره ښه او غوره نمونه ده، چې د الله او آخرت د ورځې هیله لري او الله ډېر یادوي.

پېغمبرﷺ د مسلمانانو لپاره یوه ښه اوغوره نمونه ده او هغوی مکلف دي په خپلو اخلاقو، صفاتو او کړنو کې د پېغمبرﷺ پیروي وکړي. سره د دې چې په آیت کې د ذکر شویو صفاتو خپلول پرهر مسلمان لازم دي، خو پر دغو صفاتو باندې د هغو کسانو سمبالیدل ډېر مهم او اړین دي چې د قیادت او لارښوونې په مناصبو کې ځای لري.

د آیت له الفاظو نه څرګندیږي، که چېرې قائد او لارښود، نرم خویه او مهربانه وي او له بدو او ناوړو اخلاقو څخه، چې د خلکو دکرکې لامل ګرځي، ځان وژغوري، نو یقیناً د خلکو زړونه خپلوي، رعیت یې د اوامرو اطاعت کوي او چارې یې په سمه توګه پرمخ ځي. همدارنګه د ملګرو، دوستانو او د ولس له تېروتنو څخه تیریدل، هغوی ته عفوه کول، هغوی ته د برکت، ښېنې او مغفرت دعا کول او د چارو په ترسره کولو کې د هغوی د نظریاتو او مشورو اخیستل د چارو په سمون کې ډېره زیاته اغیزه لري.

ketabton.com - The Digital Library

د شورا ارزښت

شورا يو قرآني بنسټ (اصل) دی

شورا د اسلام په دين کې يو ثابت اصل دی. مسلمانان مکلف دي د الله تعالی د امر د تعميل او له پيغمبر ﷺ څخه د پيروی په خاطر دغه مهم اصل په خپل فردي او ټولنيز ژوند کې مراعات او پلی کړي.

د چارو په ترسره کولو کې مشوره کول، رايه ورکول او د نورو نظرياتو ته غوږ نيول او د هغو شريکولو ته شورا ويل کيږي. د شورا د اهميت په هکله دا بسنه کوي چې په قرآن عظيم الشان کې يو ځانګړی سورت د (الشوری) په نامه نومول شوی دی. په پورتني مبارک آيت کې الله تعالی خپل محبوب پيغمبرﷺ ته، سره له دې چې وحی هم پرې نازلېدله په شورا امر کړی دی، ترڅو د چارو په ترسره کولو کې له خپلو اصحابو سره مشوره وکړي.

ستر تابعي امام حسن بصري د دې آيت په تفسير کې داسې وايي: "د الله تعالی امر خپل پيغمبرﷺ ته په مشوره کولو د دې لپاره نه دی چې ګواکې د يارانو نظر ته يې اړتيا ليدل کيده، بلکې دا امر د دې لپاره دی تر څو مسلمانان د شوری په فضيلت او ارزښت پوه شي، د رسول عليه السلام پسې اقتدا وکړي او د چارو په ترسره کولو کې د هغه پيروي وکړي".

امام قرطبي د پورتني آيت په تفسير کې داسې وايي: "شورا د شريعت له قواعدو او ثابتو او ارزښتناکو احکامو څخه ده. که چيرې مسؤولين او د حکومت چارواکي له ديني علماوو او تجربه لرونکو کسانو سره مشوره ونه کړي، نو له دندې څخه ګوښه کول يې واجب دي".

شورا د اسلامي ټولنې يوه ځانګړتيا ده

په چارو کې مشوره کول نه يوازې د اسلام يو شرعي حکم دی بلکې د مسلمانانو او اسلامي ټولنې له صفاتو او ځانګړ تياوو څخه بلل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

الله تعالى د مسلمانانو د اساسي اوصافو په اړه داسې فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ﴾ [الشورى: ۳۸]. **ژباړه:** او مؤمنان هغه کسان دي چې د خپل رب بلنه يې منلې ده او لمونځ يې اداء کړی (قايم کړی) دی او خپل منځي کارونه يې په مشورې سره دي او له هغه څه نه چې موږ دوی ته ور روزي کړې د الله په لار کې يې مصرفوي.

له دې مبارک آيت نه دا څرګندیږي چې شورا نه يوازې د اسلام د سياسي نظام يو اصل دی، بلکې د هغې ريښې د مسلمانانو په ژوندانه کې ډيرې زياتې ژورې دي. د قرآن کريم له نظره شورا د اسلامي ټولنې له ارزښتناکو مشخصاتو څخه ګڼل کيږي چې په پراخه توګه په مختلفو برخو کې د هغې پلي کول د اسلامي امت فردي او ټولنيز ژوند جوړوي.

رسول الله ﷺ به د چارو په ترسره کولو کې د تجربې او رايې له خاوندانو سره مشوره کوله او شورا ته په ډير لوی ارزښت قايل وو. د شورا د فضيلت او ارزښت په هکله له رسول الله ﷺ نه ډير زيات احاديث روايت شوي دي. د مثال په ډول په يو حديث کې له رسول الله ﷺ نه روايت شوی دی، چې فرمايي : «ما خاب من استخار ولاندم من استشار»[۱] **ژباړه:** څوک چې د کارونو په ترسره کولو کې مشوره وکړي هغه به هيڅکله پښيمانه نشي او څوک چې استخاره وکړي هغه به هيڅکله زيانمن او نا اميده نشي. په بل حديث کې رسول الله فرمايلي دي: «ما شقى قط عبد بمشورة وما سعد باستغناء برأى»[۲] **ژباړه:** چا چې په کارونو کې مشوره وکړه هغه به هيڅکله بدمرغه نشي او چا چې د نظر او رايې له اخيستلو نه استغنا وکړه هغه به هيڅکله هم نيکمرغه نشي.

امام بخاري رحمه الله په دې هکله، چې شورا په اسلامي ټولنه کې يو رايج او دوديز عمل دی، داسې فرمايي:" د پيغمبرﷺ له مړينې وروسته به اسلامي امت په ټولو مباحو او مشروعو امورو کې د امينو عالمانو او پوهانو سره مشوره کوله ترڅو له ټولو نه په آسان شي عمل وشي."

---

۱ – الطبرانی فی المعجم الصغیر و الأسط.

۲ – مسند شهاب باب ماشقی عبد قط بمشورة

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې د مضمون د ښوونکي په مرسته د ټولګي او ښوونځي د ځینو مسائلو په اړه مشوره وکړي.

شورا د اسلامي نظام یو ارزښتناک اصل دی

پرته له شکه شورا په اسلام کې د حکومتي نظام یو ارزښتناک اصل او پیاوړی ستن (رکن) بلل کیږي. پېغمبرﷺ د اسلامي نظام او دولت د لومړني رئیس په توګه په مختلفو حالاتو لکه د بدر، احد، احزاب، حدیبیې او نورو غزواتو کې له خپلو اصحابو، یارانو او پاکو بیبیانو یعنې امهات المؤمنین سره د هغو چارو په هکله، چې په هغو کې د مسلمانانو ښېګڼې نغښتې وې، مشوره کړې ده.

د دې امت سلف صالح یعنې د امت مخکینې مشران لکه خلفای راشدین، صحابه او تابعینو د رسول اللهﷺ په طریقو عمل کړی او د مسلمانانو ارزښتناک او مهم کارونه یې په مشوره ترسره کړي دي.

پرته له شکه د شورا د کمزورۍ او نشتوالي په صورت کې پر ټولنې، حکومتي نظام او د خلکو پر برخلیک ظلم اواستبداد برلاسی کیږي چې په دې سره د چارواکو لپاره د طغیان او زورواکۍ زمینه برابریږي او ټولنه د بد مرغۍ، تېري او بې عدالتۍ کندې ته پریوزي.

د یومفسر په وینا " په کومه ټولنه کې چې د شورا دروازه وټرلې شي په هغې کې د ظلم او تیري دروازه پرانستل کیږي".

یو بل مفسر د دې آیت په تفسیر کې داسې وایي: " د شوری له اصل سره دوه ډوله چارواکي مخالفت کوي: یو هغه چارواکي چې متکبر او مغرور وي، ځان پر نورو لوړ ګڼي او ګومان کوي چې د هیڅا مشورې ته اړتیا نه لري، د ده هرنظر او خبره سمه ده او د نورو نظر ناسم دی. بل هغه چارواکي چې ظالم، مستبد او د حق مخالفت کوي او څه یې چې زړه وغواړي هغه تر سره کوي، ځکه هغه پوهیږي که چیرې له چا سره مشوره وکړي نو خلک به د ده په ظلم، تیري او ناوړو چارو خبر شي. "

سوکاله او نیکمرغه ژوند ته د رسیدلو لپاره که هغه د کورنۍ، ټولنې او یا حکومت په کچه وي د شورا د مهم او حیاتي اصل پلي کول او پر هغې پابندي کول ډیر اړین بلل

ketabton.com - The Digital Library

کیږي. د عدالت پلي کېدل، د خلکو د برخلیک په مسائلو کې د هغوی مشارکت او ونډه اخیستل، په کورنۍ او ټولنه کې د مرستې او ورورګلوۍ د فضا رامنځته کېدل او د ظلم، تیري او اختناق له منګولو نه خلاصیدل او داسې نورې ستونزې پرته له شورا څخه نشي هواریدلی.

د لوست ګټې او لارښوونې

- د پېغمبرﷺ اخلاقی کمال.
- دصحابه وو رضی الله تعالی عنهم فضیلت.
- د مسلمانانو په فردي، ټولنیز او سیاسي ژوند کې د یومهم اصل په توګه د شورا تثبیت.
- وروسته له مشورې او تصمیم څخه له تردد نه ځان ساتل.
- په ټولو چارو کې پر الله تعالی توکل او اعتماد لرل.

پوښتنې

۱- ولې د قرآن کریم په مدني سورتونو کې شرعي احکام زیات دي؟

۲- که چېرې د شورا اصل په ټولنه کې شتون ونه لري، د ټولنې خلک به په کوم ډول ستونزو اخته شي؟

۳- آیا د شورا اصل یوازې په سیاسي نظام پورې تړاو لري او که د ژوندانه په نورو برخو کې هم پلې کیدای شي؟

٤- کوم ډول چارواکي د شورا له اصل سره مخالفت کوي او ولې؟

٥- د نیک اوصالح لارښود او چارواکي لپاره د ځینو اړینو صفاتو نومونه واخلئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له آیت او حدیث نه په استفادې سره د شورا د ارزښت او په ټولنه کې د هغې د تطبیق کیدو په هکله یوه مقاله ولیکي چې له دوو مخونو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

پنځم لوست

د انبياوو مقام

قال الله تعالى: ﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ [الحديد: ٢٥]

د کلماتو معنا

{رُسُلَنَا}: زمونږ رسولان.

{بالْبَيِّنَاتِ}: په ښکاره او څرګندو نښانو (دلايلو او معجزاتو).

{الْمِيزَانَ}: تله.

{بالْقِسْطِ}: په انصاف او عدل.

{الْحَدِيد}: اوسپنه.

{بَأْسٌ}: جنګ، ډېر زور او طاقت.

{عَزِيز}: برلاسی، غالب.

ژباړه

مونږ په رښتيا خپل رسولان له روښانه او څرګندو نښو (دلايلو) سره ولېږل، له هغو سره مو کتاب او تله نازل کړل، ترڅو خلک په انصاف ولاړ وي، او راښکته کړې (پيدا کړې) ده مونږ اوسپنه چې په هغې کې ډېر زور دی او جنګ پرې کېدای شي او خلکو ته پکې ډېرې ګټې پرتې دي، ترڅو معلومه کړي، الله، چې څوک د هغه له ليدلو پرته د هغه او د هغه د رسولانو مرسته او ملاتړ کوي. بې شکه الله ډېر ځواکمن او برلاسی دی.

تفسير

د آيت شرح او څېړنه

پورتنی مبارک آيت د سورة (الحديد) له مبارکو آيتونو څخه دی چې په مدينه منوره کې نازل شوی دی. د (بينات) کلمه د (بينة) جمع ده. دلته د هغو دلايلو او نښانو په معنا ده چې د پېغمبرانو (کوم چې د الله تعالى له خوا مونږ ته رالېږل شوي) په رښتينولۍ دلالت کوي، چې د هغو له جملې څخه د پېغمبرانو حسي معجزې هم دي.

په مبارک آيت کې له کتاب څخه موخه ټول اسماني کتابونه دي چې پر پېغمبرانوعليهم السلام باندې نازل شوي لکه تورات، انجيل، زبور او قرآن.

ketabton.com - The Digital Library

(ميزان) عبارت له تلې څخه دی چې د يو شي د تللو لپاره کارول کيږي، دلته ترې موخه د خلکو ترمنځ په احکامو او معاملاتو کې عدالت کول دي. تله له عدل او انصاف څخه استعاره ده چې د معقول تشبيه په محسوس سره شوې ده يعنې د عدل او انصاف تعبير په تلې شوی دی. د تلې رالېږل د خلکو په منځ کې د عدالت او انصاف د تبليغ او خپرولو په معنا دی.

د {قسط} لفظ د عدل معنا ورکوي او ټولو چارو ته شاملېږي. د اوسپنې له رالېږلو څخه مراد د هغې پيدا کول او د خلکو د ګټې لپاره د هغې چمتو کول دي.

له ﴿بَأْسٌ شَدِيدٌ﴾ څخه د اوسپنې قوت او ځواک مراد دی چې ګټه او تاوان دواړه په هغې کې نغښتي دي. د اوسپنې له منفعت څخه مراد له هغې نه د ژوند په مختلفو اړخونو لکه د سامان آلاتو د جوړولو او داسې نورو برخو کې ګټه اخيستل دي.

له ﴿وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ﴾ څخه مطلب د اثارو د څرګندېدلو له لارې د الله تعالی د علم ظاهرېدل دي چې د پېغمبرانو او اسمانی کتابونو د رالېږلو او په خلکو کې د عدالت د حاکمولو او له اوسپنې نه د ګټې په اخيستلو سره تحقق مومي.

دغه مبارک آيت د الله تعالی د دوو صفتونو "قوی" او"عزيز" په يادولو سره پای ته رسېږي، يعنې الله تعالی هغه قوي او غالب ذات دی چې هېڅکله هم ماتې نه خوري او نه هم مغلوبيږي.

د آيت لنډ مفهوم

په دی مبارک آيت کې الله تعالی د دې لارښوونه کوي، مور رسولان د څرګندو او روښانو دلايلو، معجزاتو سره ولېږل او پر هغوی مو هغه کتابونه نازل کړل چې د شريعت پر احکامو مشتمل دي او تله مو د عدالت لپاره نښه و ګرځوله، تر څو خلک په خپلو چارو او معاملاتو کې د انصاف خيال وساتي.

همداراز د دی يادونه کوي مور اوسپنه پيدا کړې ده چې په هغې کې ډېر زور او طاقت دی او د خلکو لپاره په هغې کې ډېرې ګټې دي، ترڅو الله تعالی خپل علم هغوخلکو ته ظاهر کړي چې په غيب سره د الله او د هغه د رسول مرسته او ملا تړ کوي. پرته له شکه الله تعالی هغه قوي او غالب ذات دی چې هېڅکله هم نه مغلوبيږي.

ketabton.com - The Digital Library

د پېغمبرانو رالېږلو ته د بشر اړتيا

د دې لوست مبارک آيت د قرآن عظيم الشان د هغو آيتونو له جملې څخه دی چې د انبياوو عليهم السلام د بعثت او د بعثت د ځينو موخو په اړوند راغلي دي. بندګانو ته د پېغمبرانو رالېږل پر هغوی باندې د الله تعالی ستر نعمت دی ځکه چې پېغمبرانو عليهم الصلاة السلام د هدايت د بلو ډيو په څېر د تاريخ په مختلفو پړاوونو کې خلکو ته د کفر او جهل له تيارو څخه د علم او ايمان د رڼا په لور د وتلو لارښوونه کړې ده.

لکه څرنګه چې انسان د خپل پايښت او روغتيا لپاره هوا او خوړو ته اړتيا لري همدارنګه د الله تعالی هدايت، چې د پېغمبرانو له لارې انسانانو ته رسيږي، په دنيا کې د هغوی د نېکمرغۍ اساس او په آخرت کې له اور نه د خلاصون لپاره اړين بلل کيږي. ځکه د سمې او نا سمې لارې توپيرکول، حق له باطل نه بېلول، د ايمان او الحاد ترمنځ توپيرکول او اسلام له کفر نه جلاکول يوازې اويوازې د الهي وحي د لارښوونو له لارې چې د پېغمبرانو په واسطه انسانانو ته وړاندې کيږي، ممکن دی.

الله تعالی د پېغمبرانو د رالېږلو سبب داسې بيان کړی دی:﴿كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ..﴾ [البقرة: ۲۱۳]. **ژباړه:** ټول خلک يو امت وو، نو پاک الله زيري ورکوونکي او ډاروونکي پېغمبران واستول او نازل يې کړ له هغوی سره کتاب په حقه ترڅو پريکړه وکړي د خلکو په مينځ کې په هغه څه کې چې اختلاف يې پکې کړی و.

د دې مبارک آيت پر اساس د ځمکې لومړني کسان د حق او رښتيني دين پيروان وو، خو د وخت په تيريدلو سره د دوی ترمنځ شخړې او خپلمنځي اختلافات زيات شول او د سمې لارې په پرېښودلو يې په ځمکه کې د تېري او فساد لاره اختياره کړه. الله تعالی د دوی د اصلاح او هدايت لپاره پېغمبران راولېږل چې په دې سره د پېغمبرۍ لړۍ پېل شوه.

له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې فرمايي: «**كان بين آدم و نوح عشرة قرون، كانوا على الحق حتى اختلفوا فبعث الله إليهم نوحا و النبيين من بعده**»[1]

ژباړه: د آدم او نوح عليهما السلام ترمنځ د زمانې واټن (فاصله) لس پېړۍ وه. د دې مودې په لړ کې خلکو په سمې او رښتينې لارې ژوند تيراوه. وروسته د خلکو تر منځ اختلافات او شخړې پيدا شوې، نو له دې امله الله ﷻ نوح او نور پېغمبران عليهم الصلاة و السلام د دوی د هدايت او لار ښوونې لپاره راولېږل.

---

[1] – المستدرک على الصحيحين تفسير سورة حم عسق

ketabton.com - The Digital Library

د انبياوو مقام

نبوت الهي ورکړه ده

د قرآن کريم د آيتونو او مبارکو احاديثو له نصوصو نه دا څرګندېږي چې نبوت د الله تعالى ورکړه ده او د هيڅا په هڅه او هاند سره دا مقام چاته نه حاصليږي. دې ستر مقام ته د رسيدلو لپاره دنيوي اسباب او عوامل لکه د انسان غوښتنه، وراثت، ځانګړې هڅه او هاند، بشري ذکاوت او نبوغ، مال او عزت، کورنی مقام، ټولنيز مقام او داسې نور لاملونه کوم تاثير نه لري. الله تعالى په دې اړه فرمايي: ﴿اللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ﴾ [الحج: ٧٥]. **ژباړه:** الله له ملايکو او انسانانو نه استازي غوره کوي، بې شکه الله ښه اورېدونکی او د هر څه ليدونکی دی.

همدارنګه الله تعالى په بل آيت کې د ځينو پېغمبرانو عليهم الصلاة و السلام ستاينه کوي او داسې فرمايي: ﴿وَإِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ﴾ [ص: ٤٧] **ژباړه:** او بې شکه هغوی زمونږ په وړاندې له غوره کړو شوو ښو خلکو څخه وو.

پېغمبران د الله تعالى غوره بنده ګان دي

انبياء عليهم السلام د ځمکې پر سر د الله تعالى غوره بنده ګان دي. د پېغمبرانو عليهم السلام ژوند د انساني ژوندانه په ټولو اړخونو کې د لوړو پوړيو د کمال يو څرګند عيني مثال دی. د دغو کمالاتو موجوديت د انبياوو عليهم السلام د رسالت له درندې او ارزښتناکې دندې سره مطا بقت لري، ځکه چې پېغمبران عليهم السلام د خلکو او ټولنې د لارښوونې دنده پر غاړه لري او د بشري ټولنې د غوره کسانو په توګه بايد دوی د هغو بشپړو صفاتو خاوندان وي چې هغه په نورو انسانانو کې موندل کيدای نشي.

الله تعالى د ځينو پېغمبرانو په ستاينې او وصف کې داسې فرمايي:

﴿وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ﴾ [الأنبياء: ٧٣]. **ژباړه:** او ګرځولي وو مورږ هغوی (په مخکني آيت کې ياد شوي پېغمبران) امامان چې زمونږ په امر به يې (خلکو ته) لار ښوونه کوله او وحي کړې وه مورږ

ketabton.com - The Digital Library

په لور د هغوی د نیکو کارونو ترسره کول او اداء کول د لمانځه او ورکړه د زکات او هغوی زمونږ عبادت کوونکي وو.

د پیغمبرانو علیهم السلام مهم صفات، چې په څرګند ډول په قرآن کریم کې راغلي دي، په لاندې ډول دي:

- صدق او رښتینولي.
- تبلیغ او بلنه.
- امانت.
- ذکاوت.
- له هغو نیمګړتیاوو نه لرل چې د خلکو د کرکې لامل ګرځي.
- د پیغمبرانو علیهم السلام پاکي او عصمت له ګناه نه او د وحي په رسولو کې له تېروتنې څخه.

فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته، پیغمبرانو ته د بشر اړتیا او د پیغمبرانو د اوصافو په اړه علمي خبرې اترې وکړي.

د پیغمبرانو دندې

د قرآن عظیم الشان د نصوصو په رڼاکې د انبیاوو علیهم السلام سترې او مهمې دندې په لاندې ډول دي:

۱. د الله تعالی د پېژندنې، توحید او عبادت په لور د خلکو دعوت، الله تعالی په قرآن عظیم الشان کې په دې اړه داسې فرمایي: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ﴾ [الأنبياء: ۲۵]. **ژباړه:** اونه دی لېږلی مورږ (ای پیغمبره) له تا نه وړاندې هېڅ استازی مګر وحي کړې مورږ د هغه په لور چې پرته له ما نه بل معبود نشته نو یوازې زما عبادت وکړئ.

۲. خلکو ته د الله تعالی د اوامرو او نواهیو رسول او تبلیغ کول، الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ..﴾ [المائده: ٦٧]. **ژباړه:** ای رسوله، هغه څه خلکو ته ورسوه چې ستا د رب له لوري پر تا نازل شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

٣. د سمې او نېغې لارې په لور خلکو ته لارښوونه کول، الله تعالی په دې اړه داسې فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا. وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا﴾ [الأحزاب: ٤٦]. **ژباړه:** ای پېغمبره، موږ ته شاهد، زيری ورکوونکی، ډاروونکی او د الله په حکم د هغه لوري ته بلونکی لېږلی يې او روښانه څراغ مو ګرځولی يې.

٤. د بشر لپاره غوره نمونه: الله تعالی فرمايي: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ..﴾ [الأحزاب: ٢١]. **ژباړه:** په يقين سره ده ستاسې لپاره په (کړنو) د رسول الله کې ښه او غوره نمونه (اقتدا) ده.

٥. خلکو ته د هغوی د خلقت او پيدايښت او وروستني برخليک يادونه او دا چې وروسته له مرګ نه انسان ته څه پېښيږي، الله تعالی فرمايي: ﴿يَا مَعْشَرَالْجِنِّ وَالْإِنْسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِنْكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي وَيُنْذِرُونَكُمْ لِقَاءَيَوْمِكُمْ هَذَا...﴾ [الأنعام:١٣٠]. **ژباړه:** ای ډلې د پيريانو او انسانانو، ايا نه وو راغلي تاسې ته رسولان له تاسې نه چې بيانول به يې پر تاسې آيتونه زما او تاسې يې ډاروئ د دې ورځې له ملاقات څخه.

٦. د آخرت د ژوندانه په لور د بشر پام اړول او د فاني دنيا د ژوندانه په خوندونو کې له ډوبيدو نه د هغوی ژغورل، چې د سترګو په رپ سره تيريږي او له منځه ځي. الله تعالی د دنيايي ژوند او د هغه د زوال په هکله داسې فرمايي: ﴿وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ﴾ [الأنعام: ٣٢]. **ژباړه:** او نه دی ژوند د دنيا، مګر لوبه او عبث او بې شکه. د آخرت کور غوره دی لپاره د هغو کسانو چې پرهېزګاري کوي، ايا تاسې عقل په کار نه اچوئ ؟

٧. پر خلکو د اتمام حجت او دليل قائمولو لپاره، الله تعالی فرمايي: ﴿رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا﴾ [النساء: ١٦٥]. **ژباړه:** رسولان زيري ورکونکي او ډاروونکي (لېږل شوي)دي ترڅو د هغو له لېږلو وروسته د خلکو سره د الله په مقابل کې کوم حجت او دليل پاتې نشي او الله په هر حال غالب او حکيم دی.

ketabton.com - The Digital Library

د پېغمبرانو علېهم السلام شمېر او د ځېنو نومونه

د يو حديث پر اساس د پېغمبرانو علېهم الصلاة و السلام شمېر زيات او کم يو لک او خلرويشت زرو ته رسيږي. د الله تعالى دغه غوره بنده ګان په مختلفو زمانو کې د خلکو د هدايت او لارښوونې لپاره رالېږل شوي وو.

د قرآن عظيم الشان د نصوصو له مخې هېڅ داسې امت او ډله نشته چې هغوی ته پېغمبر نه وي لېږل شوی. الله تعالى په قرآن عظيم الشان کې په دې اړه داسې فرمايي: ﴿وَإِنْ مِنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ﴾ [فاطر: ٢٤]. **ژباړه:** او هېڅ داسې کوم امت نه شته چې په هغوی کې ډاروونکی(پېغمبر) نه وي راغلی. په قرآن عظيم الشان کې د (٢٥) پېغمبرانو نومونه يادشوي چې عبارت، دي له: آدم، نوح، ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب، داود، سلېمان، ايوب، يوسف، موسى، هارون، زکريا، يحيى، ادريس، يونس، هود، شعيب، صالح، لوط، الياس، اليسع، ذوالکفل، عيسى او محمد صلوات الله عليهم اجمعين.

په قرآن عظيم الشان کې الله تعالى مسلمانانو ته امر کوي چې پر ټولو پېغمبرانو علېهم السلام باندې ايمان راوړي چې نومونه يې په قرآن کريم کې ذکر شوي او که نه. پېغمبرانو علېهم السلام باندې ايمان راوړل د عقيدې او ايمان له ارکانو څخه يو رکن دی او هېڅوک هم پر ټولو انبياوو علېهم السلام باندې له ايمان راوړلو پرته مسلمان بلل کېدای نشي. الله تعالى فرمايي: ﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ...﴾ [البقره: ٢٨٥]. رسول او مؤمنانو پر هغه څه ايمان راوړی دی چې رسول ته د هغه د رب له لوري رالېږل شوي دي. دوی ټولو په الله او د هغه په ملايکو، کتابونو او رسولانو ايمان راوړی دی.(او وايي) مونږ د الله په پېغمبرانو کې يو تر بله هېڅ توپير نه کوو. يعنې داسې نه کوو چې پرځېنو پېغمبرانو ايمان راوړو او د ځېنو نورو له نبوت نه منکرشو.

محمد ﷺ خاتم النبيين

محمد بن عبدالله ﷺ خاتم النبيين دی او د ده ﷺ په بعثت سره د نبوت لړۍ ختمه او بشپړه شوه او وروسته له هغه څخه د الله تعالى له لوري نه کوم پېغمبر او نه کوم کتاب رالېږل

ketabton.com - The Digital Library

کیږي. د پیغمبرﷺ له رحلت وروسته د وحي نازلېدل هم بند شو.که چېرې څوک د نبوت دعوه وکړي نو هغه کس دروغجن دی.

قرآن عظیم الشان د ختم نبوت په اړه او دا چې حضرت محمد ﷺ خاتم النبیین دی داسې فرمایلي دي:﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا﴾ [الأحزاب: ٤٠]. **ژباړه:** محمد ستاسې د سړیو د هېڅ یوه پلار نه دی، بلکې د الله رسول او اخرنی پیغمبر دی او الله پر هر څه ښه پوه او عالم دی.

د قرآن کریم د آیتونو او نبوي احادیثو پر اساس ټول انسانان د الله تعالی له لوري مکلف دي چې پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې د وروستني پیغمبر په حیث ایمان راوړي او د هغه ﷺ فرمانبرداري وکړي. څوک چې د محمد ﷺ په نبوت او رسالت ایمان نه را وړي هغه کس کافر دی او په آخرت کې به د دوزخ په اور کې سوځي.

د لوست ګټې او لارښوونې

❖ الله ﷻ د زمانې په هر پړاو کې د بندګانو د هدایت او لارښوونې لپاره انبیاء علیهم السلام را لیږلي دي.

❖ د انبیاوو علیهم السلام بعثت د الله تعالی له لوري پر انسانانو د هغه د رحمت او مهربانۍ نښه ده.

❖ لکه څرنګه چې انسان د خپل پایښت او روغتیا لپاره هوا او خوړو ته اړتیا لري په همدې توګه د پیغمبرانو وجود هم د بشر د لارښوونې لپاره اړین بلل کیږي.

❖ انبیاء علیهم السلام ټول د بشر له جنس څخه وو. دوی ټول نیک او غوره انسانان وو. نور انسانان که هر څومره غوره او نیک اعمال ترسره کړي بیا هم د انبیاوو مرتبې او مقام ته نشي رسېدای.

❖ پیغمبران علیهم السلام له ګناه نه معصوم او پاک دي او د دین او رسالت په تبلیغ کې هیڅکله نه سهوه کیږي او نه هم تېروځي.

❖ پر پیغمبرانو علیهم السلام باندې ایمان راوړل د عقیدې او ایمان له ارکانو څخه یو رکن دی. که څوک د یو پیغمبر له نبوت نه منکر شي. هغه کافر دی.

ketabton.com - The Digital Library

❖ حضرت محمد ﷺ آخري پېغمبر دی. وروسته له هغه څخه بل کوم پېغمبر نه راځي. ټول انسانان د الله تعالی له لوري مکلف دي چې پرحضرت محمدﷺ باندې د وروستني پېغمبر په حیث ایمان راوړي او د هغه ﷺ فرمانبرداري وکړي.

❖ له پېغمبرﷺ سره مینه اومحبت لرل، د هغه اطاعت کول، د هغه عزت او درناوی، د هغه ﷺ په سیرت او سنتو پوهېدل، د هغهﷺ له عظیم الشأن لوړمقام، مرتبې او شخصیت نه دفاع کول او ټولو نړیوالو ته د اسلام د سپېڅلي دین تبلیغ د هر مسلمان سړي او مسلمانې ښځې اسلامي او شرعي وجیبه ده.

❖ د مسلمانانو مکلفیت د پېغمبرﷺ په وړاندې چې له هغه سره د مینې او دوستۍ د اظهار علامت دی او د مسلمانانو لپاره د اجر او ثواب حاصلولو لامل ګرځي. هغه پر پیغمبرﷺ باندې د زیات درود ویل دی. کله چې د پیغمبرﷺ مبارک نوم یاد شي مستحب دی چې پر هغه ﷺ باندې درود وویل شي.

پوښتنې

۱.ولې د پیغمبرانو علیهم السلام رالېږل د بشریت لپاره اړین بلل کیږي؟ څرګند یې کړئ.

۲.د پیغمبرانو علیهم السلام مهمې دندې کومې دي؟ ځینې یې بیان کړئ.

۳.دا څه حکمت دی چې پېغمبران علیهم السلام د بشر له جنس څخه دي؟

٤.که څوک پر ځینو پېغمبرانو علیهم السلام ایمان راوړي او د ځینو نورو له نبوت نه منکر شي، د هغه حکم څه شی دی ؟

۵.د پېغمبرﷺ په وړاندې د مسلمان دنده او مسئوولیت څه شی دی؟ څرګند یې کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د آیتونو او حادیثو په رڼا کې د پېغمبرانو د اوصافو او دندو په اړه یوه مقاله وليکي چې له (۲۰) کرښو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

اووم لوست

اسلام غوره دین دی

قال الله تعالى: ﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَمَنْ يَكْفُرْ بِآيَاتِ اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ۞ فَإِنْ حَاجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ وَقُلْ لِلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ وَالْأُمِّيِّينَ أَأَسْلَمْتُمْ فَإِنْ أَسْلَمُوا فَقَدِ اهْتَدَوْا وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ﴾ [آل عمران:١٩-٢٠].

د کلمو معنا

{الدِّينَ}: شریعت او ملت.

{الْإِسْلَامُ}: تسلیمېدل، غاړه ایښودل، د اسلام دین.

{بَغْيًا}: د کینې او رڅې له مخې.

{حَاجُّوكَ}: شخړه کوي له تا سره، دلایل وړاندې کوي.

{أَسْلَمْتُ}: ما سپارلی دی، تسلیم او منقاد یم.

{اهْتَدَوْا}: لیار یې وموندله، هدایت یې وموند.

{تَوَلَّوْا}: وګرځېدل هغوی، سر غړونه یې وکړه.

{الْبَلَاغُ}: رسونه، تبلیغ.

ژباړه

بې شکه د الله په وړاندې (ترټولو غوره) دین اسلام دی او اختلاف نه دی کړی(د اسلام د قبلولوپه اړه) هغو کسانو چې کتاب ورکړ شوی دی(اهل کتابو) مګر وروسته له هغه چې علم او پوهه ورته راغله (یعنې په حقیقت پوه شول) خو د خپل منځي کینې او حسد له کبله یې اختلاف ته ملا وترله. څوک چې د الله تعالی له آیتونو نه منکر شي (نو پوه دې شي چې) الله پاک ډېر ژر حساب کوونکی دی. که (د کبر له مخې) دوی له تا سره(ای محمده) جګړه کوي نو ووایه سپارلی دی ما خپل مخ خاص لپاره د الله تعالی(د الله حکم ته تسلیم اومنقاد یم) او زما ملګري (متابعت کوونکي)هم هغه ته تسلیم دي او ووایه هغو کسانو ته چې ورکړل شوی دی کتاب او نالوستو ته آیا اسلام مو راوړی دی؟ که اسلام یې راوړ نوپه تحقیق سره سمه او نېغه لاره یې وموندله او که وګرځېدل او

ketabton.com - The Digital Library

سرغړونه يې وکړه، نو بې شکه پرتا(يوازې د حق) رسونه ده. او الله پاک خپل بنده ګان بنه وينې.

تفسير

د مبارکو آيتونو شرح او څېړنه

د(**دين**) کلمه په لغت کې د جزا او بدل په معنا ده او دلته له (دين) نه مطلب عقايد او هغه احکام دي چې د الله تعالى له لوري پرحضرت محمد ﷺ نازل شوي دي نو دين په دې مبارک آيت کې د ملت او شريعت په معنا دی.

(**اسلام**) د تسليمېدلو او انقياد په معنا دی او دلته له (**اسلام**) نه مراد هماغه حنيف دين دی چې محمد ﷺ د ټول بشريت لپاره راوړی دی.

د (**عند الله**) جمله د عربي ژبې د قانون او دستور له مخې حذف شوې کلمې لکه (ثابت) يا (مقبول) پورې تړاو لري، يعنی د الله په وړاندې ثابت او مقبول دين. د(**عند الله**) په جمله کې د اسلام د دين نسبت الله ﷻ ته، د دغه دين په شرف او غوره والي دلالت کوي اومعنا يې داسې ده چې اسلام د الله ﷻ هغه دين دی چې د خپلو بندګانولپاره يې غوره کړی دی. د دې وينا پر بنسټ د ﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ﴾ **ژباړه:** يوازينی غوره او معتبر دين د الله تعالى پر وړاندې د اسلام دين دی، يعنی هغه شريعت چې محمد ﷺ له ځان سره راوړی دی.

د﴿الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ﴾ **په** جمله کې مراد له (**کتاب**) څخه هغه آسماني کتابونه دي چې مخکې له قرآن کريم څخه نازل شوي وو لکه د تورات او انجيل کتابونه. د دغو کتابونو پيروانو ته اهل کتاب (يهود او نصارى) ويل کيږي. د ﴿إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ﴾ په جمله **کې** له (**علم**) نه مراد د وروستني پېغمبر په حيث د حضرت محمد ﷺ د پېغمبرۍ پرحقانيت د اهل کتابو د علم او پوهې حاصلېدل دي. د(**بغيا**) کلمه دلته د کينې اوحسد په معنا ده. د ﴿وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ﴾ **د** جملې مفهوم دا دی چې: د اهل کتابو مخالفت د اسلام له دين يعنې له هغه څه سره چې حضرت محمد ﷺ راوړی دی، د پېغمبر د رښتينولی او د اسلامي دين له حقانيت نه د جهل او بې علمی له مخې نه دی، بلکې دغه مخالفت د علم له حاصلېدلو نه وروسته د حسد له امله دی.

ketabton.com - The Digital Library

د (**كفر**) كلمه په لغت كې د انكار په معنا ده او دلته تړې مراد د حضرت محمد ﷺ له نبوت نه انكار كول او د اسلام نه منل دي.

د ﴿فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾ په جمله كې د هغو كسانو لپاره چې د اسلام او خاتم النبيين له پېغمبرۍ نه انكار كوي يو ډول وعيد او تهديد وجود لري، يعنې هغه كسان چې كفر او سرغړونه كوي، الله تعالى له هغوى سره محاسبه كوي او د الله تعالى محاسبه ډېر ژر ده چې دلته د حسا ب سرعت د عذاب په سختۍ دلالت كوي.

له﴿حَاجُّوكَ﴾ څخه مراد د پېغمبر ﷺ سره د اهل كتابو عناد، سرغړونې، جګړې او د اسلام د سپېڅلي دين پر ضد د هغوى غليمانه ناسم تعبيرونه دي.

د ﴿أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ﴾ د جملې معنا د الله تعالى احكامو او اوامرو ته غاړه ايښودل اوتسليمېدل دي او دلته (**وجه**) د ذات اوځان په معنا ده، يعنې ما خپل ځان د الله حكم ته تسليم او منقاد كړ. د ﴿فَإِنْ حَاجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ﴾ جملې مفهوم دا دى چې كه چېرې كفار او اهل كتاب او د دوى په څېر نور خلك له تا سره د عناد، تكبر او غرض په مقصد شخړې او جګړې ته ملا وتړي نو د هغوى د دروغو او تكبر پروا مه ساته او هغوى ته ووايه چې زه او زما پيروان د الله تعالى اوامرو او احكامو ته تسليم يو.

له ﴿الْأُمِّيِّينَ﴾ نه مراد هغه كسان دي چې د هېڅ كوم كتاب پيروان نه دي يعنې د عربو مشركان. د﴿فَإِنْ أَسْلَمُوا فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾ جمله هغه ګټه او فايده بيانوي چې اهل كتاب او مشركين يې د اسلام د سپېڅلي دين د قبلولو په صورت كې ترلاسه كوي، ځكه چې هغوى د الله تعالى د اوامرو په عملي كولو او د اسلام د سپېڅلي دين په قبلولو سره سمه او نېغه لاره مومي او د كفر او شرك له تيارو نه بهر راووځي.

د﴿وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ﴾ په جمله كې د پېغمبرعليه الصلاة و السلام د زړه لپاره تسليت دى او معنا يې داسې ده: كه چېرې كفار د اسلام د سپېڅلي دين له منلو نه منكر شي او سر غړونه وكړي، نو اى محمده، په دې سره تاته هېڅ ضرر او تاوان نشته، ځكه تا خپله دنده، چې خلكو ته د سپېڅلي دين تبليغ و، په سمه توګه تر سره كړى دى.

دغه مبارك آيتونه د﴿وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ﴾ په جملې سره پاى ته رسيږي چې دغه جمله پر وعده او وعيد دواړه مشتمله ده، يعنې نيك عملو مؤمنانو ته د اجر او ثواب وركولو وعده او كافرانو ته د سخت عذاب تهديد، ځكه چې الله تعالى د بندګانو پركړنو او زړونو خبر دى او هر چا ته د هغه د كړنې او عمل سره سم جزا وركوي.

ketabton.com - The Digital Library

دآيتونو لنډ مفهوم

يوازيني دين چې الله تعالى يې خوښوي او پر ټولو پيغمبرانو يې نازل کړى دى او پرته له هغه بل دين نه قبلوي هغه د اسلام سپېڅلى دين دى. د اسلام دين د الله تعالى اوامرو او احکاموته د غاړه ايښودلو يعنې د الله تعالى بندګى، فرمان برداري او د هر عصر د پيغمبرانو د بعثت پر مهال د هغوى اطاعت کولو ته ويل کيږي. د پيغمبرانو د لړۍ وروستنى پيغمبر حضرت محمد ﷺ دى چې ټول انسانان بايد د ده د سپېڅلي دين اسلام چې د ټولو انبياوو د اديانو بشپړ شکل دى پيروي وکړي. الله تعالى د پيغمبر ﷺ له بعثت وروسته پرته له اسلام نه بل هيڅ دين نه قبلوي. د اسلام د منلو په هکله د اهل کتابو يعنې يهودو او نصاراؤ اختلاف او په مختلفو ډلو د هغوى ويشل کېدل، دا د هغوى د حسد، په دنيا پورې د هغوى د زړه تړلو او مقام حاصلولو له امله دى چې وروسته د دلايلو له وړاندې کولو او د پيغمبرانو او کتابونو له رالېږلو، يعنې د اسلام د دين پر حقانيت او د وروستني پيغمبرﷺ پر ربښتينولې له علم او پوهې حاصلېدلو وروسته، پېښ شوى دى. هغه کسان چې د الله تعالى له آيتونو انکار کوي د حق له منلو او د الله تعالى له احکامو او اوامرو نه چې د اسلام سپېڅلي دين منل دي، سرغړونه وکړي، الله تعالى ورسره محاسبه کوي او د الله تعالى محاسبه ډېر ژر او سخته ده چې هر چا ته د هغه د کړنې او عمل سره سم جزا ورکول کيږي.

اى پېغمبره، که چېرې اهل کتاب او مشرکان د دلايلو له راوړلو نه وروسته د حق دين يعنې د اسلام له منلو نه منکرشي او د تکبر په غرض له تا سره شخړه وکړي، نوهغوى ته ووايه چې زه او زما مؤمن پيروان د الله تعالى اوامرو او احکامو ته تسليم او تابع يو. اهل کتابو او مشرکينو ته ووايه که چېرې تاسې د اسلام سپېڅلى دين ومنئ، نو سمه او نېغه لاره مومئ او که چېرې د اسلام د سپېڅلي دين له منلو انکار او سر غړونه وکړئ، نو الله تعالى به له تاسې سره محاسبه وکړي او زه خلکو ته د حق له رسولوپرته بل کوم مسؤوليت نه لرم چې هغه مې په ښه او سمه توګه تر سره کړى دى. الله تعالى د بندګانو پر ټولو شيانو يعنې زړونو او کړنو خبر دى او هر چا ته د هغه د عمل مطابق جزا ورکوي.

ketabton.com - The Digital Library

اسلام غوره دين دی

د اسلام د دين معنا او مفهوم

لکه څرنګه چې وړاندې ذکر شو د اسلام لغوي معنا انقياد او تسليمېدل دي او اسلام د الله تعالی اوامرو ته د غاړې ايښودلو په معنا دی، خو دا انقياد بايد د انسان په خپل رغبت او رضا وي، ځکه په کائناتو کې ټول مخلوقات د انسان په شمول په خپل خلقت کې د الله تعالی تکويني قوانينو ته جبراً تسليم او منقاد دي او له هغو نه د مخالفت توان نه لري. له دې امله په دې ډول انقياد باندې کوم ډول ثواب او يا عقاب نه مرتبيږي. د قرآن کريم په ځينو آيتونو کې اسلام په همدې معنا سره ذکر شوی دی.﴿أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ﴾ [آل عمران: ۸۳]. **ژباړه:** آيا کافران د الله له دين څخه پرته بل دين غواړي؟ (حال دا چې) ټولو موجوداتو په اسمانونو او ځمکه کې هغه ته په خوښه او نا خوښه غاړه ايښې ده او ټول هغه ته ورګرځول کيږي.

د اسلام د دين جوهر او اساس په خپل اختيار سره د الله تعالی اوامرو او احکامو ته د انسان غاړه ايښودل دي چې د اجر، ثواب اوعذاب د ورکولو لپاره اړين بلل کيږي. دغه انقياد او تسليمېدل بايد په بشپړه توګه وي او انسان بايد د الله تعالی شريعت او قانون په عام او تام شکل سره په خپل فردي، ټولنيز ژوند کې پلی کړي او دا هماغه دين دی چې ټولو انبياؤ عليهم السلام خلک د دې لوري ته دعوت کړي دي او په خپله يې هم په همدې مفهوم د اسلام د سپېڅلي دين پيروي کړې ده. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَنْ يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ﴾ [لقمان:۲۲]. **ژباړه:** او هرڅوک چې خپل مخ (ځان) الله تعالی ته وسپاري او نېکوکار وي نو منګوله يې ولګوله هغه په رسۍ (کړۍ)کلکې او د ټولو کارونو پای يوازې د الله تعالی په لور دی.

قرآن کريم د ابراهيم اويعقوب عليهما السلام په هکله داسې فرمايي:﴿وَوَصَّى بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَى لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ﴾ [البقرة: ۱۳۲]. **ژباړه:** او وصيت کړی و په دې دين ابراهيم او يعقوب هم خپلو زامنو ته، ای زما زامنو!

ketabton.com - The Digital Library

بېشکه الله غوره کړی دی ستاسې لپاره همدا دین، نو باید مړه نه شئ خو چې یاستئ تاسې مسلمانان.

د اسلام اطلاق

د نبوت د لړۍ له بشپړېدلو او د وروستني پېغمبر په توګه د حضرت محمد ﷺ له بعثت څخه وروسته، د اسلام اطلاق پر هغه دین کیږي چې د الله تعالی له لوري حضرت محمدﷺ ته وحي شوی دی، نو ټول انسانان مکلف دي او له هغوی نه دا غوښتنه شوې ده چې دغه دین ومني او احکامو ته يې غاړه کیږدي. دا هماغه دین دی چې د دې لوست په مبارکو آیتونو کې په بشپړ صراحت سره د الله تعالی یوازینی غوره او منل شوی دین بلل شوی دی.

د یادو شوو مبارکو آیتونو په رڼا کې علماوو د اسلام دین داسې تعریف کړی دی: "اسلام په خپل اختیار سره الله تعالی ته له خضوع او انقیاد څخه عبارت دی او څرګندونه يې هغه شریعت ته غاړه ایښودل دي چې الله تعالی خپل پېغمبر حضرت محمدﷺ ته وحی کړی دی او هغه علیه السلام يې د دغه شریعت په تبلیغ مکلف کړی دی." [1]

فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه په خو ډلو وویشل شي اوهره ډله دې د اسلام د دین د مفهوم په هکله له یو بل سره بحث او خبرې اترې وکړي.

اسلام هراړخیز نظام دی

اسلام شامل او هر اړخیز دین دی چې د انسان د ژوندانه ټول اړخونه رانغاړي او د بشر د کړنو، سلوکو او اعمالو د ټولو برخو لپاره څرګند قوانین لري. الله تعالی خپل ګران پېغمبرﷺ ته د اسلام د سپېڅلي دین په اړوند او دا چې د انسان مرګ او ژوند باید د الله تعالی لپاره او د هغه د نظام په چوکاټ کې وي، داسې فرمایي:﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [الأنعام: ١٦٢] **ژباړه:** ووایه ای محمده، بېشکه زما لمونځ، زما قرباني، زما ژوند او زما مرګ د الله لپاره دی چې د ټولو عالمیانو رب دی.

---

[1] – اصول الدعوة ، دکتور عبد الکریم زیدان، ۲مخ.

ketabton.com - The Digital Library

د قرآن عظيم الشان په بل آيت کې الله ﷻ د اسلام د هر اړخيزوالي (شمول)په هکله داسې فرمايلي دي: ﴿مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ..﴾ [سورۀالأنعام:۳۸] **ژباړه:** موږ په دې کتاب کې هېڅ شی نيمګړی نه دی پريښی.

ځينو مفسرينو په دې آيت کې کتاب په لوح محفوظ سره تفسير کړی دی يعنې ټول شيان په لوح محفوظ کې ليکل شوي او خوندي ساتل شوي دي.

ځينې نور مفسرين له کتاب نه قرآن کريم مطلب اخلي چې د دې تفسير پر بنسټ د ټولو شيانو کليات او اساسات په قرآن کريم کې موجود دي او هر هغه څه چې د انسان د لارښوونې او نېکمرغۍ لپاره اړين بلل کيږي. په قرآن کريم کې په تفصيلي او يا کلی بڼه بيان شوي دي تفصيلات او جزئيات يې د پېغمبرﷺ په سنتو کې، چې د قرآن کريم لپاره تفسير، تشريح بلل کيږي، موجود دي چې دا پخپله د اسلام د سپېڅلي دين په شموليت دلالت کوي.

اسلام وروستنی او بشپړ دين دی

مخکې له دې چې رسول الله ﷺ له دې فاني نړۍ څخه رحلت وکړي، الله تعالی د اسلام دين بشپړ کړ او هغه يې منل شوی او غوره دين وباله او د ځمکې د سر ټول انسانان يې پر دې مکلف وګرځول چې د دې دين پيروي وکړي. الله تعالی په دې اړه داسې فرمايي: ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ [المائدة: ۳] **ژباړه:** نن ما پوره کړ د ستاسې لپاره ستاسې دين او ما پوره کړ پر تاسې خپله لورينه او غوره مې کړ ستاسې لپاره اسلام د دين په توګه.

د اسلام د دين دکمال معنا دا ده چې د دې دين تعليمات او احکام د انسانانو د فردي او ټولنيز ژوند په هره برخه کې د هغوی د اړتياوو د پوره کولو لپاره داسې دقيق او مطابق دي،که چېرې په سمه توګه تطبيق شي نو د بشريت نيکمرغي تضمينوي. د اسلام د سپېڅلي دين تعليمات او د احکامو کمال هغه وخت په سمه توګه څرګنديږي چې په عملي او بې پلوه بڼه دغه دين له نورو اديانو، نظامونو او قوانينو سره پرتله شي.

قرآن کريم په صراحت سره بيان کړی دی چې د الله تعالی پر وړاندې يوازينی منلی شوی دين د اسلام دين دی او پرته له اسلام نه بل هېڅ دين د قبول وړ نه دی. که څوک له اسلام نه پرته بل دين غوره کړي په آخرت کې به ضرور په زيان او تاوان کې وي: ﴿وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾ [آل عمران: ۸۵].

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه: او هر څوک چې پرته له اسلام نه بل دین غواړي (لټوي) نو وبه نه منل شي له هغه څخه او هغه به په آخرت کې له زیان کارانو څخه وي.

د اسلام د سپېڅلي دین د ټولو تعلیماتو پلي کولو ته اړتیا

په پورتنیو مبارکو آیتونوکې د اسلام د سپېڅلي دین د شمول او کمال په اړه، چې بل ټکی ډېر مهم او ارزښتناک بربښي، هغه د ژوند په ټولو اړخونو کې په بشپړه توګه د اسلامي احکامو او لارښوونو پلي کول دي؛ ځکه په ځینو چارو کې د اسلام د احکامو او لارښوونو نیمګړی او ناقص تطبیقول او په ځینو نورو کې د هغو له پلي کولو نه ډډه کول، سره له دې چې مطلوبې پایلې نه ورکوي، د قرآن او سنت له نص او روح نه مخالفت بلل کیږي او د دنیا او آخرت د تباهۍ او زیان لامل ګرځي. الله تعالی په قرآن کریم کې په دې اړه داسې فرمایي:﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ﴾ [البقره: ۲۰۸]. **ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی په اسلام کې په بشپړ ډول ورننوځئ (د اسلام د سپېڅلي دین ټول احکام او تعلیمات ومنئ) او د شیطان پر پلونو مه ځئ، بې شکه چې شیطان ستاسې ښکاره دښمن دی.

یو مفسر د دې آیت په شرحې او تفسیر کې داسې وایي:

"د (سلم) دکلمې، د سین په زور او زیر د اسلام پر دین او سلامتۍ (د امن په معنا) پر دواړو اطلاق کیږي. یعنې ای مؤمنانو د اسلام په دین کې داخل شئ او د هغه د ټولو تعلیماتو او لارښوونو التزام او پابندي وکړئ. د اسلام د سپېڅلي دین ټول احکام پلي کړئ او د هغو کسانو په څېر مه اوسئ چې د اسلام پر ځینو احکامو ایمان راوړي او ځینې نور احکام یې نه مني او تري انکار کوي. نو مطلب دا دی چې د اسلام ټول احکام او اوامر ومنئ او پرې عمل وکړئ." [1]

په بل آیت کې الله تعالي د بني اسرائیلو د بدو اوصافو د بیانولو په لړ کې د هغو کسانو، چې د کتاب ځینې برخې مني او د ځینو نورو له منلو نه انکار کوي، داسې غندنه کړې ده:﴿أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴾ [البقره: ۸۵]. **ژباړه:** آیا

---

۱ – تفسیر الوسیط للطنطاوی، د بقرې د سورې ۲۰۸ آیت تفسیر

ketabton.com - The Digital Library

تاسې د کتاب ځينې برخې منئ او ځينې نورې يې نه منئ او انکار ترې کوئ، نو نه ده جزا د هغه چا له تاسې څخه چې کوي دا کار، مګر رسوايي ده په ژوند د دنيا کې او په ورځ د قيامت به وګرځول (وروستل) شي هغوی په لور د سخت عذاب او الله پاک ناخبره نه دی له هغه څه نه چې تاسې يې کوئ.

د کتاب پر ځينو برخو د ايمان راوړلو او له ځينو نورو برخو نه د انکار کولو معنا دا ده چې د کتاب ځينې احکام او الهي اوامر ومني او د ځينو نورو له منلو څخه انکار وکړي چې پايلې يې ډيرې بدې او خطرناکې وي.

د لوست ګټې او لارښوونې

- ❖ اسلام د بشر لپاره د الهي دين يو بشپړ او متکامل انځور او وروستنی اسماني دين دی چې له دې وروسته هيڅکله بل کوم دين راتلای نشي.
- ❖ قرآن کريم د انس او جن لپاره نازل شوی دی. د اسلام سپېڅلی دين په هر ځای او عصر کې د ټولو انسانانو لپاره الهي دين دی. د اسلام د دين احکام په هر وخت کې د تطبيقولو وړتيا لري او هيڅکله هم نه زړيږي.
- ❖ يوازينی غوره او معتبر دين د الله تعالی پر وړاندې د اسلام دين دی او څوک چې په دغه دين کې داخل نه وي هغه کافر دی او که چېرې له دنيا څخه کافر ولاړ شي نو د دوزخ د اور مستحق ګرځي.
- ❖ اسلام کامل شامل او هر اړخيز دين، نظام او قانون دی چې د انسان د ژوندانه ټول فردي او ټولنيز اړخونه رانغاړي.
- ❖ د اسلام دين الله تعالی ته د غاړې ايښودلو او تسليمېدلو په معنا دی، خو دا تسليمېدل او انقياد بايد د انسان په خپل رغبت او رضا وي نه جبراً، ځکه په کايناتو کې ټول مخلوقات جبراً د الله تعالی سننو او قوانينو ته تسليم او منقاد دي.
- ❖ اسلام بايد د ژوند په ټولو اړخونو کې په بشپړ ډول پلی شي، ځکه د اسلام ناقص او نيمګړی پلي کول د قرآن او سنت له نص او روح نه مخالفت بلل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱.د اسلام دین په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.

۲.د لوست د مبارکو آیتونو اجمالی مفهوم ولیکئ او استدلال وکړئ چې د انسان انقیاد او تسلیمدل د اسلام دین ته باید ولې اختیاري وي ؟

۳.د اسلام د دین د کمال او هراړخیز والي (شمول)معنا څه ده؟ په تفصیل سره یې شرح کړئ.

٤.ولې د اسلام دین په هر زمان او مکان کې د پلي کولو او تطبیق وړتیا لري او تعلیمات او احکام یې هېڅکله هم نه زړیږي؟

٥.آیا د اسلام د دین جزئي او ناقص تطبیق د قرآن له آیتونو او نبوي احادیثو سره مطابقت لري؟ ستاسې ځواب باید مستدل او د قرآن او احادیثو له مخې وي.

٦.څوک چې د اسلام په دین مشرف نشي او مړ شي د قرآن او سنت له نظره یې حکم څرنګه دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د مبارکو آیتونو په رڼا کې یوه مقاله ولیکي چې له (۲۰) کرښو څخه کمه نه وي او لاندینې ټکي راونغاړي.

- د اسلام تعریف او مفهوم.
- د اسلام د سپېڅلي دین د کمال او شمول معنا.
- په فردي او ټولنیز ژوند کې د اسلام د پلي کولو ګټې او ارزښت.

ketabton.com - The Digital Library

نهم لوست

په اخرت ایمان او پر ژوند يې اغيز

قال الله تعالى: ﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ.فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ﴾ [المؤمنون: ١١٥ – ١١٦]

د کلمو معنا

أَفَحَسِبْتُمْ: آيا تاسې ګومان کاوه.

عَبَثًا: بې ګټې، عبث، بابېزه.

فَتَعَالَى: نو ډير لوړ او پورته دی.

الْكَرِيمِ: قدرمن، ستر.

ژباړه

آيا تاسې انګيرلې وه (ګومان کړی وو) چې موږ تاسې بابېزه (عبث) پيدا کړي ياست او زموږ لوري ته ستاسې ېېرته راګرځېدل نشته؟ نو ډير لوړ او پورته دی الله، حقيقي پاچا، له هغه پرته بل هېڅ کوم بر حق خدای نشته، هغه ذات د ستر عزتناک عرش څښتن دی.

تفسير

د آيتونو لنډ مفهوم

په پورتنيو مبارکو آيتونو کې الله تعالى د هغو کسانو په هکله، چې د آخرت له ورځې او له مرګ نه وروسته له بيا راژوندي کېدلو نه منکر دي او ايمان پرې نه لري، توبيخاً داسې فرمايي: آيا تاسې داسې ګومان کوئ چې الله تعالى تاسې هسې عبث او بابېزه پيدا کړي ياست او ستاسې کار په دې دنياکې يوازې خوړل، څښل او د دنيا له خوندونو څخه ګټه اخيستل دي او تاسې وروسته له مرګ نه بيا نه راژوندي کېږئ ؟!

آيا ګومان کوئ چې حساب او کتاب او ستاسو د کړنو پوښتنې کولو ته کومه اړتيا نه ليدل کيږي، له تاسو سره محاسبه نه تر سره کيږي او نه هم کوم ثواب او عذاب شتون لري؟!

نه هېڅکله هم داسې نه ده لکه څرنګه چې تاسې ګومان کوئ. موږ تاسې هېڅکله هم عبث او بابېزه نه ياستئ پيدا کړي، بلکې ستاسې خلقت او پيدايښت د يو علم، حکمت او

ketabton.com - The Digital Library

خرګندو موخو پر اساس دی او ستاسو ټولو ښېرته راګرځېدل د الله تعالی په لور دی او ستاسو د هغو کړنو او اعمالو پوښتنه به وشي چې تاسو تر سره کړي دي.

د لوست په دویم آیت کې الله تعالی له عبثو او بې ګټو کړنو نه د خپل سپېڅلي ذات پاکي بیانوي او داسې فرمایي، الله تعالی له دې څخه پاک او سپېڅلی دی چې تاسې بې فایدې او عبث پیداکړي، ځکه دا کار د الله تعالی له لوړ شان سره، چې مطلق حاکم، یوازینی حقیقي معبود او د لوی او ستر عرش څښتن دی، مطابقت نه لري.

د آیتونو شرح څېړنه

دغه دوه مبارک آیتونه د هغو آیتونو په سیاق کې قرار لري چې د آخرت په هکله دي او د هغه څه خرګندونه کوي چې د دغې ورځې منکرینو او کفارو ته پېښیږي. لومړنی آیت یعنې د ﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ﴾ په پوښتنې سره پیل شوی دی. دې ډول پوښتنې ته په عربي ژبه کې انکاري استفهام ویل کیږي چې د پوښتنې د موضوع د نفی او انکار په معنا راځي او د هغې مخالف مفهوم ثابتوي، یعنی: داسې نه ده لکه څرنګه چې تاسې ګومان کوئ، موږ تاسې بابېزه او بې ګټې نه یاستئ پیدا کړي. د عربي ژبې د بلاغت او دستور له مخې په دې پوښتنه کې د غندنې معنا نغښتې ده؛ په دې معنا الله تعالی د هغو کفارو معتقداتو او نظریو غندنه کوي چې له بعث نه منکر او په دې ناسم ګومان دي چې د دنیا ژوند یوازې د خوراک، څښاک او نورو خوندونو لپاره دی او دا چې له مرګ نه وروسته بیا راژوندي کېدل، حساب او کتاب او د اعمالو پوښتنه وجود نه لري.

د (عبث) کلمه د هغې بې ګټې کړنې او وینا په معنا ده چې کومه فایده پرې نه مرتبیږي. د ﴿وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ﴾ مبارکه جمله پر مخکینۍ جملې عطف ده چې د آخرت د ورځې د منکرینو د ناسم او غلط ګومان نفي کوي او د بعثت پر حتمي واقع کېدلو او دا چې د ټولو رجوع د الله تعالی په لور ده، تأکید کوي.

د ﴿فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ﴾ جمله له عبثو او بې ګټو کړنو نه د الله تعالی پاکي او سپېڅلتیا بیانوي او له هر هغه څه څخه چې د هغه له لوړ شان سره مناسبت او سمون نه لري، پاک او منزه دی او هر کار یې د علم او حکمت پر اساس دی.

د آخرت پر ورځ د ایمان لرلو معنا

د آخرت پر ورځ ایمان او باور لرل د ایمان د اووګونو ارکانو له جملې څخه یو رکن دی او له دې ورځې څخه انکار کول کفر دی. د قرآن کریم آیتونه او د پېغمبراکرمﷺ احادیث پر دې ګواه دي چې د آخرت پر ورځ له باور پرته د انسان ایمان نه صحیح

ketabton.com - The Digital Library

کیږي. د آخرت پر ورځ ایمان ډیر اهمیت او ارزښت لري ځکه چې په قرآن کریم کې ډیر ځله پر الله تعالی له ایمان سره یو ځای ذکر شوی دی. الله تعالی په دې آیت کې فرمایلي دي: ﴿مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ (المائده:٦٩). **ژباړه:** هرچا چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان راوړ او نېک کارونه یې وکړل، نو هغوی به نه ډاریږي او نه به غمجن کیږي.

پېغمبرﷺ په یو مشهور حدیث کې، چې د جبرئیل حدیث باندی یادیږي د آخرت پر ورځ ایمان او باور لرل د ایمان د ارکانو له جملې څخه بللی او داسې یې فرمایلي دي: "**أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر وتؤمن بالقدر خيره وشره**" [1] **ژباړه:** ایمان په الله تعالی، د هغه پر ملایکو، د هغه پر کتابونو، د هغه پر رسولانو، د آخرت پر ورځ او د خیر او شر په تقدیر چې د الله تعالی له لوري دی، باور او یقین لرل دي.

د قرآن کریم د آیتونو او د رسول اللهﷺ د احادیثو پر بنسټ د آخرت پر ورځ ایمان لرل په لاندینیو عناصرو مشتمل دي:

- د قیامت پېښیدل، په دې معنا چې دنیا پای ته رسیږي او ټول مخلوقات د خپل خالق په لور ښرته راګرځي.
- له مرګ نه وروسته بیا راژوندي کېدل، هغه ورځ چې الله تعالی په هغه کې ټول مخلوقات داسې بیا راژوندي کوي لکه څرنګه چې یې په لومړي ځل پیدا کړي وو.
- حشر یا په یو ځای کې د ټولو مخلوقاتو جمع کېدل.
- حساب.
- د اعمالو وزن.
- حوض.
- صراط (لاره).
- جنت.
- دوزخ (جهنم).
- د قبر عذاب او نعمت [2]

---

[1] –صحيح مسلم– كتاب الإيمان.

[2] – د آخرت د ورځې د تفصیل د پوهېدلو لپاره دې د عقایدو کتابونه وکتل شي.

ketabton.com - The Digital Library

په آخرت ایمان او پر ژوند یې اغیز

پر آخرت ایمان لرل د مهمو پوښتنو لپاره ځواب دی

د انسان په ذهن کې تل درې ارزښتناکې او برخلیک جوړوونکې پوښتنې شتون لري:

۱- موږ له کوم ځای څخه راغلي یو؟

۲ - موږ په دې دنیا کې د کوم هدف لپاره ژوند کوو؟

۳- زموږ وروستنی برخلیک به څه وي او وروسته له مرګ څخه به چېرته ځو؟

دغو پوښتنو د تل لپاره؛ په پخوانیو زمانو او اوسني عصرکې د بشر ذهن ځان ته اړولی دی چې دغو پوښتنو ته د ځواب څرنګوالی د افرادو او بشري ټولنو د برخلیک په ټاکلو کې ستره ونډه لري.

دغو دریو پوښتنو ته ځواب په حقیقت کې د انسان تصور، او نړۍ لید جوړوي (هغه له نړۍ سره اشنا کوي) او له نړۍ او کایناتو سره د هغه د زغم او کړنو بڼه ټاکي او د وګړي ژوند ته سم لوری وربښي.

د اسلام سپېڅلی دین دغو پوښتنو ته څرګند ځوابونه لري.

د لومړۍ پوښتنې ځواب: موږ ټول انسانان د الله تعالی مخلوق یو او هغه زموږ خالق دی الله فرمايي:﴿هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَذْكُورًا. إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا﴾ [الانسان:۱-۲] **ژباړه:** آیا پر انسان داسې یو وخت یا داسې زمانه تېره شوې چې هغه د یاد وړ کوم شی نه و. بېشکه موږ انسان له ګډې شوې نطفې څخه پیدا کړ. موږ هغه ازمایو، نو(له همدې کبله) موږ وګرځاو هغه اورېدونکی او لیدونکی.

د دویمې پوښتنې ځواب: زموږ د پیدایښت او ژوندانه اصلي موخه په سمه او هر اړخیزه توګه د الله تعالی عبادت او بنده ګي ده: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ [الذاريات:٥٦] **ژباړه:** او نه دي پیدا کړي ما پېریان او انسانان مګر لپاره د دې چې زما عبادت وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

د دريمې پوښتنې لنډ ځواب: د دنيا ژوند د کار پای او آخر نه دی. موږ انسانان پس له مرګه د الله تعالی حضور ته بيا راژوندي کيږو. زمونږ د هغو اعمالو او اقوالو پوښتنه به وشي چې موږ تر سره کړي دي او له هغې سره سم به موږ ته جزا راکړل شي.

﴿اللَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ [الروم:١١] **ژباړه:** الله تعالی هغه ذات دی چې لومړی (له نشت) نه خلک پيدا کوي، بيا يې راګرځوي، بيا تاسې د هغه په لور وروستل کيږئ.

﴿...ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ مَرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ...﴾ [الزمر:٧] **ژباړه:** بيا ستاسو ټولو ورتګ په لور د رب ستاسې دی. هلته به مو له خپلو کړنو څخه خبر کړي.

دا د آخرت د ورځې او پر هغې باندې د باور لرلو معنا ده چې د انسانانو د برخليک جوړوونکو دريو پوښتنو له جملې څخه ديوې پوښتنې ځواب دی.

د آخرت پر ژوند د ايمان لرلو اغيزه

د آخرت پر ورځ ايمان لرل د انسان پر فردی او ټولنيز ژوند باندې ډېره زياته اغيزه او تاثير لري. د آخرت پر ورځ د ايمان لرلو پايلې د انسان پر ژوند هغه مهال خرګندېږي چې موږ د يو مؤمن کړنې او سلوک د غير مؤمن له کړنو او سلوک سره مقايسه کړو.

څوک چې د آخرت پر ورځ ايمان نه لري د ژوند په هکله د هغه ليد او تصور توپير لري، په دې معنا چې دغه شخص پرته له مادي ژوند نه د بل هيڅ شي په هکله سوچ نه کوي. د داسې انسان کړنې، پرېکړې، د تفکر بڼه، دوستي، دښمني او هر څه پر مادياتو خرخيږي او پرته له دې ورسره د ښه او بد، وړ او ناوړ، سم او ناسم د پرتلې او اندازه کولو لپاره بل کوم معيار وجود نه لري.

د داسې کړنو او تفکراتو پايلې دا دي چې انسان د انسانيت له ښو او لوړو درجو او اړخونو نه لېرې کوي او په هغه کې د حيوانيت اړخونو ته داسې وده ورکوي چې په پای کې حيواني ځانګړتياوي د دغه انسان پر انساني صفاتو غلبه حاصلوي او ورو، ورو په هغه کې انساني فضايل او ښېګڼې وژني. قرآن کريم دغه ډول انسانان له څلورېولو څارويو سره تشبيه کړي دي او د هغوی د بدې پايلې په اړه داسې فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَهُمْ.﴾ [محمد: ١٢] **ژباړه:** او هغه کسان چې کافران دي ګټه او مزې اخلي له دنيا نه، د څارويو په شان خوراک خښاک کوي او د هغوی وروستنی استوګنځی اور دی.

ketabton.com - The Digital Library

لکه څرنګه چې قرآن کریم فرمایلي دي، کافر انسان د آخرت پر ورځ ایمان نه لري. هغه یوازې په دې سوچ او فکر کې وي تر څو په دې دنیا کې د ورکړل شوي فرصت څخه زیاته مادي ګټه پورته کړي او له لذایذو څخه یې خوند واخلي. د داسې انسان لپاره حلال او حرام کوم ارزښت نه لري او نه هم اخلاقی معیارونه او انسانی ښېګڼې او فضایل د هغه لپاره کوم مفهوم لري. دغه نفسي او روحي ناروغ انسانان د خپلو مادي غوښتنو د پوره کولو لپاره هېڅ کوم برید او پوله نه پېژني. همدارنګه د دنیوي فاني مال او متاع خوندونو د حاصلولو لپاره د دوی حرص دومره زیات وي چې هیڅ خنډ او قید نه مني.

په دغو پلیتو او ناوړو غوښتنو کې د انسان د پرېوتلو اساسی لامل، کفر، د آخرت پر ورځ د ایمان نه لرل او د کړنو او سلوکو له حساب او کتاب نه انکار کول دي.

د یادونې وړ ده، د آخرت پر ورځ ایمان نه لرل په نړۍ کې د زیاتو مفاسدو، بې عدالتیو، ظلمونو، دحق ترپښو لاندې کېدلو او حرص جړې او ریښې ګڼل کیږي چې د افرادو او بشري ټولنو ژوند په تورو تیارو بدلوي او د نړۍ په مختلفو برخو کې د کور ورانوونکو او تباه کوونکو جګړو لامل ګرځي.

بل لوري ته هغه کسان چې پر الله تعالی او د آخرت پر ورځ ایمان لري په یقین سره پر دې پوهیږي چې د فاني دنیا خوندونه، مال او متاع د آخرت د ابدي ژوند په مقابل کې هېڅ کوم ارزښت نه لري او نه ښایي د له منځه تلونکو مادي لذایذو په خاطر توازن له لاسه ورکړو او د ښو او بدو، حلالو او حرامو له پولو تېرې وشي.

مؤمن د آخرت پر ورځ کامل باور او ایمان لري او په دنیا کې د حرامو لذایذو، مال او متاع نه د ځان د ژغورلو په صورت کې به الله تعالی هغه ته د دې په بدل کې څو برابره زیات اجر او ثواب ورکړي. دغه باور مؤمن له ګناه څخه ژغوري او د هغه قول او عمل توازن برابروي.

قرآن کریم په دې اړه داسې فرمایي:

﴿قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِنْ ذَلِكُمْ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ﴾ [آل عمران: ۱۵-۱۶] **ژباړه:** ووایه ای محمده، آیا زه تاسې ته تر دې (مادي پانګو) نه ښه او غوره څیزونو وښایم؟ د هغو کسانو لپاره چې له الله څخه وېرېږي. د تل لپاره داسې باغونه دي چې ویالې به یې روانې وي او پاکې کړای شوې ښځې او د الله رضا (به د دوی په برخه وي) او الله تعالی د خپلو بندګانو ښه لیدونکی دی.

ketabton.com - The Digital Library

د انسان په ژوند کې د آخرت پر ورځ د ایمان لرلو اهمیت او اثر هغه مهال په روښانه توګه څرګندیږي چې مخ په زیاتېدونکې بشري ستونزې او د انسان پر روح، عقل او نفس باندې د ماده پرستۍ خطرناکې پایلې په علمي او هر اړخیز ډول تر بحث او څېړنې لاندې ونیول شي.

د ننني بشریت لپاره د بې جلبه مادي او شهواني ژوند له تباه کوونکو څپو څخه د ژغورنې یوازنۍ لار، پر اخرت ایمان لرل او د مرګ او وروستۍ ورځې لپاره تیاری کول دي. یقیناً د آخرت پر ورځ ایمان لرل د ماده پرستۍ له جاذبې او له محض مادي ژوند څخه د انسان د خلاصون تر ټولو غوره وسیله ده چې هغه ته د روحي او اخلاقي فضایلو او د ټولو انساني ښېګڼو د معنوي ژوند د پراخې فضا پر لور ختلو دروازې پرانیزي.

د لوست ګټې او لارښوونې

- د آخرت پر ورځ باور لرل د ایمان د ارکانو له جملې څخه یو رکن دی، څوک چې پر دغې ورځ باندې ایمان و نه لري، مسلمان نه دی.
- د ټولو انسانانو ورتګ د الله تعالی په لور دی او هر چا چې په دنیا کې کوم عمل ترسره کړی وي د الله تعالی پر وړاندې به د خپلو کړنو مسؤول وي.
- د آخرت پر ورځ ایمان او باور لرل د انسان پر سلوکو او اعمالو باندې ژور او ارزښتناک اثر لري او د هغه په ژوند کې د توازن او تعادل د رامنځته کېدلو لامل ګرځي.
- د آخرت پر ورځ ایمان لرل د انسان د ژوندانه اړخ څرګندوي او هغه د مادیاتو په ډنډ کې له ډوبیدلو او ورکېدلو نه ژغوري.
- څوک چې د آخرت پر ورځ ایمان نه لري، د هغه څاروي په خبر دی چې په ژوند کې د خوراک، څښاک او شهواني غرېزې له ترسره کولو پرته بل کوم مقصد نه لري.
- د آخرت پر ورځ ایمان لرل په انسان کې د انساني فضایلو او ښېګڼو د ویاړ لامل ګرځي او په هغه کې د خیر او برکت د ودې زمینه برابروي.

فعالیت

د ټولګي زده کوونکي دې په پنځه کسیزو وړو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د انسان پر ژوند د آخرت پر ورځ د ایمان لرلو د تاثیر په هکله خبرې اترې وکړي. په پای کې دې یوتن زده کوونکی د نورو ډلو په استازیتوب زده کوونکو ته د خبرو اترو پایلې ووایي.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

- د لوست په رڼا کې د آخرت پر ورځ د ایمان لرلو مفهوم شرح کړئ.
- په مبارک آیت کې استفهام او یا انکاری پوښتنه د کوم مفهوم افاده کوي؟
- د آخرت پر ورځ د ایمان د ځینو عناصرو نومونه واخلئ.
- هغه څوک چې د آخرت پر ورځ ایمان نه لري، ولې مسلمان نه ګڼل کیږي؟
- د آخرت د ورځې د منکرینو پر ژوند د آخرت پر ورځ د ایمان نه لرلوځو پایلې بیان کړئ.
- د آخرت پر ورځ ایمان لرل څرنګه د انسان په ژوند کې د توازن پیدا کولو لامل ګرځي؟ خپل ځواب د ژوند د حقیقي مثالونو په ترڅ کې بیان کړئ.
- څرنګه کولای شو د آخرت پر ورځ د ایمان لرلو له لارې په مادیاتو کې د ورکېدلو او ماده پرستۍ مخه ونیسو؟
- د آخرت پر ورځ ایمان نه لرل او یا د هغه ضعف څرنګه کولای شي د انسان د ژوند توازن له منځه یوسي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د قرآني آیتونو او احادیثو په رڼا کې د انسان په فردي او ټولنیز ژوند باندې د ایمان د اغېزې او تاثیر په هکله یوه مقاله ولیکي چې له (۲۰) کرښو څخه کمه نه وي او په هغې کې دې له دلایلو او مثالونو نه استفاده وشي.

ketabton.com - The Digital Library

په دين کې اعتدال (منځلاريتوب)

قال الله تعالى: ﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا...الآية﴾ [البقرة: ١٤٣] و قال تعالى: ﴿يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقّ...الآية﴾ [النساء: ١٧١]

د کلمو معنا

{جَعَلْنَاكُمْ} تاسې مو وګرځولئ.

{أُمَّةً} ډله (امت).

{وَسَطًا} منځنی، معتدل او غوره.

{شُهَدَاءَ} ګواهان، شاهدان.

{شَهِيدًا} ګواه، شاهد.

{لَا تَغْلُوا} مبالغه او تېری مه کوئ.

{عَلَى اللَّهِ} پر الله، د الله په شأن کې.

{إِلَّا الْحَقّ} پرته له حق څخه.

ژباړه

او په همدې توګه موږ تاسې يو وسط (غوره) امت ګرځولي ياست چې شئ تاسې پر خلکو شاهدان او پېغمبر پرتاسې شاهد اوسي. (البقره ١٤٣) - ای د کتاب خاوندانو، تاسې مبالغه مه کوئ، په خپل دين کې او مه وايئ پر الله پرته له حق نه بل څه.... (النساء ١٧١)

تفسير

د آيتونو شرح او څېړنه

له بيت المقدس نه د کعبې شريفې په لور د مسلمانانو د قبلې له بدلون وروسته الله تعالى خپل پېغمبرﷺ ته خبر ورکړ، يهود او نور منافقين به ډير ژر دا آوازې خپرې کړي چې محمد او اصحاب يې هره ورځ له يو لوري نه بل لوري ته مخ اړوي او پر خپل دين ثابت نه دي. د دوی د قبلې د بدلون يوازينی لامل له اهل کتابو سره د دوی کينه ده، خو ته ای

ketabton.com - The Digital Library

محمده! دغو ناپوهانو ته ووايه چې ختيځ او لويديځ ټول د الله دي. د الله تعالى چې هر چا ته خوښه شي هغه ته سمه لاره ورښيي. څه چې له دې آسماني ځواب نه څرګندیږي هغه دا دی چې د قبلې بدلون د الله تعالى له خوا پېغمبرﷺ او د هغه د امت لپاره یو ځانګړی فضیلت او غوره والی دی. ځکه کعبه شریفه د ځمکې پر سر هغه لومړنۍ خونه ده چې د الله تعالى د عبادت لپاره جوړه شوې ده. کعبه د اب الانبیاء (د پیغمبرانو پلار) ابراهیم خلیل الله قبله ده، چې اهل کتاب په دروغو ځانونه هغه ته منسوبوي. هر چاته چې الله تعالى د دې قبلې په لور د هغه د عبادت لارښوونه وکړه، هماغه کس په حقه سره د ابراهیم علیه السلام پیرو بلل کیږي. له دې مبارک آیت څخه وروسته الله تعالى مؤمنانو ته خطاب کوي او داسې فرمايي: ﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا﴾ یعنی لکه څرنګه چې مو تاسې ته درنښت او لوی عزت درپه برخه کړ همدارنګه مو تاسې ته دا ستر مقام هم درکړ چې ﴿جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا﴾ مور تاسې یو وسط (غوره) امت ګرځولي یاست. په عربي ژبه کې وسط په څو معناګانو راغلی دی لکه: د غوره، عدل، وسطیت، درمیانه او ښېګڼې په معنا.

په دې توګه د دې مبارک آیت تفسیر داسې دی، الله تعالى فرمايي: ما تاسې ترټولو غوره امت وګرځولئ، ما تاسې د عدل او انصاف امت وګرځولئ، ما تاسې منځنی(درمیانه) او د افراط او تفریط تر منځ امت وګرځولئ او دا چې ما تاسې خبرخوښوونکی امت وګرځولئ او د دغه وسطیت پر مبنا ستاسې کتاب، ستاسې عقاید او ستاسې د دین احکام په ځانګړي اهتمام او پاملرنې سره ساتل شوي دي چې په هغو کې د هېڅ ډول تحریف او لاس وهنې امکان نشته.

﴿لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾ یو له هغو مهمو چارو څخه چې پر وسطیت باندې مرتبیږي دا دی چې اسلامی امت د الله تعالى په نزد درمیانه، د عدل، بلکې غوره او مختار امت دی، نو له دې امله پر نورو امتونو باندې د شاهد او ګواه په حیث پېژندل شوی دی ﴿لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ﴾

شهداء: د شهید او شاهد جمع ده او د حاضر او ګواه په معنا راځي.

د " **النَّاسِ**: څخه مراد د هغه تفسیر پر مبنا چې په روایاتو کې راغلی دی، پخواني امتونه دي، نو اسلامي امت به د شاهد او ګواه په توګه پر نورو امتونو ګواهي ورکوي چې

ketabton.com - The Digital Library

تفصیل به یې وروسته ذکر شي. د دې امت د عدالت او صداقت معیار د همدې لوست د لومړي مبارک آیت په وروستنۍ جمله کې بیان شوی دی

﴿وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾ یعنې پېغمبرﷺ به پرتاسې شاهد اوسي. د الله تعالی تر ټولو غوره پېغمبرحضرت محمدﷺ به د خپل امت پرصداقت، عدالت او انصاف شهادت ورکړي.

﴿يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ﴾: د قرآن مجید په آیتونو کې له اهل کتابوڅخه مراد یهود او نصارا دي، ځکه الله تعالی خپل آسماني کتابونه، چې له تورات او انجیل څخه عبارت دي، د قرآن کریم له نزول څخه مخکې دوی ته رالېږلي دي. الله تعالی دوی په اهل کتابو سره ځکه ستایلي دي، تر څو دوی لږ څه فکر وکړي او د الله تعالی هغه نعمتونه، لکه د الله تعالی له لوري د رسولانو او کتابونو ورلېږل ورپه یاد شي او سمه او نېغه لاره غوره کړي.﴿لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ﴾ غُلُو د زیادت، مبالغې او له حد څخه د تېرېدلو په معنا ده. په دین کې غلو کول له دې څخه عبارت دي چې انسان خپل دین پر خپل ځان سخت او مشکل کړي او یا په دین کې داسې شیان ورزیات او د معتقداتو له جملې څخه وګرځوي کوم چې له دین څخه نه دي. له دې مبارک آیت څخه دا څرګندېږي چې د اسلامي امت پر خلاف یهودو او نصاراو په خپل دین کې د اعتدال او میانه روی حد پرېښی دی او زیادت او یا تقصیر ته یې مخه کړې ده چې یوه څرګنده نمونه او بېلګه یې د دې مبارک آیت په وروستۍ برخه کې بیانیږي: ﴿وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ...﴾ او تاسې پر الله پرته له حق نه بل څه مه وایئ. تاسې ولې د عیسی علیه السلام په حق کې چې الله تعالی د (کن فیکون) په کلمې سره د معجزې په بڼه پیدا کړی دی، له غُلُوّ ډېر عزت او احترام څخه کار اخلئ او هغه د عبودیت له درجې نه د الوهیت لوړ مقام ته رسوئ؟ دا کار په دین او ایمان کې زیادت بلل کېږي.

د آیتونو لنډ مفهوم

﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا...﴾ دا مبارک آیت د (بقرې) د سورت د ۱۴۳ آیت یوه برخه ده. د دې آیت په دغه برخه کې دوو مهمو امورو ته اشاره شوې ده.

لومړی الله تعالی د خپل هغه ستر انعام یادونه کوي چې پر اسلامي امت یې کړی دی او داسې فرمایي، لکه څرنګه چې مور تاسې ته د غورې قبلې یعنې د ابراهیمي قبلې په لور

ketabton.com - The Digital Library

هدایت وکړ همدا راز موږ تاسې منځنی او با انصافه امت کړئ چې پر دې اساس موږ تاسې له ټولو امتونو څخه غوره امت وګرځولئ.

دویم: هغه پایله ده چې پر دغه عدالت او وسطیت بنا کیږي او هغه د نورو امتونو لپاره د وسط امت په حیث د اسلامي امت معیارګرځول او پر نورو امتونو د دې امت شاهد ګرځول دي، په دې معنا چې د قیامت په ورځ به د نورو امتونو د دعواګانو د رښتینولی او دروغولی په اړه به له اسلامي امت نه پوښتنه کیږي او هغوی ته به په الهي محکمه کې د رښتینو شاهدانو حیثیت ورکړل شي.

﴿يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ...﴾ دا مبارک آیت د (نساء) د سورت د ۱۷۱ آیت یوه برخه ده. دلته اهل کتابو ته، چې مراد ترې نصارا دي، خطاب شوی دی ترڅو هغوی په دین کې له زیاتې غُلُوّ څخه لاس واخلي. دا په دې معنا چې په دین کې له تکلف، رهبانیت، واده نه کولو او پر ځان د حلالو نعمتونو له حرامولو څخه ډډه وکړي او دا چې دغه بدعتونه د دین برخه ونه ګڼي. همدارنګه له دوی څخه غوښتنه شوې ده چې د الله تعالی په اړه له خپل ځان نه هغه څه و نه وایي چې د هغه جل جلاله له شان سره سمون ونه لري او نه هم داسې عقاید رامنځته کړي چې په دین کې کوم اصل او اساس ونه لري، لکه دا چې له الله تعالی سره د هغه په ذات او یا صفاتو کې سیال او شریک ونیول شي او عیسی بن مریم علیه السلام چې د الله رسول دی، هغه ته د الوهیت لوړ مقام ورکړل شي.

ketabton.com - The Digital Library

دولسم لوست

د تېر لوست پاتې برخه

په دين کې اعتدال (منځلاريتوب)

په اسلام کې د اعتدال وړانګې

د الله تعالی اراده پر دې وه چې د اسلامي امت ټول امور پر وسطیت او میانه روی ولاړ وي. په داسې توګه چې د غوره والي دغه ځلاګانې په عقیده، ایمان، تفکر، سوچ، احساساتو، غرایزو، د اړیکو او ارتباطاتو په نظام، عباداتو، طاعاتو او لنډه دا چې د ژوند په ټولو امورو کې په خرګند ډول برېښي.

۱- په عقیده او ایمان کې منځلاريتوب

اسلامي عقیده یوه داسې عقیده ده چې پر الله تعالی باندې د ایمان او باور، د هغه پر وحدت، له ټولو عیوبو او نیمګړتیاوو نه د هغه په پاکوالي، یوازې د هغه د عبادت پر وړتیا، د الله تعالی پر ملایکو، پېغمبرانو، آسماني کتابونو، د آخرت پر ورځ، پر حساب او کتاب، جنت او دوزخ او الهي تقدیر باندې د ایمان او باور پر لرلو ولاړه ده. دا عقیده له دې امله د توحید، انصاف عقیده بلل کیږي چې د دې عقیدې خاوندان هیڅکله هم له الله تعالی سره شریک نه نیسي او نه هغه جل جلاله پر هغو صفاتو موصوفوي، چې د هغه له سپېڅلي ذات شان سره سمون نه لري. لکه څرنګه چې یهودیانو الله تعالی پر بې وزلۍ او تنګ لاسۍ موصوف کړی وو او د هغه په هکله به یې داسې ویل: ﴿إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ﴾ آل عمران – ۱۸۱ **ژباړه:** بې شکه الله تعالی بې وزلی (فقیر) دی او موږ بډایان (غنیان) یو. نصاراوو به الله تعالی د بشر پر اوصافو لکه پلارولي او داسې نورو اوصافو موصوف کاوه او داسې به یې ویل: ﴿اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا﴾ البقرة –۱۱۶ **ژباړه:** الله تعالی (د خپل ځان لپاره) زوی نیولی دی. خو د اسلام سپېڅلي دین د الله تعالی د شان په اړه له ټولو ادیانو څخه غوره، معتدله او معقوله عقیده د بشریت لپاره ډالۍ کړه. الله تعالی فرمایي: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ اللَّهُ الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾ الاخلاص – ۴-۱ **ژباړه:** ای محمده، ووایه الله یودی، الله بې نیازه دی، نه یې څوک زېږولی او نه له چا زېږېدلی دی او نه څوک د هغه لپاره سیال او برابرشته.

ketabton.com - The Digital Library

د اسلام سپېڅلي دين د ملايکو په اړه نه د يهودو په څېر دښمني اختيار کړې ده، لکه څرنګه چې قرآن کريم د هغوی په اړه خبر ورکوي: ﴿قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ﴾ [البقرة –٩٧]

ژباړه:ووايه ای محمده، څوک چې له جبرائيل سره دښمني لري او نه هم د مشرکينو په څېر ملايکې د الله تعالی لونې ګڼي ﴿وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِنَاثًا﴾ [الاسراء]۴۰ **ژباړه:** او(ستاسې رب) ملايکي د ځان لپاره د لورګانو په توګه نيولي دي. بلکې ملايکې د الله تعالی مطيع بندګان ګڼي:﴿بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُونَ ۞ لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ﴾ [الأنبياء٢٦– ٢٧]

ژباړه: بلکې هغوی د الله تعالی عزتمند بنده ګان دي، د هغه له اجازې پرته خبره نه کوي او يوازې د هغه په امر کار ته وړاندې کيږي.د پېغمبرانو په هکله د دوی عقيده داسې ده چې پر ټولو باندې يو شان ايمان واجب ګڼي او د هغوی په درناوي کې يې منځنی او معقوله لاره اختيار کړې ده: ﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ﴾ [البقرة – ٢٨٥] **ژباړه:** مونږ د الله تعالی د پېغمبرانو تر منځ توپير نه کوو. داسې په سلګونو نور عقيدوي موارد شته دي چې د اسلامي امت او عقيدې د وسطيت څرګندونه کوي.

اسلامی عقيده داسې يوه عقيده ده چې د انسان د روح او جسم د ودې او پايښت لپاره يې زمينه برابره کړې ده او دواړو ته په ارزښت قايل ده. دا سپېڅلې عقيده داسې نه کوي چې انساني روح يوازې پر معنوياتو تقويه او بډای کړي او تر څنګ يې د ژوند مادياتو ته په کوم اهميت قايل نشي او د جسم د هلاکت لامل وګرځي، بالعکس داسې هم نه کوي چې يوازې مادياتو ته مخه او معنوياتو ته شا کړي، بلکې دواړو اړخونو ته يې ځانګړې پاملرنه کړې ده.

۲- په سوچ کې منځلاريتوب

اسلام د تفکر، تدبر او سوچ په اړه په بشپړه توګه د عقل کارول نه ردوي او نه هم هغه خپلسری پرېږدي، هرشی په نظري او تجربوي علوموکې منحصر نه ګڼي او نه تجربه او ماده يې بنسټه بولي. اسلام د فکري جمود او رونډ تقليد پرخلاف دی او يې قيده او خپلسری حريت او آزادي نه مني. بلکې د فکر، سوچ او د علم او نظر اړخونو او ابعادو ته يې داسې اصول او ضوابط وضع کړي دي، که چېرې په سمه توګه پلي شي نو د دنيوي او اخروي ژوند د نېکمرغۍ لپاره به انسانان ښې پاېلې تر لاسه کړي. قرآن مجيد د عقل صفت او ستاينه داسې کوي: ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ [الرعد۴–] **ژباړه:** بې

ketabton.com - The Digital Library

شکه په دې کې خامخا ډېرې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې له عقل نه کار اخلي. په بل آیت کې فرمایي: ﴿كَذَلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ [الروم- ٢٨] **ژباړه:** موږ په همدې توګه هغه قوم ته نښې بیانوو چې له عقل نه کار اخلي، خو د عقل د بې ځایه کارولو او الوتنو غندنه او ممانعت داسې کوي: ﴿وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ [البقرة: ١٦٩]**ژباړه:** او دا چې تاسې ووایئ پر الله هغه څه چې پرې نه پوهیږئ. په دې معنا چې باید عقل له خپلو حدودو څخه تېرې ونه کړي او په هغو مسائلو کې چې د الهي ذات، ملائکو، آخرت او هغو غیبي امورو پورې تړاو لري او د عقل له حدود څخه بهر وي، نو په دې صورت کې عقل باید په ټوله معنا نقل ته یعنې هغه څه ته چې د الله په کتاب او نبوي احادیثو کې څرګند شوي دي، غاړه کیږدي، تر څو د عقل او نقل تر منځ د وسطیت اندول وساتل شي.

٣ - په احساساتو او غرایزو کې منځلاریتوب

د اسلام په سپېڅلي دین کې د نفسي غوښتنو، احساساتو او غرایزو د لاسته راوړلو لپاره د ټول ژوند وقف کول جواز نه لري، خو د دې تر څنګ هغه احساسات او بشري غریزې، چې د انساني طبیعت مقتضا ده، له پام څخه نه غورځوي، د اسلام سپېڅلی دین نه د انساني غرایزو اهمال غواړي او نه هم په دې لړ کې انسانان خپلسرۍ ته پرېږدي، بلکې د ځانګړو قوانینو او مقرراتو په وضع کولو سره د هغو تهذیب او تادیب کوي تر څو د فساد، سرغړونې مخه ونیول شي. له دې امله د ژوندانه د تلې د یوې پلې په اړه داسې لارښوونه کوي: ﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ﴾ [الأعراف-٣٢] **ژباړه:** ووایه ای محمده، چا حرام کړی دی زینت د الله هغه چې د خپلو بندګانو لپاره یې ایستلی دی او چا پاک او خوندور رزق حرام کړی دی. یعنې هیڅوک نشي کولای چې د الله تعالی نعمتونه او زینتونه پر تاسې حرام کړي. تاسې کولای شئ واده وکړئ، حلال مال ترلاسه کړئ، تفریح او سیاحت وکړئ او له زرګونو نورو الهي نعمتونو څخه ګټه پورته کړئ، خو د ژوندانه د تلې په بله پله کې داسې لارښونه کوي: ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ﴾ [الانعام- ١٥١] **ژباړه:** او مه نږدې کیږئ فاحشو کارونو ته، هغه چې ښکاره دي او هغه چې پټ دي.﴿وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾ [البقرة – ١٨٨] **ژباړه:**او تاسې خپل مالونه په خپل مینځ کې په ناروا مه خورئ، نوتاسې ته هیڅکله هم د دې اجازه

ketabton.com - The Digital Library

نشته چې بدو کارونو او ناوړو اعمالو ته نژدې شئ یا دا چې د خلکو مالونه په ناحقه او ناروا سره وخورئ ځکه دا د غرایزو د طغیان په معنا ده په داسې حال کې چې اسلام طغیان نه خوښوي او نه هم د نعمتونو نه ګټو اخیستلو پر خلاف دی، بلکې د دې دواړو حالاتو ترمنځ یې منځنی او وسط حالت غوره کړی دی.

٤ - په نظم او نظام کې منځلاریتوب

اسلام په هغه ټولنه باور نه لري چې له نظام، حکومت، مقرراتو او قوانینو څخه خالي وي او نه هم ظالمانه او جابرانه نظامونه مني او دې ته هم اجازه نه ورکوي چې یو شمیر خلک نور انسانان خپل مریان وګرځوي او نه هم په بشري ټولنو کې د ځنګل د قانون نافذولو ته اجازه ورکوي.

همدارنګه دې ته اجازه نه ورکوي چې کومه کورنۍ مشر او مسؤول و نه لري او نه دیته جواز ورکوي چې د کورنۍ مشر(سړی) د ښځې کرامت او شخصیت تر پښو لاندې کړي. له دې امله قرآن کریم ټول مسلمانان د جماعت التزام او یووالي ته رابولي او داسې فرمایي: ﴿وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ﴾ آل عمران١٠٣] **ژباړه:** او تاسې ټول د الله په رسۍ منګولې ولګوئ او مه خواره کیږئ.

همدارنګه پیغمبرﷺ هم په دې اړه فرمایي: "آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ اللَّهُ أَمَرَنِي بِهِنَّ بِالْجَمَاعَةِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ..."[١] یعنې زه تاسو ته پر هغو پنځو شیانو امر او نصیحت کوم چې ماته د الله تعالی له لوري پر هغو امر شوی دی، د هغو له جملې څخه د جماعت التزام او د مسلمانو مشرانو اطاعت او فرمانبرداري ده، خو له بل لوري رسول اللهﷺ په خرګنده توګه دا اعلانوي چې "لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق"[٢] (د الله په نافرمانی کې د مخلوق اطاعت جواز نه لري) یعنی اطاعت او پیروي په دې معنا نه ده چې مسلمان د دین او مقدساتو پر خلاف هر زور او ظلم قبول کړي، بلکې په دې چارو کې دې هم باید اعتدال وساتل شي او منځنلاریتوب دې غوره کړای شي.

---

[١] - سنن ترمذی، صحیح ابن خزیمة، مسند احمد.

[٢] - سنن ترمذی، مسند احمد و الطبرانی و غیرهم.

ketabton.com - The Digital Library

۵ – په اړیکو کې منځلاریتوب

اسلام د مسلمانانو د خپلمنځي اړیکو او پیوندونو په سلسله کې او همدارنګه د مسلمانانو او غیر مسلمانو سره د اړیکو په هکله منځنی‌لاره غوره کړې ده. نه د اړیکو لرلو مانع کیږي او نه هم پریږدي چې دا اړیکې د مسلمانانو د دین او دنیا په زیان پای ته ورسیږي، د بیلګې په توګه له غیر مسلمو سره د اړیکو لرلو په هکله داسې فرمایي: ﴿لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ﴾ [الممتحنة- ٨]

ژباړه: الله تاسې له دې څخه نه منع کوي چې له هغو خلکو سره د نېکۍ او عدل چلند وکړئ، چې هغوی د دین له امله له تاسې سره جنګ نه دی کړی او تاسې یې له خپلو کورونو څخه نه یاست ایستلي.

خو په ورپسې آیت کې یې فرمایلي دي: ﴿إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ﴾ [الممتحنة- ٩] **ژباړه:** بې شکه منع کوي تاسې الله د هغو کسانو له دوستۍ څخه چې د دین له امله یې له تاسې سره جنګ کړی او تاسې یې له خپلو کورونو نه ایستلي یئ.

نو له دې امله مسلمان باید په هر ډول اړیکو کې میانه روي اختیار کړي.

٦ – په عباداتو کې منځلاریتوب

د اسلام همیشنی غږ دا دی چې: ﴿لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا﴾ [البقرة – ٢٨٦]

ژباړه: الله تعالی پر هیڅا د هغه له توان څخه پورته بار نه ږدي. بناء اسلام له خپلو پیروانو څخه دا نه غواړي چې شپه او ورځ په عملي عباداتو مشغول شي، یا هر هغه څه چې لاس ته راوړي هغه ټول د الله په لاره کې ولګوي او نه د ځینو ادیانو په څیر ټول عبادتونه په څو دعاګانو، اشعارو یا په اوونۍ کې یو ځل عبادت ځای ته په تللو کې منحصروي او نه یې د حلالې روزۍ له پیدا کولو څخه منع کوي او نه د دې اجازه ورکوي چې د دنیا پلټنه د عبادت د پریښودو لامل شي. بلکې د تلې د دواړو پلو انډول برابر ساتي. د نبي کریم ﷺ صحیح حدیث دی چې فرمایي: "إنَّ هذا الدِّين يُسْرٌ، ولنْ يُشادَّ الدِّينَ أحدٌ إلا غَلَبَه"[1] دا دین

[1] – صحیح البخاری، کتاب الایمان، باب الدین یسر

ketabton.com - The Digital Library

آسانه دين دی، هيڅوک دې له دې دين سره مقابله نه کوي مګر دا چې دين به پرې غالب شي.

يادونه: له پورتني حديث شريف څخه مراد دادی چې تاسې په نفلي عباداتوکې پر ځان له وس نه زيات فشار مه راوړئ، د فرايضو په ادا کولو کې هيڅ ډول سختی شتون نه لري.

پر نورو امتونو د اسلامي امت د ګواهۍ څرنګوالی

په حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نوح عليه السلام د قيامت په ورځ غوښتل کيږي او پوښتنه ورڅنې کيږي آيا زما دعوت دې خپل قوم ته ورساوه؟ ځواب ورکوي، هو. د نوح عليه السلام قوم راغوښتل کيږي او پوښتنه ورڅنې کيږي آيا تاسو ته يې تبليغ کړی دی؟ قوم به يې وايي: موږ ته هيڅ کوم ويروونکی نه دی راغلی او موږ ته هيڅا دعوت نه دی راکړی. نو بيا نوح عليه السلام ته ويل کيږي څوک به ستا لپاره شاهدي ووايي (پردې چې تا مسؤوليت اداء کړی دی) هغه وايي: محمد او د ده امت، وروسته د الله رسول دا آيت تلاوت کړي: ﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا﴾.

د اهل کتابو د مبالغې بيلګې

لکه څرنګه چې وړاندې ذکر شو غُلُو له حد او پولې نه تيريدنې ته وايي. توپير نه کوي که دا غُلُو د افراط په بڼه وي او که د تفريط په بڼه، د مثال په توګه نصاراوو د عيسی عليه السلام په احترام او درناوی کې افراط وکړ. کله هغه ته خدای وايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ﴾ [المائدة- ١٧]

يعنې: الله هماغه مسيح زوی د مريم دی او کله يې د الله زوی ګڼي او وايي: ﴿الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ﴾ يعنې مسيح د الله زوی دی او کله عيسی عليه السلام، د هغه مور مريم او خدای جل جلاله درې ګوني خدايان په نامه يادوي او وايي:﴿إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ﴾ [المائدة ٧٣] الله دريم د دريو دی. په دې ټولو ډولونو کې په دين اوعقيده کې د غلو او الحاد څخه پرته بل څه نشته، خو د تعجب خبره دا ده چې دوی سره له دې ټولو بيا هم د توحيد دعوا کوي.

يهود د نصاراوو په مقابل کې د عيسی عليه السلام په بې حرمتی او بې عزتی کې غلو کوي. العياذ بالله هغه ګمراه بولي آن تر دې چې په ډير ويار د هغه د وژلو مدعي شول او

ketabton.com - The Digital Library

ویې ویل: ﴿إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ﴾ [النساء-۱۵۷] **ژباړه:** موږ مسیح، چې هغه عیسی ابن مریم دی، ووژه.

د یهودو یوه بله ډله د عزیر علیه السلام په هکله داسې غلو وکړه، لکه څرنګه چې مسیحیانو د حضرت عیسی علیه السلام په هکله عقیده درلوده هغوی به داسې ویل: ﴿عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ﴾ [التوبة- ۳۰] **ژباړه:** عزیر د الله زوی دی.

همدارنګه نصاراوو په خپل رهبانیت کې غلو وکړه او د هغه په اساس یې په غارونو او کلیساوو کې ګوښه توب غوره کړ، نکاح یې په ځان حرامه کړه چې د دوی دې کړنو ته قرآن کریم داسې اشاره کوي: ﴿وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ﴾ [الحدید- ۲۷] **ژباړه:** رهبانیت او ګوښه والی یې د بدعت په توګه پیدا کړ په داسې حال کې چې موږ په هغوی نه و فرض کړی.

همدارنګه یهودو د حلالو څارویو په هکله غلو وکړه او د هغوی پاکې غوښې یې پر ځان حرامې کړې. قرآن کریم د دوی دا عمل ردوي او فرمایي: ﴿كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴾ [آل عمران ۹۳] ټول خوراکي شیان بنی اسرائیلو(یهودو) ته حلال وو، خو هغوی غلو وکړه او حلال شیان یې پر ځان حرام کړل. په پای کې قرآن کریم د دوی هغه غلو ته چې له کفارو سره د واقعي دوستۍ سرحد ته رسیدلې ده، داسې خبر ورکوي: ﴿تَرَى كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ﴾ [المائدة – ۸] **ژباړه:**ډیر له دوې څخه وینې چې دوستی کوي له کافرانو سره. دا ډول غلو کول په اهل کتابو کې ډیره ده او اوس هم شته، نو ځکه قرآن کریم دوی د اسلام منځنۍ لارې ته را بولي او دوی په دین کې له غلو کولوڅخه منع کوي چې د ټولو په سر کې په وروستني پیغمبرﷺ باندې د دوی ایمان نه راوړل دي.

فعالیت

زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي او د ښوونکي په لارښوونه دې په دین کې د غلو او مبالغې د زیانونو په اړه له یو بل سره بحث او خبرې اترې وکړي

د لوست ګټې او لارښوونې

پورتني مبارک آیتونه ډېرې ګټې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

ketabton.com - The Digital Library

١. په اسلامي احکامو کې د نسخې ثبوت او جواز، لکه څرنګه چې مسلمانانو د الله تعالی په امر له بیت المقدس نه خپله قبله د کعبې شریفې په لور بدله کړه چې دې ډول نسخې ته د بدل نسخه ویل کیږي.

٢. پر مسلمانانو تور لګول او د هغوی پر ضد پروپاګند د کفارو همېشنۍ دنده او عادت دی، نو مسلمانان باید هوښیار اوسي تر څو د کفارو د بریدونو او دسیسو ښکار نشي.

٣. پر نورو امتونو باندې د اسلامي امت د فضلیت ثبوت، ځکه دا امت د بشپړ وسطیت له مخې یو غوره امت دی.

٤. پر نورو امتونو باندې د قیامت پر ورځ د محمدﷺ د امت د شاهدی اثبات.

٥. د خپل امت پر عدالت او صداقت باندې د رسول علیه السلام، شهادت او ګواهي.

٦. په دین کې د زیادت او غلو کولو حرمت، ځکه دا کار په دین کې د بدعت اوګمراهۍ د رامنځته کېدو لامل ګرځي.

٧. د شرعي علم او اساس پرته د الله تعالی په شان کې د څه ویلو حرمت.

٨ په عقایدو، عباداتو او کړنو کې د اهل کتابو د ګمراهۍ، مبالغې او غلو بیان.

پوښتنې

١) لاندینۍ کلمات وژباړئ.

{جَعَلْنَاكُمْ}{أُمَّةً} {شُهَدَاءَ} {لَا تَغْلُوا} {عَلَى اللَّهِ} {إِلَّا الْحَقَّ}

٢) د ﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا﴾ مبارک آیت له مخکینۍ آیت سره، چې د قبلې د بدلون په اړه دی، څه تړاو لري؟

٣) وسط په عربي ژبه کې په څه معنا دی؟

٤) اسلامي امت ته د نورو امتونو په منځ کې څه حیثیت ورپه برخه شوی دی؟

٥) څرنګه اسلامي امت پر نورو امتونو شهادت ورکوي؟

٦) له اهل کتابو څخه مراد کوم کسان دي؟

٧) د اهل کتابو د غلو درې نمونې بیانې کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په لوست کې د ورکړل شویو معلوماتو پر بنسټ د وسطیت د مختلفو جوانبو په هکله یوه مقاله وليکي چې له شلو کرښو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

گټوره سوداګري

الله تعالى فرمايي:﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ * تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ۞ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ۞ وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴾.[الصف: ١٠-١٣]

د کلمو معنا

هَلْ أَدُلُّكُمْ: آیا وښایم تاسې ته؟

تِجَارَةٍ: تجارت.

تُنجِيكُم: چې تاسې وژغوري.

عَذَابٍ أَلِيمٍ: درد ناک عذاب.

مَسَاكِنَ طَيِّبَةً: د اوسېدو غوره او ښه ځایونه.

الْفَوْزُ الْعَظِيمُ: لوی او ستر بری.

ژباړه

ای مؤمنانو، آیا زه وښایم تاسې ته هغه تجارت چې تاسې له دردناک عذاب نه وژغوري؟ پر الله او د هغه پر رسول ایمان راوړئ او د الله په لاره کې پر خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد وکړئ، دا ستاسو لپاره غوره دی که تاسې پوهیږئ.

الله پاک به ستاسې ګناهونه وبښي او تاسې به هغو باغونو ته داخل کړي چې د هغو لاندې به ویالې بهیږي او په باغونو کې به ډیر غوره کورونه درکړي. دا دی ستر بریالیتوب. او بل څه چې تاسې یې ډېرخوښوئ د الله مرسته (کومک) او ډیر نږدې بری دی او مؤمنانو ته (ای محمده) د دې زیری ورکړه.

ketabton.com - The Digital Library

تفسير

د آيتونو شرح اوځيرنه

په پورتنيو مبارکو آيتونو کې الله تعالى مؤمنان د غوره کارونو د تر سره کولو په لورهڅوي. په اصلي پانګه کې تصرف او د ګټې لاس ته راوړلو لپاره د هغې په کار اچولو ته تجارت ويل کيږي، دلته په دې مبارک آيت کې د تجارت څخه مراد ايمان او جهاد دی چې د نوموړي تجارت د تفسير او توضيح لپاره بيان شوی دی.

د﴿هَلْ أَدُلُّكُمْ﴾ په جمله کې استفهام د دې تجارت په لور د مؤمنانو د ترغيب او تشويق لپاره دی. همدارنګه د ﴿تِجَارَةٍ﴾ د کلمې راوړل په نکره صيغې سره د دې تجارت اهميت، ارزښت او ستر مقام را په ګوته کوي.

د﴿تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾ مبارکه جمله يو الزامي امر دی چې د خبر په بڼه ذکر شوی دی او معنا يی داسې ده چې: ای مؤمنانو، تاسې په ايمان لرلوکې پر الله تعالى او د هغه پر پيغمبر او د هغه په لاره کې د جهاد لپاره ټينګ او ثابت قدم اوسئ چې دا کار ستاسې لپاره ډير غوره دی که چيرې تاسې پوهيږئ.

په دې مبارک آيت کې د مالي جهاد يادونه پر نفسی جهاد مخکې شوې ده او دا ځکه چې د تجارت موضوع دا ايجابوي، يعنی په تجارت کې مالونه له يو لاس نه بل لاس ته ورځي او د جهاد لپاره مال او پانګه ضروري ده او د مالونو په واسطه وسله او د جهاد نورې اړتياوې برابريږي، لکه څرنګه چې د اسلام خورو پيغمبرﷺ فرمايلي دي: (من جهز غازياً فقد غزا) يعنی: چا چې کوم مجاهد د جهاد لپاره (په وسله او نورو لوازمو) سمبال کړ، په حقيقت کې سمبالوونکي په خپله جهاد کړی دی.

خو په: ﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ﴾ [التوبة: ١١١]مبارک آيت کې چې د عرض او طلب مقام دی او د دغه پلورلو او پيرودلو بيه د الله جنت دی، نو له دې امله د دې ستر قيمت پر وړاندې د انسان تر ټولو قيمتي او ارزښتناکه پانګه چې د هغه نفس دی له مال څخه وړاندې ذکر شوی دی.

په دې مبارک آيت کې الله تعالى د مجاهدينو او شهيدانو د ګناهونو د بښنې او جنت ته د دوې د ننوتلو تر څنګ له دوی سره د ښايسته او هوسا کورونو او مانيو ژمنه هم کړې ده. ځينو علماوو او مفسرينو د ﴿مَسَاكِنَ طَيِّبَةً﴾ يعنې د مجاهدينو لپاره د ښايسته او هوسا

ketabton.com - The Digital Library

کورونو د یادولو مناسبت داسې څرګند کړی دی. چې مجاهدین په دنیا کې خپل کلی او کور د الله په لاره کې د جهاد لپاره پریږدي او له خپلو کورونو څخه د جهاد لپاره لرې ځي او هر ډول ستونزې زغمي، نو الله تعالی ورته د هغه په بدل کې د جنت د ښایسته ماڼیو او هوسا استوګنې زیری ورکوي.

د مبارکو آیتونو لنډ مفهوم

په مخکینو آیتونو کې څرګنده شوه چې مشرکانو غوښتل تر څو د اسلام ځلانده ډیوه مړه کړي نو ځکه الله تعالی مؤمنانو ته د دښمنانو پر وړاندې د جهاد امر وکړ او دوی یې د الله تعالی په لار کې ایثار، سرښندنې او پر نفس او مال جهاد کولو ته وهڅول.

الله تعالی د مؤمنانو د هغې پوښتنې په ځواب کې چې له پیغمبرﷺ څخه یې وکړه چې الله تعالی په کومو کړنو او اعمالو ډیر زیات خوشالیږي ترڅو یې دوی ترسره کړي. دوی ته داسې خطاب وکړ: ای هغو کسانو چې پر الله او د هغه په رسول ایمان او باور لرئ! آیا تاسې ته د داسې تجارت او سوداګرۍ لارښوونه ونه کړم چې تاسې په دنیا او آخرت کې له دردناک عذاب څخه وژغوري؟ بیا وروسته مبارک آیت ځواب ورکوي چې په دې تجارت کې اساسی پانګه دا ده چې: ﴿تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ﴾ په الله او پیغمبر یې ایمان راوړئ او د الله په لاره کې په خپل مال او نفس سره جهاد وکړئ چې دا تجارت ستاسو لپاره تر هرڅه غوره دی. که چیرې په ګټه او فایده یې پوهیږئ. بیا الله تعالی د دې تجارت ګټه او فایده په خپله بیان کړې ده چې ﴿يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ.....﴾ د ګناهونو له بښنې او د ابدي جنت باغونو ته له ننوتنې څخه عبارت ده چې د اوبو ویالې په هغه کې جاري دي او د هغه په ښایسته ماڼیو کې به د تل لپاره استوګن شي چې دا ډیر ستر بریالیتوب دی.

بیا الله تعالی مؤمنو مجاهدو ته یوه بله ګټه هم ور په برخه کړې ده چې دوی یې خوښوي او ډېر پرې خوشالیږي، هغه له سوبې، مرستې او پر دښمنانو د برلاسۍ او بري څخه عبارت ده؛﴿وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ﴾ مراد له دې نړدې سوبې او فتحې څخه د مکې او د هغې د شاوخوا سیمو فتح کېدل او د اسلام په سپېڅلي دین کې د خلکو داخلیدل دي چې د الله تعالی له ژمنې سره سم یې په ډېره لنډه موده کې د عمل جامه واغوستله.

ketabton.com - The Digital Library

مفسرین وایي دا مبارک آیت د قرآن کریم له معجزو څخه دی چې له غیب څخه یې د فتحې خبر ورکړ او د زیري سره سم د پیغمبرﷺ په ژوندانه او ډېره لنډه موده کې مکه او نور فتوحات د رسول اللهﷺ او مسلمانانو په برخه شول. له عبدالله بن عباسؓ څخه روایت دی چې فرمایي مراد له دې فتحې او الهي مرستې څخه د فارس او روم فتحه ده.

په قرآن کریم کې د جهاد مفهوم

د جهاد کلمه د اسلام له نظره یوه شامله او هر اړخیزه کلمه ده چې د هلو ځلو، کوښښونو او ستونزو ټول ډولونه په ځان کې رانغاړي؛ د الله په لاره کې جهادکول د جهاد ټولو ډولونه، لکه له نفس سره جهاد، د دښمنانو او د شر او فساد پر وړاندې جهاد پکې شامل دی. په دې ټولیز او هر اړخیز مفهوم سره په ټولنه کې د عامه افکارو د اصلاح لپاره ټولې ژبنۍ او قلمي هلې ځلې یو ډول جهاد بلل کیږي. همدارنګه د یوه ظالم او جابر نظام د تغیر لپاره مبارزه او هڅه او هاند، چې پر ځای یې د عدل او انصاف پر بنسټ ولاړ یو نوی نظام رامنځته شي، د اسلام له نظره یو ډول جهاد ګڼل کیږي. همدارنګه له حق، عدالت او انساني لوړو ارزښتونو څخه د دفاع لپاره د مال او پانګې لګول، ستونزې او کړاوونه زغمل هم یو ډول جهاد دی.

په اسلام کې جهاد د(فی سبیل الله) قید سره مشروعیت پیدا کوي او د جهاد د مفهوم لازم او نه بېلدونکی شرط دی، چې د دین حاکمولو لپاره ترسره کیږي، د ټول علماوو په اتفاق سره تر ټولو غوره او ستر جهاد په ځان او نفس سره جهاد دی چې د ستونزو او سختیو د ګاللو مستلزم دی او د الله په لار کې د شهادت د لوړ مقام لامل ګرځي.

له بله پلوه معلومه خبره ده چې اسلام جنګ نه خوښوي او نه څوک ورته هڅوي، خوجهاد د الهي سترو موخو او د بشري ژوندانه د ارزښتونو د ترلاسه کولو لپاره فرض کړای شوی دی او په ځینو وختونو کې یې اړین امر بللی دی. ځکه اسلام د الله غوره دین دی، څو انسانان د کفر او شرک له تیارو او هر ډول اسارت او غلامۍ نه وژغوري او د یو الله د بندګۍ او عبادت لارې ته یې لارښوونه وکړي. د ځمکې پر مخ داسې قوتونه شتون لري چې د دغې الهي کړنلارې او پیغام پر وړاندې خنډ جوړیږي او د مخالفت او جګړې لاره غوره کوي. نو کله که اسلام او پیروان یې په داسې حالت کې واقع شي چې پرته له جنګ او مقابلې نه ورته بله لاره پاتې نشي، نوپه داسې حال کې اسلام مؤمنانو ته امر کوي. څو په پوره ځواک او میړانې سره د دښمنانو پر وړاندې ودریږي او د خپلو ځانونو او مالونو په لګولو سره د الله په لاره کې جهاد وکړي؛ ځکه د

ketabton.com - The Digital Library

جهاد فريضه سره له ټولو انواعو يې پر الله تعالى د ايمان او توكل وروسته د تاريخ په اوږدو كې له اسلام نه د دفاع تر ټولوغوره وسيله ده.

په داسې حال كې مسلمانان د الله په لاره كې جهاد كوي؛ چې دا جهاد يې بايد نه د نفسي غوښتنو لپاره، نه د قوم، توكم، رنگ، ژبې، بشري شعارونو،ځمكنۍ پراختيا، نړۍ نيونې او د قدرت او دبدبې غوښتلو لپاره او نه هم د غرايزو د بشپړولو او مال او شتمنۍ د لاس ته راوړلو لپاره وي.

جهاد په اسلام كې يوازې د (الله په لار كې) او د الله د دين د سرلوړئ لپاره روا شوی دی. لكه څرنگه چې قرآن كريم فرمايي: ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه﴾ [الانفال/٣٩]

ژباړه: اوجنگ وكړئ تاسې له هغوی (كفارو) سره، ترڅو فتنه او فساد له منځه ولاړ شي او يوازې د الله دين حاكم شي.

همدارنگه پيغمبرﷺ فرمايلي دي: «من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا فهو في سبيل الله»[1]

يعنی: څوك چې د الله په لاره كې جنگيږي ترڅو د الله كلمه يا دين حاكم او برلاسی شي نو دا كس د الله په لاركې په جهاد بوخت دی.

په اسلام كې جهاد زيات شروط،آداب او التزامات لري چې پرته د هغو له پابندۍ او مراعاتولو نشو كولای د جهاد نوم پرې كيږدو. د جهاد آداب، احكام او شروط د اسلامي فقهې په كتابونو كې په تفصيل سره څرگند او څيړل شوي دي چې د هر اړخيزو معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره كولای شو هغو ته مراجعه وكړو.

فعاليت

زده كوونكې دې د ښوونكي په لارښوونه په اسلام كې د جهاد د مفهوم په اړه او د جهاد او نورو مذهبي او بشري پرمختگونو لپاره د جگړو ترمنځ توپير او د نظر څرگندونه وكړي.

د لوست گټې او لارښوونې

❖ په مبارك آيت او همدارنگه نبوي احاديثو كې په مال او نفس سره د الله په لاره كې جهاد كول تر ټولو غوره عمل او ډېر زيات گټور تجارت ګڼل شوی دی.

❖ غوره او ستر جهاد په ځان او نفس سره دی.

❖ پر الله ﷻ او پيغمبرﷺ باندې د ايمان لرلو او د الله په لاره كې د جهاد ثمره او پايله، د گناهونو بښنه، جنت ته داخلېدل او د الهي تلپاتې نعمتونو څخه گټه اخيستنه ده.

---

[1] – صحيح البخاری، كتاب الجهاد، باب من قاتل لتكون كلمة الله هی العليا.

ketabton.com - The Digital Library

❖ په مبارک آیت کې پیغمبرﷺ او مؤمنانو ته د الله تعالی د ملاتړ او پر دښمنانو د هغوی د سوبې او بري زیری دی چې دا الهي زیری په ډېره لنډه موده کې د مکې او نورو فتحو په بڼه کې څرګند شو او د عمل جامه یې واغوستله.

❖ د جهاد کلمه په اسلام کې هر اړخیز مفهوم لري چې د مثبتو تغیراتو او انساني ښېګڼو لپاره ټولې هلې ځلې او منډې ترڅې په هغې کې نغښتي دي.

❖ جهاد د اسلام له نظره له ټولو شخړو اوجنګونو سره، چې د بشري ټولنو په منځ کې په مختلفو نومونو او شعارونو، لکه د قوم، توکم، رنګ، ژبې،ځمکنۍ پراختیا، نړۍ نیونې او د قدرت او دبدبې غوښتلو لپاره په لار اچول کیږي، ټولیز او بنسټیز توپیر لري.

❖ جهاد په اسلام کې یوازې د (الله په لار)، د الله د دین د لوړتیا، له مریبتوب نه د انسانانو د خلاصون او د ځمکې پر مخ له مظلومانو او بیوزلانو څخه د دفاع لپاره روا شوی دی.

❖ په جهاد کې د بیګناه خلکو وژل جواز نه لري. که هغوی ښځې وي یا ماشومان، بوډاګان وي یا کمزوري خلک او که څاروي وي یا نور ساکښان. همدارنګه د عبادتځایونو د علمي او مدني ودانیو ړنګول او د میوه لرونکو ونو، کښتونو او نورو انساني محصولاتو له منځه وړل حرام دي.

پوښتنې

۱ـ لاندې کلمې شرح کړئ:

{هَلْ أَدُلُّكُمْ} { عَلَى تِجَارَةٍ} {تُنْجِيكُمْ}{عَذَابٍ أَلِيمٍ}{ مَسَاكِنَ طَيِّبَةً}.

۲ـ مبارک آیت د مؤمنانو لپاره څه شی تر ټولو غوره او ګټور تجارت بللی دی؟ په خپل ځواب کې په قرآني آیت استشهاد وکړئ.

۳ـ په مبارک آیت کې په مال سره جهاد کول د بالنفس څخه مخکې ذکر شوی دی، دلیل یې څرګندکړئ.

۴ـ ددې الهي وینا ﴿وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ﴾ مراد او اعجازي وجه په لنډه توګه شرح کړئ.

۵ـ د جهاد د کلمې مفهوم څرګند کړئ او د اسلامي جهاد توپیر له نورو جنګونو سره روښانه کړئ.

کورنۍ دنده

د جګړې په ډګر کې د مجاهد لپاره د جهاد د آدابو او اسلامي لارښوونو په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له دوو مخونو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

د ديني زده کړې ارزښت

الله فرمايي﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً فَلَوْلاَ نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُواْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ التوبة/١٢٢.

د کلمو معنا

لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً: ترڅو ټول د جهاد لپاره ووځي.

طَآئِفَةٌ: ټاکلې او معينه ډله.

لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي الدِّينِ: ترڅو په دين کې پوهه تر لاسه کړي.

لِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ: خو خپل قوم(ټبر) د الله له عذابه وويروي.

لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ: ښايي هغوی ځانونه وژغوري.

ژباړه

له مؤمنانو سره نه ښايي چې له يوې مخې(جهاد ته) ووځي. ولې له هرې ډلې څخه ټاکلي خلک ونه وتل څو (پاتې خلک) په دين کې پوهه ترلاسه کړي او کله چې(وتلي خلک) د خپل قوم په لوري راوګرځيږي هغوی هم ترې خبر کړي، ترڅو هغوی هم ځانونه (له بديو) وژغوري.

د مبارک آيت د نزول سبب

مفسرينو د دې مبارک آيت د نازلېدو په هکله ويلي دي: کله چې قرآن کريم د تبوک د غزا له راستنيدو وروسته د منافقانو ناوړه نيتونه او عيبونه څرګند کړل او د دوی مخالفت او رسوايي يې په دې ستونزمنه غزا کې ښکاره کړه. مسلمانانو ژمنه وکړه چې له دې وروسته به له هيڅ سريې (يا جهادي ډلې) او غزوې څخه مخالفت نه کوي، نو له تبوک نه د نبی کريمﷺ له راستنيدو وروسته هغه وغوښتل چې ځينې سريې يا جهادي ډلې نورو سيمو ته ولېږي. هماغه و چې مسلمانانو غوښتل ټول په يو ځل حرکت وکړي، نو د دوی د دې کار له امله دا مبارک آيت نازل شو او دوی ته يې حکم وکړ چې مؤمنانو ته مناسبه نه ده ټول په يو ځلې جهاد ته ووځي او پيغمبرﷺ په مدينه منوره کې يوازې

ketabton.com - The Digital Library

پريږدي، بلکې يوازې هغه مهال چې پيغمبرﷺ د نفيرعام اعلان وکړي، بيا پر دوی لازمه ده چې ټول د جهاد لپاره چمتو شي.

تفسير

د آيت شرح او څيړنه

په مبارک آيت کې د ﴿فَلَوْلَا﴾ کلمه د تشويق او ترغيب لپاره ده؛ يعنی د مؤمنانو لپاره غوره ده چې کله د پيغمبرﷺ له خوا عام جنګ نه وي اعلان شوې او يا ټول خلک نه وي راغونډ شوي، نومسلمانان دې ټول په يو ځل جهاد ته نه ځي؛ بلکې په دوو ډلو دې وويشل شي. له هر قوم او قبيلې څخه دې يوه ټاکلی ډله د جهاد لپاره ووځي او بله ډله دې له پيغمبرﷺ سره پاتې شي او د پيغمبرﷺ څخه دې د دين حکمونه او د شريعت لارښوونې زده کړي څو خپلې زده کړې د راستنيدو څخه وروسته مجاهدينو ته ور وښيی، او دا د جمهورو مفسرينو رأيه ده، نو پردې اساس له ﴿لِّيَتَفَقَّهُواْ.... وَلِيُنذِرُواْ﴾ څخه مراده ډله هغه ډله ده، چې د پيغمبرﷺ سره پاتې وه او نصيحت منونکې ډله ﴿لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ د مجاهدينو ډله ده. خو د مفسرينو بله ډله د دين تعليم کوونکې ډلې څخه د مجاهدينو ډله مراد وي چې په خپل جهادي خوځښت سره د علم د خاوندانو بری، سوبه او مرسته د کافرانو او دښمنانو پر وړاندې په عملي بڼه ګوري. په ځانګړې توګه کله چې په جهادي سفر کې په خپله پيغمبرﷺ د جهاد لپاره وتلی وي او په دې توګه د اسلام حقيقت او د الله د خوښۍ کړي دين غوره والی او د سرکښانو او مشرکانو د پايلو په هکله چې د مسلمانانو په واسطه د الله عذاب دوی ته رسيږي، وروسته له راستنيدو يی چې څه زده کړي وي هغه خپل قوم ته ورښيي او د کافرانو له برخليک څخه يی ويروي.

د دې نظريې علما په دې آند دي چې د اسلام پر دين سمه پوهه د تحرک پر بنسټ ولاړه ده، نو پردې اساس هغه کسان د دې دين حقيقت او مقصدونه په ښه توګه پيژندلی شي چې د هغه د لاس ته راوړلو لپاره حرکت کوي او د هغه د لارښوونو او احکامو د پلي کېدو په خاطر د ځمکې پر مخ هلې ځلې کوي، نه دا چې د کتابونو او پاڼو(اوراقو) سره په يوه ګوښه کې له خلکو جلا ناسته غوره کړي؛ ځکه اسلامي فقه د اسلام له تحرک او خپرېدلو نه رامنځته شوې ده. د دين په لاره کې حرکت او د بشري ټولنو په ژوند کې د هغه عملي تطبيق فقه رامنځ ته کړې ده او هغې ته يی پراختيا ورکړې ده.

ketabton.com - The Digital Library

د آيت لنډ مفهوم

الله تعالى په دې مبارک آيت کې وفرمايل که د جهاد لپاره عمومي اعلان نه وي شوی، مناسبه نه ده چې ټول مسلمانان د جهاد لپاره ووځي؛ بلکې په دوو ډلو دې وويشل شي. يوه ډله دې د جنګ ډګر ته ولاړه شي او بله ډله دې د دين د علم زده کړې او د دنيا ګټورو علومو ته مخه کړي ترڅو يو او بل ته خپلې عملي تجربې ور زده کړي چې په دې توګه مسلمانان وکولای شي په دليل او حجت سره او هم په توره او لينديز سره له دين څخه د دفاع ترمنځ يووالی راولي.

په اسلام کې د ديني زده کړې اړښت

قرآن کريم په دې مبارک آيت کې د الله په لار کې د جهاد د فريضې او د علم حاصلولو ترمنځ يوه موازنه رامنځته کړې ده، ځکه که چيرې مسلمانان په جهاد مشغول شي، شريعت به په ټپه ودريږي. او که مسلمانان د علم حاصلولو په لټه کې شي، دښمنان به په اسلامي ملت برلاسي شي. په دې توګه الله تعالى په خپل بشپړ حکمت او مشيت سره د اسلام ساتنه د مجاهدينو او د شريعت ساتنه د علماوو او زده کوونکو په غاړه ايښې ده. قرآن کريم د علماوو د شان د ارزښت په هکله د حصر او ټينګار په صيغې سره له الله نه ويره د علماوو ځانګړتيا ګڼلې ده، او داسې فرمايي: ﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاء﴾ [فاطر/٢٨]. **ژباړه:** بېشکه د الله په بندګانو کې يوازې علماء او پوهان له هغه نه وېريږي.

الله تعالى علماء د ځمکې په مخ خپل خلفا او پر خپلو بندګانو دليل او برهان ګرځولي دي او دوی يې د انبياوو ورثه ټاکلي او د دوی شهادت او ګواهي يې د خپل شهادت او د پرښتو له شهادت سره يو ځای کړې ده، داسې فرمايي: ﴿شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَـــهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ ﴾ [آل عمران/١٨]. **ژباړه:** شاهدي ويلې ده الله چې پرته له هغه بل هېڅ معبود نشته. او ملايکو او د علم څښتنانو هم په همدې شاهدي ورکړې.

قرآن کريم د کافرانو د خراب حالت او بدو پايلو له بيانولو وروسته، د مؤمنانو او له الله نه ويريدونکو علماوو مقام او رتبه، چې د الله په نزد ډيره لوړه او الله ته ډير نږدې ده، داسې ښودلې ده: ﴿أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاء اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ﴾ [الزمر/٩]. **ژباړه:** آيا هغه څوک چې غاړه يې ايښې، د شپې په اوږدو کې په سجده او ولاړه له آخرت نه په ډار او د خپل رب د مهربانيو هېله من وي؟ (او هغه سره برابر دي چې هېڅ پروا نه ساتي) ای

ketabton.com - The Digital Library

محمده، ووايه آيا هغه کسان چې پو هيږي له هغو کسانو سره چې نه پو هيږي برابر دي؟ بې شکه چې يوازې د عقل څښتنان پند اخلي.

په مبارک ايت کې د ﴿لِّيَتَفَقَّهُوا۟﴾ جمله ژوره پوهه، استنباط(د احکامو را ايستل د قرآن او سنت نه) او د علم او پوهې په تر لاسه کولو کې څيړنه افاده کوي.

مفسرينو په ﴿وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا﴾ [البقره/۲۶۹]. **ژباړه:** چاته چې پوهه ورکړای شوه نو يقينا لوی خير ورته ورکړای شو. مبارک آيت کې حکمت په فقهې او پوهې سره تفسير کړی دی. د علم او پوهې حاصلول د (فقهې او حکمت) په مفهوم په اسلامی شريعت کې ډيره لوړه مرتبه لري. نبی کريمﷺ په يوه صحيح حديث کې فرمايلي دي: "مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ"[1] يعنی: چاته چې الله د خير اراده وکړي، نو ده ته په دين کې پوهه ورپه برخه کوي.

پيغمبر عبد الله بن عباس ته د دين سمې زده کړې اوتاويل په هکله داسې دعا وکړه: «اللَّهُمَّ، فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ، وَعَلِّمْهُ التَّأْوِيلَ»[2] يعنی: ای الله هغه(عبدالله بن عباس) ته په دين کې پوهه ورکړې او تفسير او تأويل ور زده کړې.

د پيغمبرﷺ د همدې دعا په برکت حضرت عبدالله بن عباسرضي الله عنه د صحابه وو له ډيرو لويو مفسرينو او فقهاوو څخه شو. او د (ترجمان القرآن) او فقيه او يا (د اسلامی امت حبر) په نامه ونومول شو او تر قيامته پورې د مسلمانانو د دعا او ستاينې وړ گرځيدلی دی.

په دې توگه د(فقه، فقيه، تفقه) کلمې د زده کړې، سمې او ژورې پوهې او ځيرکتيا او حقيقت او صواب ته د رسيدنې معنا افاده کوي. د گټورو علومو زده کړه او بل ته د هغو ښودنه په ځانگړې توگه د ديني علومو زده کړه او په هغو کې تبحر د هغو انساني اړتياوو له جملې دي چې پيغمبرﷺ په گڼو احاديثو کې پرې زيات ټينگار کړی دی او په دين کې يې پوهه او ځيرکتيا د نفلي عباداتو څخه غوره او لوړه را په گوته کړې ده.

د لوست گټې او لارښوونې

❖ په دې مبارک آيت کې د علم حاصلولو ارزښت او غوره والی د کفايي جهاد له ارزښت او غوره والی سره برابر ټاکل شوی په دې شرط چې د علم زده کړه او پوهه په خالص نيت سره وي.

❖ له دې مبارک آيت څخه دا خرگنديږي، لکه څومره چې اسلامي امت جهاد ته اړتيا لري په هماغه اندازه علم، پوهې، علماوو او پوهانو ته هم اړتيا لري.

---

[1] المعجم الكبير للطبراني.

ketabton.com - The Digital Library

❖ د اسلام د دفاع لپاره علم او جهاد دوه مهمې وسیلې بلل شوې دي؛ ځکه علماء په دلیل او حجت سره د الله د دین له حقانیت څخه دفاع کوي او مجاهدین په توره د الهي دین له حدودو څخه ساتنه کوي.

❖ د علم او پوهې رښتینی معیار دا دی چې څښتن یې د نورو په پرتله له الله نه زیات وویریږي او د الهي احکامو پابند وي؛ ځکه علماء او د پوهې خاوندان د نورو په پرتله د الله تعالی د قدرتونو په نښو او نښانو ډیر ژر پوهیږي او لویي یې په کایناتو کې ګوري.

❖ په دین پوهیدنه د علم او پوهې د تر ټولو لوړې درجې افاده کوي؛ ځکه«تفقه» د علم، ژورې پوهې، استنباط او اجتهاد رامنځ ته کوونکی دی. له دې امله د «فقهې او فقیه» مرتبه په اسلامي شریعت کې ډیره لوړه ده.

پوښتنې

۱ـ دلاندینیو کلمو او عبارتونو معنا څرګنده کړئ:

{لِيَنْفِرُوا كَافَّةً }{طَائِفَةٌ} {لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ} {لِيُنْذِرُوا قَوْمَهُم} {عَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ}.

۲ـ ددې مبارک آیت﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً﴾ د نازلیدو سبب په لنډ ډول بیان کړئ.

۳ـ د﴿لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ﴾ څخه کومه ډله کسان مراد دي؟ د علماوو او مفسرینو نظریې په دې هکله څرګندې کړئ.

۴ـ د﴿لِيَتَفَقَّهُوا﴾ جمله د علم او پوهې په اړوند څه مفهوم افاده کوي؟ په اسلامي شریعت کې د فقه، فقیه او حکمت د دلالتونو په هکله د آیتونو او حدیثونو په رڼا کې توضیحات ورکړئ.

۵ـ د نبی کریمﷺ دعا د عبدالله بن عباسرضی الله عنه لپاره څه وه؟ او د هغه د دعا پایله په دې قدرمن صحابی کې څنګه رامنځ ته شوه ؟شرح یې کړئ.

کورنۍ دنده

په دین کې د پوهې د ارزښت په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له دوو مخونو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

پنځلسم لوست

د ديني شعائرو تعظيم او درناوی

قال تعالى: ﴿ذَلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعَامُ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ۞حُنَفَاء لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاء فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ۞ ذَلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ﴾ [الحج: ٣٠ – ٣٢]

د کلمو معنا

يُعَظِّمْ: درناوی وکړي.

حُرُمَاتِ اللَّهِ: (حرمات) د (حرمة) جمع ده او د الله حکمونو ته ويل کيږي چې سپکاوی يې روا نه دی.

الرِّجْسَ: پليتي.

الْأَوْثَانِ: بتان.

قَوْلَ الزُّورِ: دروغ وينا.

حُنَفَاء : له باطل څخه حق ته ميلان کوونکي.

خَرَّ: راوغورځيږي.

فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ: مرغان هغه وتښتوي.

تَهْوِي: وغورځوي.

مَكَانٍ سَحِيقٍ: لرې ځای.

شَعَائِرَ اللَّهِ: (شَعَائِرَ) د (شعيرة) جمع ده، نښو نښانو ته ويل کيږي او (الله) ته يې اضافت تشريفي دی.

ژباړه

دا (حکمونه ومنئ) او څوک چې د الله د حرماتو درناوی وکړي نو دا د هغه د رب په نزد پخپله د هماغه لپاره ډېره غوره ده او ستاسې لپاره څاروي حلال وګرځول شول پرته له هغو څخه چې پر تاسو لوستل کيږي، نو د بتانو له پليتۍ نه ځان وساتئ او دروغو له وينا نه ډډه وکړئ. د الله لپاره حق ته مخ اړونکي شئ، نه د هغه سره شريک ګرځوونکي، او څوک چې له الله سره شريک ونيسي نو داسې دی لکه له آسمانه چې راوغورځي او

ketabton.com - The Digital Library

مارغان يې وتښتوي او يا يې باد په يوه لرې ځای کې ورګوزار کړي، دا (حکمونه ومنئ) او څوک چې د الله د شعائرو درناوی وکړي نو دا د زړونو له پرهېزګاری څخه ده.

تفسير

د آيتونو شرح او څېړنه

دا د (الحج) سورت آيتونه دي چې په مدينه منوره کې نازل شوي او د موضوع له اړخه د دې سورت له تېرو شوو آيتونو سره کلک تړاو لري. په تېرو آيتونو کې د توحيد د مرکز (کعبې شريفې) د ودانولو يادونه شوې ده چې خلک به ورته د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د حج د فريضې ادا کولو او د الله پاک د يادولو لپاره راځي، دلته به قرباني کوي، له کعبې مبارکې څخه به طواف کوي او د الله پاک له حکمونو سره سم به د حج نور مناسک ادا کوي.

په﴿ذَٰلِكَ﴾ سره تېرو شويو احکامو ته اشاره ده او مسلمانانو ته ښيي چې د همدې حکمونو سرته رسول ستاسو دنده او بايد چې دا اوامر تاسو ومنئ.

له ﴿حُرُمَاتِ اللَّهِ﴾ څخه مقصد ټول هغه شيان دي چې الله پاک يې درناوی او احترام پر مسلمانانو واجب کړی، که هغه عبادتونه او د حج مناسک دي، که کعبه شريفه او د حرم سيمه ده، که د ډالۍ په توګه بيت الله ته وړل کېدونکي څاروي دي او که د الله پاک اوامر او نواهي دي.

د مؤمن لپاره د يادو شويو شيانو درناوی او احترام ساتل هغه غوره کار دی چې الله پاک پرې بنده ته اجر ورکوي.

د ﴿اللَّهِ﴾ لفظ ته د ﴿حُرُمَاتِ﴾ اضافت دې ته اشاره ده چې شيان او سيمه په خپل ذات کې کومه سپېڅلتيا او حرمت نه لري بلکې د حرمت اصلي لامل د الله حکم دی او بس. له همدې امله عمر (رضي الله عنه) به حجرالأسود ته ويل: زه پوهېږم چې ته له يوې تيږې پرته بل څه نه يې. نه چا ته زيان رسولای شې او نه ګټه، که ما رسول الله ﷺ ستا په ښکلولو نه وای ليدلای نو ما به ته ښکل کړې نه وای.

د حرماتو له يادونې وروسته الله پاک د مشرکانو هغه باطله عقيده رد کړه چې د يو لړ څارويو غوښې او شېدې يې د درناوي په توګه له کوم دليل پرته پر ځان حرامې کړې

ketabton.com - The Digital Library

وې. الله تعالى فرمايي: ﴿وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعَامُ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ﴾ د مسلمانانو لپاره د ټولو څارويو غوښې او شېدې خوړل روا دي مګر هغه چې په (الأنعام) او نورو سورتونو کې په تفصيل سره ذکر شوي دي. خرنګه چې د ځينو څارويو په اړه د مشرکانو تحريم او درناوي له شرکي عقيدې څخه سرچينه اخيستې وه نو الله پاک د شرک رد وکړ او ويې فرمايل: ﴿ فَٱجْتَنِبُواْ ٱلرِّجْسَ مِنَ ٱلْأَوْثَٰنِ وَٱجْتَنِبُواْ قَوْلَ ٱلزُّورِ ﴾ په دې مبارکه جمله کې دوه اړخونه ډېر د پام وړ دي:

لومړی: دا چې الله پاک د شرک څخه يوازې د منع کېدو امر نه بلکې د (اجتناب) يعنې شرک څخه د لرې اوسېدو امر کوي.

دويم: دا چې شرک او بت پالنه يې د غليظ نجاست﴿ ٱلرِّجْسَ ﴾ په ټکي سره ياد کړل؛ ترڅو د شرک بدوالی مخاطب ته ښه روښانه شي.

﴿اوثان﴾ د (وثن) جمع ده او وثن بت ته ويل کيږي چې جسم لري.

خرنګه چې مشرکانو د څارويو په حرامولو کې په الله پاک باندې دروغ ويلي وو نو آيت له دروغجنې وينا څخه د ځان ساتلو امر وکړ او د زيات تېنګار په بنسټ د ﴿ وَٱجْتَنِبُواْ ﴾ ټکی بيا تکرار شو. رسول الله ﷺ په صحيح حديث کې د دروغو شاهدي له کبيره ګناهونو څخه شمېرلې. خرنګه چې شرک هم دروغجنه وينا او دعوه ده نو د ﴿ قَوْلَ ٱلزُّورِ ﴾ سره په يوه جمله کې ذکر شو.

د لغت له مخې (زُور) اوښتولو ته وايي او د دروغو په شاهدۍ کې هم انسان له حق او ريښتينې وينا څخه اوړي. ﴿حُنَفَاء لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ﴾ (حنفاء) د (حنيف) جمع ده، حنيف هغه چا ته ويل کيږي چې له باطل څخه حق ته مايل وي. مومن حنيف د الله سره په ذات او صفتونو کې د هيڅا شريکوونکی نه وي. د شرک د بدو پايلو بيانولو په موخه الله پاک د مشرک لپاره مثال بيان کړ او ويې فرمايل: ﴿وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاء فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ﴾ يعنې: د مشرک حال د هغه چا په څېر دی چې له اسمانه راخوشې شي او ځمکې ته له رسېدو وړاندې يې مرغان په هوا کې ونيسي او ويې تښتوي. يا دا چې په ځمکه راوغورځيږي او باد يې له ځان سره يوې بلې خوا ته يوسي او په کوم لرې ځای کې يې وغورځوي. خرنګه چې له آسمانه راخوشې شوی تن په هيڅ

ketabton.com - The Digital Library

ډول له تباهۍ ژغورل کېدای نشي نو د مشرک پایله هم له هلاکت پرته بل څه نه ده. په دې مثال کې د تمثیلي تشبیه په توګه د مشرک حالات د تباه کېدونکي شخص له حالاتو سره ورته ښودل شوي. د ځینو مفسرینو په وینا په دې تشبیه کې اسلام د آسمان، شهوات د مرغانو او شیطان د باد په بڼه انځور شوی. یعنې له اسلامه تښتېدونکی مشرک شخص د شهواتو او شیطان لاسونو ته غورځیږي چې هغوی ورباندې لوبې کوي او په پای کې یې د هلاکت کندې ته سپاري.

په ﴿ ذَٰلِك ﴾ سره د تېرو حکمونو د عملي کولو غوښتنه ده چې تشریح یې لږ وړاندې تېره شوه.

په ﴿ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ﴾ جمله کې د شعائرالله درناوی د هغو زړونو کار دی چې له الله څخه وېره لري. شعائر د شعیرة جمع ده، شعیرة نښې او علامې ته ویل کیږي. په آیت کې د شعائرالله څخه مقصد د دین نښې او په ځانګړي ډول هدایا (دقربانۍ څاروي) او د حج مناسک دي. له همدې امله به صحابه وو کعبې ته وړل کېدونکي څاروي خربول او د هغوی درناوی به یې کاوه. د شعائرو د تعظیم څخه مقصد درناوی او په ښه ډول د حکمونو ترسره کول دي. د تقوا اضافت زړه ته شوی ځکه د تقوا اصلي ځای د انسان زړه دی، له همدې کبله رسول الله ﷺ فرمایي: «**التقوى ههنا و أشار بيده إلى صدره ثلاث مرات**»[1].

د تقوا ځای دا دی او په لاس سره یې زړه ته دري ځله اشاره وکړه.

[1] – مسند احمد و السنن الکبری للبیهقی.

ketabton.com - The Digital Library

د ديني شعائرو تعظيم او درناوی

د آيتونو لنډ مفهوم

په لوستل شويو آيتونو کې الله پاک د خپلو اوامرو او نواهيو د منلو او درناوي غوښتنه کړې او د څارويو د حراموالي په اړه يې د مشرکانو باطله عقيده رد کړې چې له شرک څخه يې سرچينه اخيسته. پر دې سربېره يې له شرک او د دروغو له وينا څخه خلک منع کړل او د يوه مثال په بيانولو سره يې خلک د شرک له ناوړو پايلو څخه ووېرول. په وروستي آيت کې د شعائرالله درناوی د زړه تقوا او د مخلص مسلمان کار ګڼل شوی.

د حرمات الله او شعائرالله درناوی

د دې لوست آيتونه د حرمات الله په تعظيم ېيل او د شعائرالله په تعظيم پای ته رسېدلي دي. د آيتونو په تحليل کې مو ولوستل چې د (حرمات الله) او (شعائرالله) ټکي د الله تعالی حکمونو، د حج مناسکو او ټولو هغو ديني نښو او مقدساتو ته شاملېږي چې الله پاک يې د درناوي حکم کړی. شعائرالله يا ديني مقدسات کله د سيمو په بڼه وي لکه کعبه شريفه، نبوي مسجد، د اقصی مسجد، د مشعرالحرام سيمه او د ځمکې په مخ ټول مسجدونه. د وخت او زمانې په بڼه هم ديني مقدسات وجود لري لکه د رمضان مياشت، د عَرَفې او اخترونو ورځې، د عاشورا ورځ، د ذوالحجې د مياشتې لومړنۍ لس ورځې او داسې نور.

پر دې سربېره د الله حکمونه ټول په ديني مقدساتو کې شامل دي لکه لمونځ، روژه، زکات، حج، جهاد، حدود، قرآني آيتونه، د توحيد کلمه او داسې نور.

د خوږ پيغمبر حضرت محمدﷺ، اهل بيتو (کورنۍ)، صحابه وو، تابعينو او د امت د حق پالونکو عالمانو مقام ته درناوی او احترام د مسلمان دنده ده.

د ﴿ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ ٱلْأَنْعَـٰمُ ﴾ جملې تفسير دا په ډاګه کوي چې د شعائرالله څخه د کوم شي د شمېرلو لپاره د شرعي دليل موجوديت ضروري دی. د شرعي دليل د نه موجوديت په صورت کې نه کوم شی د شعائرالله څخه شمېرل کېږي او نه يې مسلمانان په درناوي

ketabton.com - The Digital Library

مکلف دي. همدا راز هغه شيان چې د نورو دينونو پيروان يې مقدس ګڼي خو د اسلام له نظره له مقدساتو څخه نه وي، د مسلمانانو لپاره يې مقدس شمېرل روا نه دي.

الله پاک په (المائدة) سورت کې په څرګند ډول د شعائرالله له سپکاوي څخه منع کړې او فرمايي: ﴿يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُحِلُّوا شَعائِرَ اللَّهِ﴾ [المائدة:٢] **ژباړه**: ای مومنانو! د شعائرالله بې حرمتي مه کوئ.

د (النساء) سورت د شعائرالله د سپکاوي يوه بېلګه بيانوي او فرمايي: ﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ﴾ [النساء:١٤٠] **ژباړه**: (الله) په (دې) کتاب کې په تاسو (دا امر) نازل کړی چې که (په هر ځای کې) واورئ چې د الله په آيتونو کفر کيږي او ټوکې ورپورې کيږي نو له هغوی سره مه کينئ تر هغه چې هغوی په بله خبره کې بوخت شي.

قرآني آيتونه د شعائرالله په سر کې ځای لري. قرآن کريم ته د نيمګړتيا نسبت کول او يا په هغه پورې ټوکې او مسخرې کول د کفر سبب کيږي. که چېرې د مومنانو په وړاندې د قرآن کريم او نورو ديني شعائرو پورې ټوکې يا سپکاوی وشي نو په مومنانوفرض دي چې ټوکې کوونکي له دې کار څخه منع کړي، که يې د ضعف له امله د منعې کولو وس نه درلود بايد چې له هغه مجلس څخه ووځي.

په قرآني آيتونو پورې ټوکې کول د يهودانو او منافقانو کار و چې په اړه يې پورتنی آيت نازل شو او مسلمانان ورسره د ټوکو په حال کې له ناستې څخه منع شول.

قرآني آيتونه او د توحيد کلمه په ځمکه غورځول او يا د پښو لاندې کول، صحابه وو ته کنځل کول، د لمانځه او روژې پورې ټوکې کول او سپکې سپورې ويل د ديني شعائرو سپکاوی دی چې په ټينګه ورځخه ځان ساتل پکار دي.

لکه څنګه چې د ديني شعائرو سپکاوی د يهودو او منافقانو عمل دی په همدې توګه د ديني شعائرو احترام او درناوی د الله تعالی د هغو مخلصو بندګانو کار دی چې په زړه کې له الله څخه وېره لري او د هغه سره محبت کوي.

د شرک بدوالی

د الله تعالی سره شريک نيول تر ټولو ستره او نه بخښل کېدونکې ګناه ده. د قرآن کريم په خورا زياتو آيتونو کې په بېلابېلو ډولونو له شرک څخه منع شوې او انسانان د الله

ketabton.com - The Digital Library

تعالی د توحید منلو ته رابلل شوي. د شرکي عقیدې څخه پاکوالی د ایمان د صحت لپاره شرط دی.

په صحیحینو کې له ابو بکرة څخه روایت شوی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «ألا أُنبِّئكم بأكبر الكبائر قلنا : بلى يا رسولَ الله، قال: الإشراكُ بالله، وعقوقُ الوالدين، –وكان متَّكئا فجلس– ألا وشهادةُ الزور، وقولُ الزور فما زال يكرّرُها حتى قلنا: ليته سكتَ». [1]

ژباړه: آیا تاسو ته تر ټولو ستره ګناه ونه ښیم؟ موږ وویل: ولې نه ای د الله رسوله. هغه وفرمایل: د الله تعالی سره شریک نیول او د مور او پلار خبره نه منل. رسول الله ﷺ تکیه کړې وه نو راپاڅېده او ویې ویل: خبر اوسئ! او د دروغو ویناء خبر اوسئ! او د دروغو شاهدي. رسول الله ﷺ دا جمله دومره تکراروله چې موږ وویل: کاش چې رسول الله چوپ شي (او دا جمله نوره تکرار نه کړي.)

فعالیت

زده کوونکي دې د شرک د حرامولي په اړه د قرآني آیتونو او نبوي احادیثو په رڼا کې بحث وکړي.

د لوست ګټې اولارښوونې

پورتنی لوست ډېرې ګټې او لارښوونې لري چې ځنې یې په لاندې ډول دي:

- د حرمات الله درناوی کول غوره کار او د اجر لامل کیږي.
- د ځارویو د غوښو خوړل روا دي پرته له هغو چې په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې بیان شوي.
- بتان نجس او پلیت دي، عبادت کول یې شرک او لویه ګناه ده.
- له دروغو ویناء څخه ډډه کول فرض دي ځکه چې الله تعالی ورځخه په قرآن کریم کې منع کړې او په مبارک حدیث کې لویه ګناه ګڼل شوې ده.
- مشرک د داسې هلاکت سره مخامخ دی چې هیڅوک یې ورځخه ژغورلای نشي.
- د دیني شعائرو درناوی او احترام واجب او څوک چې د دیني شعائرو درناوی کوي دا یې د زړه د تقوا نښه ده.

[1] – متفق علیه.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱- لاندې ټکي معنا کړئ:

﴿ٱلرِّجۡسَ، ٱلۡأَوۡثَٰنِ، قَوۡلَ ٱلزُّورِ، خَرَّ، فَتَخۡطَفُهُ ٱلطَّيۡرُ﴾

۲ـ په آیت کې په ﴿ ذَٰلِك ﴾ سره کوم شي ته اشاره شوې؟ روښانه یې کړئ.

۳- له ﴿ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ څخه مقصد کوم شیان دي؟

٤- د ﴿وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعَامُ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ﴾ په جملې سره د کومې عقیدې رد شوی دی؟

٥- د ﴿ شَعَٰٓئِرِ ٱللَّهِ ﴾ معنا بیان کړئ.

٦- د شرک او دروغ وینا د حرامولي په اړه یو نبوي حدیث بیان کړئ.

کورنی دنده

زده کوونکي دې د (ديني مقدساتو د سپکاوي څخه د مخنیوي لارې چارې) تر عنوان لاندې یوه مقاله وليکي چې له شلو کرښو کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

اوولسم لوست

تولنيز عدالت د قرآن په رڼا کې

قال تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ لِلّهِ شُهَدَاء بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (المائدة: ٨)

د کلمو معنا

قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ: (قوامين) د (قوام) جمع ده، په ښه توګه هميشه د کار ترسره کوونکي.

شُهَدَآءَ: ګواهي ورکوونکي.

بِٱلْقِسْطِ: په عدل سره.

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ: تاسو دې نه اړباسي.

شَنَـَٔانُ: دښمني او کينه.

ژباړه

ای مومنانو، د الله ﷻ لپاره کلک ولاړ او د عدل شاهدان اوسئ. د کومې ډلې دښمني دې تاسې دې ته اړ نه باسي چې له عدالت څخه واوړئ. عدالت وکړئ. عدالت تقوا ته نږدې دی او له الله پاک نه وډار شئ. بېشکه الله پاک ستاسو په کړنو ښه خبر دی.

تفسير

د آيت شرحه او څېړنه

په پورتني مبارک آيت کې الله پاک مومنانو ته امر کوي چې د هغه د اوامرو په عملي کولو او حق ټينګ ودريږي. ﴿ قَوَّٰمِينَ ﴾ د (قوام) جمع او د مبالغې صيغه ده. (قوام) هغه چا ته ويل کيږي چې يو کار په تکرار او همېشه والي سره کوي، داسې چې نوموړی کار يې عادت او کسب وګرځي او په ډېر ښه او بشپړ ډول يې سرته رسوي. په مبارک آيت کې د (لِلَّهِ) ټکی راغلی او دا څرګندوي چې د اوامرو منل او د حق په ځای کول به يوازې د الله د رضا لاس ته راوړلو په خاطر وي نه د کوم دنيوي غرض او ځان ښودنې لپاره.

ketabton.com - The Digital Library

له مومنانو څخه د مبارک آیت دویمه غوښتنه ﴿ شُهَدَآءَ بِٱلۡقِسۡطِ ﴾ په عدالت د ګواهۍ ورکول دي. مومنان باید د قاضي، حاکم او هر چا په وړاندې ریښتیني ګواهي ووایي او واقعیتونه پټ نه کړي. د ګواهۍ ویلو په مهال د خپلوانو، ملګرو او مادي ګټو په خاطر حق پټ نه کړي او هم د چا د دښمنۍ، وېرې او بې وزلۍ له امله په حقایقو کې بدلون رانه وړي.

د دښمنانو په اړه انصاف کول او د هغوی حقونه پوره ورکول د انساني طبیعت له مخې آسانه کار نه دی نو الله پاک یې په دې جمله ﴿ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْ ﴾ کې ځانګړې یادونه وکړه چې مومنان به د کافرانو سره هم له عدالت څخه کار اخلي او څوک دې دا ګمان نه کوي چې د کافر په معامله کې عدالت پرېښودل روا دي. مبارک آیت یوازې په ځانګړې یادونه بسیا ونه کړه بلکې د ﴿ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰ ﴾ په امریه جملې سره یې یو ځل بیا په عدالت کولو ټینګار وکړ او دا یې جوته کړه چې عدالت د ګناهونو او د الله پاک د عذاب څخه د ځان ساتلو لار ده. عدل په لغت کې برابروالي ته وایي او د ظلم ضد دی، د شرعي اصطلاح له مخې هر حقدار ته د هغه حق ورکول عدل بلل کیږي. د دوست او دښمن دواړو سره یو رنګ عدالت او انصاف کول په حقیقت کې یو ستر مقام او غوره صفت دی، دا مقام او صفت هغه وخت انسان ته په برخه کیږي چې په ځان کې تقوا او د الله پاک څخه وېره پیدا کړي. الله ﷻ په دې آیت کې په تقوا امر کوي: ﴿وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ په خپلو زړونو کې د الله وېرې ته ځای ورکړئ (څو عدالت کول درته آسانه شي،) دا هم په یاد لرئ چې هغه ستاسو په پټو او ښکاره عملونو او ستاسو په نیتونو ښه خبر دی. (او تاسو ته به ستاسو د عملونو سزا او اجر درکوي.)

په دې آیت کې د ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ په عنوان سره خطاب شوی او مؤمنانو ته هغه ژمنه او تعهد یادوي چې د توحید د کلمې په ویلو سره یې د الله پاک سره کړی. پر دې سربېره په آیت کې د (قوامین) او (القسط) ټکي راغلي او په بېلابېلو صیغو د عدالت کولوغوښتنه شوې، په دې هم بسیا نده شوې بلکې عدالت د تقوا سره تړل شوی او په پای کې دا زیاته شوې چې الله ستاسو په عدالت کولو او عدالت پرېښودلو باندې ښه خبر

ketabton.com - The Digital Library

دی. د دومره تاکیداتو وروسته د یوه مومن په وړاندې د عدالت د ارزښت او فرضیت په اړه هیڅ پوښتنه نه پاتې کیږي.

د آیتونو لنډ مفهوم

په مبارک آیت کې مومنانو ته د دنیا او آخرت د نیکمرغیو لاس ته راوړلو په اړه لارښوونې شوي، له مومنانو څخه غوښتنه شوې چې د الله پاک د رضا کولو لپاره دې تل پر حق ولاړ اوسي، په ګواهۍ ویلو کې دې له دروغو او ظلم څخه ځان وساتي، آن د دښمن او کافر قوم په وړاندې دې هم له انصاف څخه کار واخلي او د هغوی په حق کې دې له حد څخه تېری نه کوي ځکه بې عدالتي او ظلم د ټولنې سوکالي او امن له منځه وړي. تقوا چې د مومن خوی دی له عدالت سره ټینګې اړیکې لري او مومن عدالت کولو ته رابولي. د آیت په پای کې الله ﷻ مومنانو ته د تقوا غوره کولو سپارښتنه کوي او دا هم ورته یادوي چې که د عدالت ځای مو ظلم ته پرېښود نو هغه متعال ذات ستاسو په عملونو ښه خبر دی.

اسلام د دنیا او آخرت دین دی

الله پاک انسان د توحید منلو لپاره پیدا کړی او د الله ﷻ پر عبادت سربېره یې هغه ته د نړۍ د ودانولو دنده هم سپارلې او فرمایي: ﴿إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً﴾ (البقرة: ۳۰)

ژباړه: زه په ځمکه کې د یوه خلیفه پیدا کوونکی یم.

د ځمکې د ودانولو، پرمختګ او سوکاله ټولنې د رامنځته کولو لپاره یې هغوی ته د عدالت او انصاف کولو امر کړی. که انسان د عادلانه نظام راوستلو په ترڅ کې د دنیا نېکمرغیو ته رسیږي، له بل پلوه په همدې کار سره د الله تعالی رضا لاس ته راوړي او په اخرت کې یې د بریالیتوب لامل کیږي.

د ﴿ قَوَّامِينَ لِلَّهِ ﴾ جمله د انسان دنیوي هلې ځلې او کوښښ د اخروي کامیابۍ سره تړي. انسانان یوازې هغه مهال یو بشپړ عادلانه نظام رامنځته کولای شي چې د الله څخه وېره او د آخرت تمه ولري.

ketabton.com - The Digital Library

په عدل گواهي ورکول

گواهي ورکول د حق د ښکاره کولو او عدالت د خوندي کولو وسيله ده. د اړتيا پر مهال په حقه شاهدي ويل د الله پاک د دې وينا په اساس واجب دي چې فرمايي: ﴿وَلا يَأْبَ الشُّهَداءُ إِذا ما دُعُوا﴾ (البقرة: ۲۸۲) **ژباړه:** کله چې له گواهانو څخه د گواهۍ ورکولو غوښتنه وشي، نو هغوی دې ډډه نه کوي. په بل ځای کې فرمايي: ﴿وَلا تَكْتُمُوا الشَّهادَةَ. وَمَنْ يَكْتُمْها فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ﴾ (البقرة: ۲۸۳) **ژباړه:** او شاهدي هيڅکله مه پټوئ، څوک چې شاهدي پټوي د هغه زړه په گناه خيرن دی.

له مؤمن څخه د قرآن غوښتنه دا ده چې گواهي به يوازې د الله لپاره وايي او د پوره ريښتينولۍ او امانت څخه به کار اخلي. په گواهۍ کې به له حق پرته د بل هيڅ شي پروا نه کوي. قرآن کريم د النساء په سورت کې دا موضوع په لږ تفصيل سره روښانه کړې او فرمايي: ﴿يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَداءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلى أَنْفُسِكُمْ أَوِ الْوالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ إِنْ يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيراً فَاللَّهُ أَوْلى بِهِما فَلا تَتَّبِعُوا الْهَوى أَنْ تَعْدِلُوا وَإِنْ تَلْوُوا أَوْ تُعْرِضُوا فَإِنَّ اللَّهَ كانَ بِما تَعْمَلُونَ خَبِيراً﴾ (النساء:۱۳۵) **ژباړه:** ای مومنانو، د عدالت علمبرداران او د الله لپاره شاهدان اوسئ که څه هم ستاسې د عدالت کولو او شاهدۍ زيان په خپله تاسې يا ستاسو مور او پلار يا ستاسې خپلو خپلوانو ته رسيږي. د معاملې لورى شتمن وي او که بېوزله، الله له تاسې نه زيات د هغه خير غوښتونکى دى، په دې اساس د خپلو نفسي غوښتنو د پيروۍ له امله عدالت مه پرېږدئ، او که تاسې گډې وډې وواياست يا له ريښتيا ويلو نه ډډه وکړئ نو وپوهيږئ چې څه کوئ الله پرې خبر دى.

لنډه دا چې ريښتيا ويل او په حق گواهي ورکول د الله امر دى، که ددې گواهۍ زيان د انسان ډېرو نږدې خپلوانو يعنې مور پلار او آن د انسان خپلو شخصي گټو ته هم رسيږي نو له ريښتيا ويلو به نه تيريږي، د چا شتمني او بې وزلي هيڅکله د حقايقو د بدلولو لپاره دليل کېدلاى نشي او نه څوک د الله له عذابه ژغورلاى شي.

په مبارک آيت کې د شهيد جمع (شُهَداءَ) راغلى. (شهيد) دصفت مشبه صيغه ده او د عربي ژبې د پوهانو په وينا دغه صيغه د هغه چا لپاره کارول کيږي چې په تکراري او همېشنۍ توگه يو کار سرته رسوي.

ketabton.com - The Digital Library

د آیت غوښتنه دا ده چې مومنان به تل د الله لپاره ګواهي ورکوي او دا د هغوی یو نه جلا کېدونکی خوی دی.

همدا راز الله پاک د (الانعام) په سورت کې فرمايي: ﴿وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُواْ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى﴾ (الأنعام: ۱۵۲) **ژباړه:** او کله چې خبره کوئ په عدالت سره يي وکړئ که معامله د خپل خپلوان هم وي.

په مخکنیو آیتونو کې د (شهداء) ټکی راغلی و خو په دې آیت کې د (قلتم) ټکی راغلی، پایله دا راوځي چې که په محکمه او د قاضي په وړاندې ګواهي وي او که په عام ډول د چا په اړه خبره کول وي، په ټولو ځایونو کې له عدالت څخه کار اخیستل واجب دي، د خپلوی او پردیتوب، دوستی او دښمنی، سیمې، ژبې او قوم لپاره په ګواهی او قضاوت کې توپیر کول ناروا او د ریښتینو مومنانو له خویونو څخه نه دي.

ketabton.com - The Digital Library

ټولنيز عدالت د قرآن په رڼا کې

ټولنيز عدالت

عدل د شريعت اساس او د سوکالۍ ټولنې د رامنځته کولو وسيله ده. د خلکو حقونه يوازې د عدل په مټ خوندي کېدای شي. د قرآن کريم له مخې عدل د ژوند په يوه اړخ پورې محدود نه دی، بلکې د ژوند په ټولو اړخونو کې عدل واجب دی که هغه قانون وي، که سياست وي، که اقتصاد وي او که د ژوند بل اړخ، آن دا چې قرآن کريم د پيغمبرانو د لېږلو موخه د عدالت پلي کول ښيي او فرمايي: ﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ﴾ (الحديد:٢٥) **ژباړه:** مونږ خپل پيغمبران له څرګندو نښانو سره ولېږل او له هغوی سره مو کتاب او تله نازل کړل تر څو چې خلک پر عدل ولاړ وي.

خرنګه چې په بشري ټولنه کې له عدالت پرته نه نظم راځي او نه ګډوډي له منځه ځي، نو الله پاک د نورو ټولنيزو لارښوونو په سر کې د عدالت يادونه کوي او فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ﴾ (النحل:٩٠) **ژباړه:** الله پاک د عدل، ښېګڼې او خپلوۍ د پالنې حکم کوي او له بدۍ، بې حيايۍ او زور ظلم څخه منع کوي.

کله چې عدالت له ټولنې څخه کډه وکړي، نو سملاسي يې ځای ظلم نيسي. ظلم د ټولو بدمرغيو او د دنيوي او اخروي عذابونو ستر لامل دی. قرآن کريم په دې اړه فرمايي: ﴿فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا﴾ (الحج:٤٥) **ژباړه:** څومره د ظالمانو سيمې دي چې مونږ هغه تباه کړې دي او نن هغه په خپلو چتونو باندې نسکورې پرتې دي.

د عدالت د زيات اهميت او اړتيا له کبله قرآن کريم په بېلابېلو صيغو او عبارتونو د عدل يادونه کړې؛ کله د پيغمبرانو د لېږلو موخه عدالت کول ښيي؛ کله مومنانو ته د عدل کولو امرکوي او کله بيا رسول الله ﷺ ته په عدل امر کوي. د (الشوری) په سورت کې راغلي: ﴿وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ﴾ (الشوری:١٥) **ژباړه:** ما ته امر شوی چې ستاسو په منځ کې عدل

ketabton.com - The Digital Library

وکړم. په همدې ډول په بل ځای کې فرمايي: ﴿قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ﴾ (الأعراف: ۱۵)
ژباړه: زما رب ما ته د انصاف کولو امر کړی دی. په دې حکمونو سربېره قرآن کريم د ځانګړو موضوعاتو په اړه هم د عدالت په پام کې نيولو حکم کړی لکه:

۱ – په تله او پيمانه کې عدالت: قرآن کريم د بيعې په مهال په تللو او پيمانه کولو کې د عدل او برابرۍ امر کوي او فرمايي: ﴿وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بالقسط﴾ (الأنعام:۱۵۲). يعنې: تله او پيمانه په عدل سره پوره تلئ.

۲ – په وينا کې عدالت: له مومنانو څخه د قرآن کريم غوښتنه دا ده چې د عامو خبرو کولو پر مهال به هم له عدالت څخه کار اخلي او د خلکو په اړه به هغه څه وايي چې ريښتيا او واقعيت وي. د (الأنعام) سورت مورِ ته داسې لارښوونه کوي: ﴿وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى﴾ (الأنعام: ۱۵۲) **ژباړه:** او کله چې خبره کوئ په عدالت سره يې وکړئ که معامله د خپل خپلوان هم وي.

۳ – په ګواهۍ کې عدالت

د قاضي او محکمې په وړاندې په ګواهۍ ويلو کې عدالت کول د قرآن غوښتنه ده چې څو ځلې تکرار شوې او لږ مخکې يې يادونه وشوه.

۴ – په پرېکړه کې عدالت

قرآن کريم مومنانو ته حکم کوي چې د پرېکړې او قضاوت کولو پر مهال له توپير پرته عدالت وکړي، فرمايي:﴿وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ﴾ (آل عمران:۵۸) **ژباړه:** او کله چې د خلکو په منځ کې پرېکړه کوئ نو په عدالت سره يې وکړئ.

په دې بنسټ د پرېکړې پر مهال د خپلوۍ، قوم، ژبې او سيمې لپاره عدالت قرباني کول د الله پاک له حکمونو څخه سرغړونه ده.

دا آيت په خرګند ډول له مسلمانانو څخه غواړي چې قانون بايد په شتمن او بې وزله، آمر او مامور او د ټولنې په واکمنو او بې وسو خلکو يو ډول پلی شي. د صحيح البخاري د روايت له مخې د رسول الله ﷺ په زمانه کې يوې ښځې غلا وکړه، د نوموړې ښځې د قبيلې خلکو د پيغمبر ﷺ خور ملګرۍ اسامه (رضي الله عنه) هغه ته واسطه کړ څو له سزا ورکولو تېر شي. رسول الله ﷺ د سپارښتنې او واسطې په دې کار سخت غوسه شو او خلکو ته يې وويل: له تاسو څخه پخواني امتونه له دې امله تباه شوي وو چې که شتمن

ketabton.com - The Digital Library

سړي به غلا وکړه نو له سزا پرته به يې پرېښودو خو که بې وزله به غلا وکړه لاس به يې ترې غوڅولو. په خدای قسم که د محمد لور فاطمې غلا کړی وای هم به مې لاس ترې غوڅ کړی و. عايشه رضی الله عنها فرمايي چې پيغمبرﷺ نوموړې ښځې ته سزا ورکړه او هغې هم توبه وويسته چې وروسته يوه پرهېزګاره ښځه ترې جوړه شوه.

۵ – د دښمنانو په اړه عدالت

قرآن کريم د دښمنانو او کافرانو په حق کې هم د عدالت د پرېښودلو اجازه نه ورکوي او داسې حکم کوي: ﴿وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ﴾.

رسول اللهﷺ د هغو نامسلمانو معاهدو خلکو په اړه چې د اسلامي حکومت تر بيرغ لاندې اوسيږي، فرمايي: «أَلاَ مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا أَوِ انْتَقَصَهُ أَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ أَوْ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[1] **ژباړه:** چا چې پر معاهد ظلم وکړ، يا يې هغه ته زيان ورساوه، يا يې له توان څخه په پورته کار وګومارو او يا يې هم له هغه څخه د هغه له خوښې پرته څه شی واخيست نو د قيامت په ورځ به يې زه پخپله مدعي يم.

کله چې قرآن کريم د کافرانو په اړه د عدالت امر کوي نو د مومنانو او دوستانو سره ظلم کول خو په هيڅ ډول روا نه دي.

په عدالت د امر کولو سربېره قرآن کريم ظلم او ظالمان سخت غندلي، هغوی يې د الله پاک له رحمت څخه لرې ګڼلي او د دردناک عذاب ژمنه يې ورسره کړې چې فرمايي: ﴿أَلاَ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ﴾ (هود: ۱۸) **ژباړه:** خبر اوسئ! په ظالمانو د الله لعنت دی. همدا راز فرمايي: ﴿إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ (ابراهيم: ۲۲) **ژباړه:** بېشکه د ظالمانو لپاره دردناک عذاب دی.

رسول اللهﷺ هغه شخص هم د الله په عذاب اخته ګڼلی چې د ظالم مرسته کوي، فرمايي: «مَنْ أَعَانَ عَلَى خُصُومَةٍ بِظُلْمٍ، أَوْ يُعِينُ عَلَى ظُلْمٍ، لَمْ يَزَلْ فِي سَخَطِ اللهِ حَتَّى يَنْزِعَ»[2] چا چې په کومه شخړه کې د ظلم مرسته وکړه، تر هغې به د الله پاک په غضب اخته وي څو چې دا مرسته پرېږدي.

---

۱ – سنن ابي داود

۲ – رواه بن ماجه في سننه

ketabton.com - The Digital Library

پر عدالت د قرآني آيتونو او مبارکو حديثونو دومره زيات ټينګار دا جوتوي چې مومن يوازې په فردي توګه په عدالت کولو مکلف نه دې بلکې له مومنانو څخه د شريعت غوښتنه دا ده چې دوی بايد په نړۍ کې د عدالت د بيرغ پورته کوونکي او د ځمکې په مخ د يوه نړيوال عادل نظام راوستونکي وي.

پورتني آيتونه په ټولنه کې د هر اړخيز او بشپړ عدالت غوښتنه کوي چې لاندې موارد يې د بېلګې په توګه وړاندې کيږي:

۱ – په اسلامي ټولنه کې بايد قوانين له توپير پرته پر شتمن او بې وزله، آمر او مامور، ځواکمن او بې وسه يو ډول تطبيق شي او ټول د قانون په وړاندې په عملي توګه يو برابر وي.

۲ – چارواکي اود ټولنې واکمنان بايد دشتمنۍ په وېش کې عدالت اوانصاف مراعات کړي، او ټولو افرادو ته به د هغوی د وړتياوو سره سم د کار يو ډول فرصتونه رامنځته کوي.

۳ – د زده کړو آسانتياوې به ټولو وګړو ته له توپير پرته چمتو کيږي څو ټولنه له طبقاتي نظام څخه وژغورل شي او وګړي له کوم تبعيض پرته د ورونو په څېر ژوند وکړي.

له الله ﷻ څخه وېره

﴿اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾

د تقوا لغوي معنا ساتنه او دفع کول دي. د شرعي په اصطلاح کې د نېکيو په کولو او د بديو په پرېښودلو سره د الله پاک له عذاب څخه ځان ژغورلو ته تقوا ويل کيږي.

له ابوهريره رضی الله عنه څخه د تقوا د معنا په اړه پوښتنه وشوه. هغه وويل: آيا په ازغنه لاره تللی يئ؟ پوښتونکي وويل: هو. ابوهريره رضی الله عنه وويل: په ازغنه لار څه ډول تيريږي؟ پوښتونکي وويل: کله چې ازغی وينم لاره بدلوم او ځان ترې ساتم. ابوهريره رضی الله عنه وويل: همدا تقوا ده.

يعنې د ګناه په لېدو سره له هغې څخه لاره بدلول او ورڅخه ځان ساتل تقوا ګڼل کيږي.

په قرآن کريم کې د تقوا په اړه خورا زيات آيتونه راغلي او مومنانو ته په تقوا خپلولو امر شوی.، الله پاک فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ﴾ (آل عمران: ۱۰۲) **ژباړه:** ای مومنانو! له الله نه داسې ووېرېږئ څنګه چې له هغه نه د وېرېدو حق دی. په مومن کې د عدالت خوی د تقوا په نتيجه کې رامنځته کيږي. مومنان يوازې هغه مهال بشپړ او هر اړخيز عدالت رامنځته کولای شي چې په ځانونو کې تقوا پيدا کړي.

ketabton.com - The Digital Library

تقوا د ټولنې په سوکالۍ او پرمختګ کې زيات اغېز لري، کله چې په واقعي توګه د الله وېره د انسانانو په زړونو کې ځای ونيسي، دا وېره د دې لامل کيږي چې خلک په هر ځای کې له خيانت، غلا، ظلم، فحشا او ټولو ناوړو کارونو څخه ځانونه وژغوري او ټولنې ته امن راشي. همدا راز له الله څخه وېره انسانان د خالق او مخلوق حقونو ادا کولو ته اړباسي.

رسول الله ﷺ په دې اړه داسې امر کوي: «اتق الله حيث ما كنت، وأتبع السيئة الحسنة تمحها، وخالق الناس بخلق حسن» [1] **ژباړه:** هر چېرې چې ياست له الله نه ووېرېږه! په بدۍ پسې نيکي کوه څو له منځه يې يوسي او د خلکو سره ښه چلن کوه.

د تقوا ګټې

تقوا زياتې دنيوي او اخروي ګټې لري چې ځينې يې په لنډ ډول داسې څرګندوو:

۱ – د الله پاک مرسته او ملتيا: الله پاک فرمايي: ﴿وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ﴾ (التوبه: ٣٦) **ژباړه:** وپوهيږئ چې الله د متقيانو ملګرى دى. بل ځای فرمايي: ﴿وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ﴾ (النور: ٥٢) **ژباړه:** هغه کسان بريالي دي چې د الله پاک او د هغه د پيغمبر امر ومني او له الله څخه ووېريږي.

۲ – د ګناهونو بخښنه: الله پاک فرمايي: ﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا﴾ (الطلاق: ٥) **ژباړه:** څوک چې له الله نه ووېريږي الله پاک به د هغه ګناهونه وبخښي او اجر به يې زيات کړي.

۳ – جنت ته ننوتل: متقيان به په جنت کې وي: ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ﴾ [الحجر:٤٥] **ژباړه:** متقيان به په جنتونو او چينو کې وي.

۴ – د زړه ډاډ او د ستونزو هوارېدل: په دې اړه الله پاک فرمايلي: ﴿أَلا إِنَّ أَوْلِيَاء اللّهِ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ۞الَّذِينَ آمَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ﴾ [يونس: ٦٢-٦٣] **ژباړه:** خبر اوسئ! څوک چې د الله دوستان دي پر هغوى کومه وېره او کړاو نشته، هغوى چې ايمان يې راوړى او تقوا يې خپله کړې.

په بل آيت کې فرمايي: ﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا﴾ (الطلاق: ٢) **ژباړه:** څوک چې له الله نه ووېريږي، الله به د هغه لپاره له ستونزو نه د وتلو لار پيدا کړي.

---

[1] – مسند البزار.

ketabton.com - The Digital Library

د لوست ګټې او لارښوونې

- په هر وخت او هر ځای کې د الله اطاعت د مومن دنده ده.
- په ګواهۍ ورکولو کې باید ریښتیا او واقعیت په پام کې ونیول شي. نه خپلوي، دوستي او یا کومه بله اړیکه.
- له چا سره دښمني باید د عدالت د پښو لاندې کولو لامل نه شي.
- په پټو او ښکاره ځایونو کې له الله پاک څخه وېره کول.
- تقوا غوره کول د عدالت لامل کیږي.
- په تقوا غوره کولو سره انسان ډېرې دنیوي او اخروي ګټې ترلاسه کوي.
- عدالت یوازې په محکمه کې په پرېکړو پورې منحصر نه دی بلکې په عامو خبرو او هر ځای کې عدالت کول فرض دی.

فعالیت

زده کوونکي دې له یادو څخه د تقوا په اړه مبارک آیتونه او حدیثونه له ژباړې سره خپلو ملګرو ته ولولي.

پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

(قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ)

۲- د لوستل شویو آیتونو لنډ مفهوم روښانه کړئ.

۳- (قوامین) کومه صیغه ده او هم یې معنا روښانه کړئ.

٤- د عدل لغوي او اصطلاحي معنا ووایاست.

٥- د عدالت کولو په اړه دوه قرآني آیتونه ولولئ.

٦- د تقوا لغوي او اصطلاحي معنا بیان کړئ.

۷- د تقوا دنیوي او اخروي ګټې کومې کومې دي؟

کورنۍ دنده

(پر ټولنې باندې د عدالت اغېزې) تر سرلیک لاندې یوه مقاله ولیکئ چې له شلو کرښو کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

نولسم لوست

د انسان د وينو تويولو حرمت

﴿وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالحَقِّ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلاَ يُسْرِف فِّي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا﴾ [سورة الإسراء: ٣٣]

د كلمو معنا

وَلاَ تَقْتُلُواْ: او تاسې مه وژنئ.

النَّفْسَ الَّتِي: هغه نفس چې.

إِلاَّ بِالحَقِّ: مگر په حق سره (چې قصاص،رجم او ارتداد دی).

وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا: او څوک چې مظلوم (په ظلم) ووژل شي.

لِوَلِيِّهِ: د وژل شوي د وارث لپاره.

سُلْطَانًا: زور او برلاسي.

فَلاَ يُسْرِف: اسراف دې نه کوي، يعنی له وژونکي پرته دې بل څوک نه وژني.

مَنْصُورًا: مرسته کړی شوی.

ژباړه: او مه وژنئ تاسې هغه نفس چې الله يې وژل حرام کړي دي مگر په حق سره يې وژلی شئ او څوک چې مظلوم ووژل شو نو مور يې وارث ته د غچ (بدل) اخيستلو قوت او توان ورکړی دی، نو په وژنه کې دې تېری او اسراف نه کوی، بيشکه له وارث سره کومک شوی دی.

تفسير

١ـ د آيت شرح او څيړنه

دا مبارک آيت چې د (اسراء) سورت ٣٣ آيت دی د يو لړ الهي منهياتو په ترڅ کې راغلی دی چې د هغو له جملې څخه له الله تعالی سره شريک نيول، د مور او پلار آزارول، د اسراف او تبذير څخه ځان ژغورل، د بيوزلۍ او تنګ لاسی له ويرې د اولادونو وژنه، له زنا او بی حيايئ څخه لری والی، د يتيم د مال خوړل او په پای کې د تکبر، غرور او ځان ښودلو څخه ځان ساتل.

ketabton.com - The Digital Library

اما د پاملرنې وړ ټکی دا دی چې د نفس له وژلو څخه دوه ځله او په بیلابیلو بڼو منع راغلې ده.

د لوست له آیت څخه دوه آیته وړاندې داسې راغلي دي: ﴿وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ﴾ یعنې: خپل اولاد د فقر او بیوزلۍ له ویرې مه وژنئ، یعنې د بی ګناه نفس وژنه مه کوئ، بیا وروسته له زنا او بې حیایئ څخه منع راغلې ده او بیا په هغه پسې سمدلاسه د نفس د وژنې مسئله او د هغه حرمت وروسته له خاصې یادونې دویم ځل په عام ډول یادونه شوې ده چې دویم ځلي ټینګار په خپله دا څرګندوی چې د انسان وژنه ډیره لویه ګناه ده، ځکه اسلام د انسان وجود ته داسې ګوري چې ګواګي دا یوه بنا(تعمیر) ده چې د الله تعالی له خوا جوړه شوې ده نو هیڅا ته اجازه نشته چې دا تعمیر ونړوي او ړنګ یی کړي مګر دا چې د هغه اجازه یی لاس ته راوړې وي.

﴿وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ﴾ په دې مبارک آیت کې له نهی څخه سربیره د بی ګناه نفس د وژنې په حرمت هم تصریح شوې ده، نو هر کله چې نهی هم حرامالی دی او ښکاره حرمت هم راغلی نو ګواګي دوه ځلې یی په حرمت ټینګار او تاکید شوی دی په دې وجه په هغه حدیث کې چې بیهقی او نسایي او نورو محدثینو له پیغمبرﷺ څخه نقل کړي: چې د مسلمان د وژنې ګناه د ټولې نړۍ له نړولو څخه لویه ګڼل شویده.

د الله رسولﷺ وفرمایل: "لَزَوَالُ الدُّنيا أَهْوَنُ على الله مِن قتلِ رجل مسلم"[1]. **ژباړه:** د ټولې نړۍ له منځه تلل د الله په وړاندې د مسلمان له وژنې څخه ډیره بی ارزښته ده؛ یعنی که یو تن ټوله نړۍ ونړوي او خرابه یې کړي دا د یو مسلمان له وژنې څخه ډیره کمه ده.

نو د همدې ټینګار پر اساس و چې حضرت ابن عباسؓ به پر دې فتوی ورکوله چې د مسلمان د قصدي او عمدي وژونکي توبه هیڅکله هم نه قبلیږي او هغه به د تل لپاره په اور کې سوځیږي.

(إلا بالحق) په (لا تقتلوا) پورې اړه لري او دا له عامو حالتونو څخه استثناء ده، یعنی په هیڅ حالت د حالتونو کې هغه مسلمان نفس چې الله تعالی یی وژنه حرامه کړې ده مه وژنئ مګر دا چې د داسې څه مرتکب شوی وي چې د ده وژنه مباح کوي، د "إلا بالحق" توضیح او تفسیر په هغه حدیث کې چې بخاري او مسلم نقل کړی راغلی دی چې رسول

---

[1] – سنن نسائی.

ketabton.com - The Digital Library

الله ﷺ فرمايلي دي: "لا يَحِلُّ دَمُ امرئ مسلم يشهدُ أَن لا إله إلا الله وأني رسول الله، إلا باحدى ثلاث: الثَّيِّبُ الزَّاني، والنَّفْسُ بالنَّفْسِ، والتَّارِكُ لدينِهِ، المفارقُ للجمَاعَةِ"[1]. يعني: د هغه مسلمان د وينې تويیدنه چې د الله په وحدانیت او د رسول علیه السلام په رسالت ګواهي ورکوي روا نده مګر په ارتکاب د یو له دریو شیانو: د نفس وژنه(چې په قصدي توګه وي)، زنا کول د محصنتوب په حالت کې، یعنی چې زاني نکاح کړې وي اوبل د دین پریښودونکی(مرتد)کوم چې د مسلمانانو له ډلې څخه جلا شوی وي.

دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې د کافر وژنه هم په هغه صورت کې، چې محارب نه وي، یعنی د مسلمانانو پر ضد د جنګ په صف کې ولاړ نه وي، د همدې مبارک آیت په حکم سره روا نه ده، ځکه په آیت کې د اسلام قید نه دی یاد شوی بلکې نفس مطلق ذکرشوی دی، نو هغه کافران چې له مسلمانانو سره ژمن(معاهد) دي یا هغه کافران چې د مسلمانانو په سیمو کې ژوند کوي (ذمیین) یا هغه کسان چې د ویزې او پاسپورټ د اجازې له لارې اسلامي هیوادونو ته سفر کوي، د دې ډول خلکو وژنه روا نه ده. اسلام د وینو بهولو او وژلو دین نه دی، بلکې د امن او رحمت دین دی او یوازې د هغو کافرانو د وژلو اجازه ورکوي چې د اسلام د دین د دعوت د خپریدو مخه نیسي او جنګ ته پرسولې ترجیح ورکوي.

﴿وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا﴾ د دې مبارک آیت دا برخه موږ ته دا را په ګوته کوي چې د اسلام سپېڅلی دین د خلکو له وینو څخه په ټوله معنا داسې ساتنه کوي لکه څنګه چې د خلکو د مالونو عزت او حیثیت څخه ساتنه کوي. اسلام له یوې خوا د خلکو په ژوند کې د اخروي جزا ویره پیدا کوي او فرمایي: ﴿مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا﴾ (المائده/۳۲). **ژباړه:** څوک چې یو نفس پرته له بدل یا فساد نه په ځمکه کې وژني نو لکه چې ټول خلک یې وژلي وي.

ترڅو خلک د وینو تویدو د اخروي جزا په لویوالی وپوهیږي او د داسې جرم له ارتکاب څخه لاس واخلي، له بلې خوا یې قاتل ته سخته دنیوی سزا وټاکله چې هغه قصاص دی، ځکه که چیرې شیطان هغه تېر باسي او له آخرت څخه یې غافله کړي نو له دنیوي سزا څخه به وویریږي او د خلکو وینې به و نه بهوي، او د مبارک آیت دا برخه همدې دنیوي

[1] – صحیح البخاری، کتاب الدیات باب قول الله تعالی أن النفس بالنفس.

ketabton.com - The Digital Library

سزا ته اشاره کوي، فرمايي خوک چې په مظلومه توګه ووژل شي يعنی پرته له داسې عمل کولو چې د ده د وژلو لامل وي نو مور د ده د ولي او د ده د وينو وارث ته برلاسي او قدرت ورکړی دی. له ولي څخه هغه خوک مراد دی چې د وژل شوي د وينو بدله غواړي لکه پلار يی زوی يا ورور يی او يا د نږدې خپلوانو څخه يی کوم بل تن. او په هغه صورت کې چې وژل شوی کس هيڅ ولي ونه لري، نومسلمان حاکم د هغه ولي ګڼل کيږي او د سلطان څخه هغه قوت مراد دی چې اسلامي شريعت د وژل شوي ولي ته وربښلی دی په داسې توګه چې هغه ته يی په يو له دريو شيانو عام او تام اختيار ورکړی دی: يا له وژونکي څخه بدل (قصاص) يا د وينې بيه(ديت) يا عفو او بښنه. خرنګه چې شريعت د وژل شوي لوري ته زياته پاملرنه لري نو ځکه خوک د ده د مطلقی آزادی او خپلواکی مخه نشي نيولی، البته داسې نصيحت ورته کولای شي چې د قصاص په ځای عفوه غوره کړي يا ديت واخلي خو زور پرې نشي کولای.

﴿فَلاَ يُسْرِف فِّي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا﴾ د مبارک آيت دا وروستنی برخه د وژل شوي وارث او ولي ته داسې ارشاد کوي چې هرکله اسلامي شريعت ده ته دا قوت ورکړی او د ده په څنګ کې د ده د حق ورکولو لپاره دريدلی دی نو په وارث هم لازمه ده چې د ټاکلو پولو څخه تيری ونه کړي مثلاً دوه تنه د يو تن په بدل کې مړه نه کړي يا له قاتل پرته بل کوم خپلوان يی د قصاص لپاره غوره نه کړي يا وژونکی له قصاصه وروسته مثله نه کړي يعنی د بدن غړي يی پرې نه کړي. له اسلام نه مخکې د جاهليت له عادتونو څخه دا هم و چې په وژونکي سربيره به يې د هغه د کورنۍ نورغړي هم وژل او يا دا چې وژونکی به د لوړې او شريفې کورنۍ څخه نه و نو دوی به دا وژونکی پريښود، د هغه له قوم او ټبر څخه به يی بل تن چې د وژل شوي سره به په رتبه کې مساوي و هغه به يی واژه، خو په اسلام کې دا ټول په وژنه کې اسراف او تيری ګڼل شوی او منع دی.

د ﴿إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا﴾ جمله په حقيقت کې په وژنه کې له اسراف څخه په منع تعليل او استدلال دی. او د (إنه) ضمير د وژل شوي ولي ته راجع دی، يعنی په وژنه کې دې دا ولي اسراف او تيری نه کوي ځکه الله تعالی د هغه سره د خپل شريعت له لارې مرسته کړيده او د مسلمانانو حاکم يی ورته د مرستندوی په توګه ټاکلی دی.

ketabton.com - The Digital Library

شلم لوست

د تېر لوست پاتې برخه

د انسان د وينو تويولو حرمت

په مبارک آيت کې غور او سوچ

د لوست مبارک آيت لکه څنګه چې يو شمير مفسرين فرمايي، لومړنی آيت دی چې د قتل په هکله نازل شوی دی. هرکله چې انسان په هغه کې ژور فکر او نظر واچوي، نو ډيرې لويې چارې به پکې ومومي. په لومړي قدم کې د هغه عمل له ترسره کولو نه په ډيرشدت او ټينګار سره منع راغلې ده چې د لويو ګناهونو له جملې څخه ګڼل کيږي او د الله د قهر او غوسې لامل ګرځي چې هغه د بې ګناه نفس وژنه ده او په صراحت سره يې په اړه په بل آيت داسې فرمايلي دي: ﴿وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾ [النساء/٩٣].

ژباړه: او هغه څوک چې ووژني مؤمن په قصد سره نو د هغه جزا جهنم دی، هميش به وي په دې کې او غضب کړی دی الله پر هغه او لعنت يی کړی پر هغه او تيار کړی يې دی د هغه لپاره عذاب لوی.

او په بل ځای کې د نفس له وژنې څخه ممانعت د شرک نه د نهې سره يوځای ذکرشوی دی الله تعالی فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا﴾ [الفرقان/٦٨].

ژباړه: او(د الله نيک بندګان) هغه کسان دي چې د الله ترڅنګ نور خدايان نه بلي او نه وژني هغه نفس چې پرته له حق نه يی وژل الله تعالی حرام کړي دي.

همدارنګه په دې هکله د رسول اللهﷺ په احاديثو کې هم منع راغلې ده، په هغه حديث کې چې بخاري او مسلم دواړو بيان کړی دی د الله رسولﷺ د قيامت په ورځ د خلکو په منځ کې لومړنی الهي فيصله او پريکړه د وژنې او وينې تويونې تاکلې ده او داسې فرمايي: "أَوَّل مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ القِيَامَةِ فِي الدِّمَاءِ" [1]. يعنی: د قيامت په ورځ لومړنی شی چې د هغه په هکله فيصله کيږي هغه د وينې تويونې فيصله ده.

---

[1] – صحيح البخاری، كتاب الديات.

ketabton.com - The Digital Library

په بل حديث کې راغي: "لَوْ أَنَّ أَهْلَ السَّمَاءِ وَأَهْلَ الأَرْضِ اشْتَرَكُوا فِي دَمِ مُؤْمِنٍ لَأَكَبَّهُمُ اللهُ فِي النَّارِ"[1]. يعنی: که چيرې د آسمانونو او ځمکې خلک د يوه مسلمان په وژنه کې راټول او شريک شي نو پاک الله به ټول په دوزخ کې واچوي. په دې شديده منع کې اصلي لامل دا دی چې وژنه د ټولنې د وګړو ترمنځ د کينو، دښمنيو او جګړو خپريدو لامل ګرځي.

دلوست مبارک آيت په دويم قدم کې د وژل شوي د اولياوو لپاره داسې لارښوونې کوي چې د هغوی نفس آراموي، قهر او غوسه يې کموي او د غچ اخيستلو جذبه يې له منځه وړي، ځکه دوی په ډاډمن زړه په قصاص برلاسي کوي، حکومت او قوت ټول د دوی په واک کې ورکوي.

دا حقيقت دی چې انساني فطرت د خپلوانو د وژلو په صورت کې په ډيره تيزۍ سره د غچ اخيستلو غوښتونکي دي او که داخلي آرامتيا او هوساينه ونه مومي، نو هر ډول ناسمو کړنو ته لاس اچوي، خو کله چې پوه شي چې الله او د الله شريعت او د مسلمانانو حاکم ټول د ده په طرف دي او په آسانۍ سره خپل مقصد ترلاسه کولی شي، نو په خپل سر او خپله خوښه څه کار ته لاس نه اچوي.

د آيت لنډ مفهوم

په لنډه توګه ويلای شو چې د دې لوست مبارک آيت په ډير ټينګار سره د نفس له وژلو او وينو تويولو څخه منع کوي، برابره ده چې مسلمان وي يا غير مسلم خو چې محارب نه وي، البته د مسلمان د وژلو ګناه د نورو په پرتله ډيره زياته ده، همدا لامل دی چې ډير فقهاء (پرته له احنافو) په دې آند دي چې مسلمان د اهل ذمه په وړاندې نه قصاص کيږي خو د هغو وژنه روا نده او وژونکی ډيره لويه ګناه ترسره کوي نوځکه د تعزير او سزا وړ دی، د تاکيد او ټينګار قوت له دوو شيانو څخه څرګندږي يو تعميم وروسته له تخصيص، يعنی وروسته له ځانګړې منعې څخه چې د اولاد له وژلو څخه په مخکيني آيت کې راغلې ده او په دې دويم آيت کې په عمومي توګه د مطلق نفس له وژلو څخه منع راغلې ده او هم يې په حرمت تصريح شوې ده، البته د عمومي نهې څخه ځينې ځايونه استثناء شوي دي چې د نبي کريمﷺ مبارکو احاديثو هغه معين کړي دي، د دې تر څنګ د ناحقه وژنې په صورت کې اسلامي شريعت د مقتول ورثه پر قاتل برلاسي کوي

[1] – سنن ترمذی، باب الحکم فی الدماء

ketabton.com - The Digital Library

چې که وغواړي له هغه څخه قصاص يا د خپل وژل شوي د وينو ديت واخلي يا وروسته له بښړې برلاسي يې معاف کړي چې دا کار د شريعت ترغيب او تشويق هم له ځانه سره لري، د آيت په وروستۍ برخه کې دې ته اشاره شويده چې هرکله له قاتل څخه د مقتول د غچ اخيستلو په هکله محمدي شريعت د مقتول د ولي مرستندوی دی، نو بايد هغه د اسلام له چوکاټ څخه ونه وځي او په داسې کارونو لاس پورې نه کړي چې ناروا او د قرآن په تعبير سره اسراف او تيری بلل کيږي.

فعاليت

زده کوونکي دې په دريو ډلو وويشل شي او د لاندينيو دريو موضوعګانو په هکله دې بحث او څيړنه وکړي:

۱ـ د اسلامي قوانينو او احکامو ټولنيزوالی ۲ـ د اسلامي احکامو او قوانينو فطري والی ۳ـ د امن او جګړو په له منځه وړلو کې د اسلام نقش.

د لوست ګټې او لاربښوونې

په دې لوست کې ډېر درسونه او عبرتونه نغښتي دي چې يوې ګوښې ته يې اشاره کيږي:

- ❖ د بيوزلۍ يا د شرم او ننګ له ويرې د اولاد وژلو حراموالی لکه چې د جاهليت په وخت کې به يې خپلې لورګانې وژلې.
- ❖ پرته له حقه د نفس د وژلو حرمت.
- ❖ په دغو صورتونو کې د نفس د وژلو جواز: کله چې څوک قصداً ووژني، دا چې محصن زنا وکړي او يا دا چې له دين څخه وګرځي او د مسلمانانو ډله پريږدي په دې شرط چې په خپله خوښه يې ايمان منلی وي.
- ❖ د دې خبرې اثبات چې اسلامي احکام په بشپړه توګه د انساني فطرت سره برابر دي.
- ❖ حکومتي چارواکو ته دنده سپارل که هغوی قاضيان وي يا حاکمان ترڅو د مقتول له ورثې سره مرسته وکړي.
- ❖ د مقتول د قوم او ټبر د بيځايه تيريو مخه نيول.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱ـ لاندې کلمې وژباړئ:

{وَلَا تَقْتُلُوا} {إِلَّا بِالْحَقِّ} {مَظْلُومًا} {لِوَلِيِّهِ} {سُلْطَانًا} {مَنْصُورًا}

۲ـ د منهياتو په هکله چې د لوست د مبارک آيت څخه معلومېږي خپل معلومات وليکئ؟

۳ـ هغه دوه اړخونه چې د نفس د وژنې پر ممانعت دلالت او ټينګار کوي، څرګند کړئ؟

۴ـ د نفس وژنه په کومو حالاتو کې جواز لري؟

۵ـ له قصاص، ديت او عفوې څخه څه مراد دي او کوم يوغوره دی؟

٦ـ دا جمله: ﴿فَلاَ يُسْرِف فِّي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا﴾ تفسير کړئ؟

۷ـ په مبارک آيت کې له «سلطان» څخه څه مراد دی؟

۸ـ د جاهليت د خلکو عکس العمل د وژنې په هکله څه و؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د لاندې دوو موضوع ګانو څخه يوه موضوع غوره کړي او د هغې په هکله دې يو مخ لنډ تفسير وليکي.

۱ـ د قرآن کريم په آيتونوکې د نفس د وژنې ګناه.

۲ـ د نبي کريمﷺ په احاديثو کې د نفس د وژنې ګناه.

ketabton.com - The Digital Library

يوويشتم لوست

د خلکو پر شتمنيو د تيري حرمت

قال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ وَلاَ تَقْتُلُواْ أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ [النساء ٢٩]

د کلمو معنا

آمَنُواْ: ايمان مو راوړی، يعنی الله او د هغه رسول ربښتينی ګڼئ.

بِالْبَاطِلِ: په ناحقه او ناروا توګه.

تِجَارَةً: پيرودل او پلورل، اخيستل او خرڅول، سوداګري.

عَن تَرَاضٍ: د دواړو خواوو په خوښه.

وَلاَ تَقْتُلُواْ أَنفُسَكُمْ: او خپل ځانونه مه وژنئ، د يو او بل د نفسونو او ارواحو د له منځه وړلو لامل نه شئ.

ژباړه

ای مؤمنانو، مالونه مو په خپلو منځونو کې په ناروا مه خورئ، مګر هغه چې د طرفينو د خوښې په رڼا کې د راکړې ورکړې له لارې وي. او مه وژنئ ځانونه مو، بيشکه الله پاک پر تاسې ډير مهربان دی.

تفسير

د آيت شرح او څيړنه

دا مبارک آيت د قرآني آيتونو څخه يو ډير عظيم آيت دی چې د بشر لپاره د ژوند کولو اصول او قواعد بيانوي او هغوی ته د دې لارښوونه کوي چې په ټولنه کې بايد د ځنګل قانون حاکم نه وي او نه هم خلک د خپلو مالونو په ساتنې کې د ظلم اوتيري ښکارشي او يا په چل او دوکې سره د هغوی مالونه او پانګې لوټ شي. همدارنګه بايد د خلکو په نفسونو حمله ونشي او يا يې بيځايه وينې ونه بهيږي. ټول شيان بايد محفوظ او ساتلي واوسي، خو يوازې د اړتياوو او ستونزو د له منځه وړلو لپاره يو شی د تجارت په

ketabton.com - The Digital Library

نامه(پلورل او پیرودل) چې په هغه کې د خلکو مصلحت دی روا او مباح دی هغه هم په دې شرط چې د دواړو خواوو په رضایت او خوښۍ سره وي.

د یادولو وړ ټکی دا دی دا مبارک آیت د هغو آیتونو په لړ کې ځای لري چې د ژوندانه چارې تنظیموي، لکه د کورنۍ تشکیل، د محرماتو بیانول، د میراث ویشل او داسې نورمسایل. له دې آیت څخه وړاندې د احکامو آسانی، د شرعي قوانینو تخفیف او د انساني فطرت سره د دې احکامو مطابقت او برابرۍ ته اشاره شوې ده چې زمور د همدې لوست آیت له فطرت سره د اسلام د دین دمطابقت او برابري لپاره یوه غوره بېلګه ده. ځکه انسان فطرتاً هیڅا ته اجازه نه ورکوي چې پرته د هغه له رضا او اجازې د هغه په اړوندو مالونو کې تصرف وکړي. بناء قرآن کریم داسې فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾ مفسرین وایې: د محرماتو یا هغو ښځو یادونه چې نکاح یې پر انسان حرامه ده په مخکني آیت کې او ورپسې آیت کې په ناحقه توګه د خلکو د مالونو د خوړلو د حرمت یادول، پر دې دلالت کوي چې په کومه اندازه د انسان مور، خور او داسې نور پر هغه حرام دي د نورو کسانو مالونه هم په هماغه اندازه پرانسان حرام او ناروا دي. له دې امله که انسان فکر وکړي دا مسئله ډیره حساسه او دقیقه ده. له ﴿ لاَ تَأْكُلُواْ﴾ څخه مراد یوازې خوراک نه دی، بلکې موخه یې ټول ناروا تصرفات دي. هرکله چې په غالبه توګه د یوه شي اخیستل د هغه د خوړلو لپاره وي نو دلته هم د اکل په کلمې سره ورځنې تعبیر شوی دی. له ﴿بِالْبَاطِلِ﴾ څخه مراد هر هغه طریقه او لاره ده چې د اسلامي شرعې خلاف وي، لکه سود، جواري، خیانت، ظلم او داسې نور. د مبارک آیت د دې جملې معنا داسې ده چې یو د بل په مالونو کې د شرعې پر خلاف هیڅ ډول بېځایه تصرفات مه کوئ، ځکه تاسو ایمان غوره کړی دی او هغه د خلکو د حقوقو د مراعاتولو غوښتونکی دی.

﴿إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ﴾ دا استثناء منقطع استثناء ده، په دې معنا چې تجارت د باطلو مواردو لاندې نه راځي، نو باید داسې تعبیر ونشي چې مه خورئ خپل مالونه په خپلو منځو کې په باطله توګه مګر دا چې د تجارت او یو د بل په رضایت سره وي، بلکې دا جمله په ځانګړې توګه د یو د بل د مالونو په خوړلو سره په حقه او صحیح توګه ښوونه کوي. یعنی که د تجارت په طریقه او د دواړو خواوو د بشپړ رضایت په شرط یو د

ketabton.com - The Digital Library

بل مالونه وخورئ. دا جواز لري. البته د نورو د مالونو خوړل يا يې تر لاسه کول څه نوري جايزې طريقې هم لري لکه صدقه او خيرات ورکول، ميراث وړل، د کار په مقابل کې مزدوري اخيستل او داسې نور، خو کله چې تجارت تر ټولو زياته دوديزه او پراخه لاره ده، نو ځکه په آيت کې هغه ته اشاره شوې ده.

﴿وَلاَ تَقْتُلُواْ أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ د(**انفسكم**) کلمه په دوو معناوو اخيستلای شو: يو دا چې په خپله د هماغه کس (شخص) نفس مراد دی يعنی خپل ځانونه مه وژنئ او خپل نفسونه مه هلاکوئ.

دويم دا چې له نفس څخه د مسلمان وروړنفس مراد دی چې په منعې او رټنې کې د مبالغې له امله ورڅخه په نفس تعبير شوی دی، گواکې د يوه مسلمان وژنه داسې ده لکه چې يو انسان خپل نفس وژلی وي.

مفسرينو د دې مبارک آيت د تفسيرپه ترڅ کې دا هم څرگند کړي دي د دې وروستی جملې څخه کولای شو دا ومومو، کومو محرماتو ته چې په دې مبارک آيت او مخکنيو آيتونو کې اشاره شوې ده او د دغو گناهونو ترسره کول، د نفس د قتل سره د گناه له حيثه برابره ده. يعنی که چيرې تاسې په خپلو کې د يو او بل مالونه په ناحقه وخورئ او د فطرت خلاف نور گناهونه ترسره کړئ نو گواکې ځانونه مو هلاک کړي او له منحه مو وړي دي.

د پيغمبرﷺ له صحابه وو څخه يو صحابي د دې مبارک آيت څخه څانگړی مطلب اخيستی چې د دې آيت د تفسيريوه برخه گڼل کيږي او د اسلام د مقدس دين آساني څرگندوي. دا پيښه ډيرو مفسرينو او محديثينو نقل کړې ده.

ابن کثير رحمه الله وايي: امام احمد له عمرو بن العاصؓ څخه روايت کوي چې هغه وايي: رسولﷺ زما په مشری يوه ډله صحابه يو ځای ته وليږل، نوتقدير يوه شپه چې ډيره سړه وه، زه احتلام شوم او د مرگ له ويرې مې غسل ونه کړ، تيمم مې وکړ او صحابه وو ته مې د سهار د لمانځه امامت هم ورکړ او کله چې رسولﷺ ته حاضر شوم، قصه مې ورته وکړه. دوې وفرمايل: ای عمرو! په داسې حال کې چې جنب وې يارانو ته دې لمونځ هم ورکړ؟ عمرو وايي ومی ويل، ای د الله رسوله شپه ډيره سړه وه او زه له مرگه وويريدم، نو د الله دا وينا مې را په ياده کړه چې فرمايي: ﴿وَلاَ تَقْتُلُواْ أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ د الله رسولﷺ وخندل او څه يې ونه ويل.

ketabton.com - The Digital Library

نو د الله د رسول سکوت د دې نښانه وه چې د عمرو پوهه او مرام له مبارک آیت څخه صحیح و.کولای شو چې دا پیښه د دې آیت د تفسیري مواردو برخه وګڼو. او د ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ جمله دلالت په دې کوي چې کومه سلسله احکام په دې آیت کې راغلي دي ټول د الهي حکمتونو پر بنسټ او زمونږ په ګټه دي، باید دا په خپلو ځانونو کوم بوج و نه ګڼو، ځرنګه چې الله تعالی پر خپلو بندګانو بی حده مهربانه دی، نو خپل بندګان د دنیا او آخرت له ښیګڼو څخه پرته په بل څه نه مأموروي.

د نبي کریمﷺ د حدیث په رنا کې د مالونو حرمت

په هغه حدیث کې چې صحیح مسلم او یوه ډله لویو محدثینو نقل کړی راغلي دي رسولﷺ په **حجة** الوداع یعنی د ده په وروستني حج کې تر ټولو غوره او شامله خطبه وړاندې کړه او د څو زرو نفرو په لویه ټولنه کې یې په لوړ آواز پوښتنه وکړه ای خلکو تاسې په کومه میاشت کې یاستئ؟ آیا دا میاشت د ذوالحجې میاشت نه ده؟ صحابه کرامو ځواب ورکړ: هو، ده ای د الله رسوله، آیا دا دحرمت ښار(مکه مکرمه) نه دی؟ صحابه کرامو ځواب ورکړ، ولې نه، دی. دریم ځل یې پوښتنه وکړه، تاسو په کومه ورځ کې یاستئ؟ آیا دا د اختر ورځ نه ده؟ صحابه وو ځواب ورکړ، ولې نه ده، ای د الله رسوله، بیا وروسته په داسې حال کې چې له دې پوښتنو مخکې یې د دې شیانو د حرمت او عظمت اندازې ته اشاره کړې وه، ویې ویل: «إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا»[1] یعنی: په شئ او خبر اوسئ چې ستاسو وینې او ستاسو مالونه پر تاسې حرام دي، لکه د ستاسو د نن ورځې، د دې میاشتې او د دې ځای حرمت، یعنی لکه څنګه چې له یوې خوا د دې میاشې احترام، د دې ورځې احترام او د دې مقدس ځای احترام پر تاسو لازم او اړین دی، په همدغه اندازه د یو او بل د مال او نفس احترام پر تاسو واجب او لازم دی. له بله اړخه لکه څنګه چې له قوانینو څخه تیری او ماتول یی په ځانګړې توګه په دې دری ګونو څیزونو کې حرام او ناروا دي، په هماغه اندازه ستاسو په مالونو او نفسونو کې تیری هم حرام او ناروا دی. رسول الله ﷺ د دې مثال په وړاندې کیدو غوښتل څو د ګناه لویوالی یعنی د مسلمانانو په مالونو او نفسونو تیری د دوی په ذهنونو کې ښه ځای ونیسي او خپل امت دې مهم کار ته متوجه کړي،

[1] – صحیح البخاری، کتاب الفتن

ketabton.com - The Digital Library

څو هیڅکله د یو او بل پانګو او یا نفسونو او یا د یو د بل آبرو او عزت ته(لکه څنګه چې په څنو روایتونو کې د(اعراضکم) یعنی د عزت او آبرو کلمه هم راغلې ده) د تېرې او لاس اوږدولو جرات ونه کړي.

د آیت لنډ مفهوم

ذکر شوی آیت د لیکنې د ترتیب په اعتبار د قرآن مجید له سورتونو څخه د څلورم سورت یعنی د نساء د سورت آیت دی. دا سورت مدني سورت دی چې په هغه کې ډیر احکام او ټولنیزې مسئلې بیانیږي. لکه څرنګه چې د دې مبارک آیت اسلوب او طریقه د کورنۍ ژوند د نظم او ترتیب، حل او حرمت په هکله ده او تر ټولو ارزښتناکه یې هغه موضوع ده چې په دې آیت کې ورته اشاره شوې ده، یعنی د مالونو او نفسونو حرمت.

دا مبارک آیت د ایمان څښتنانو ته خطاب کوي چې ای مؤمنانو، آسماني حکم ستاسو لپاره دا دی چې خپل مالونه په خپلو کې په ناروا طریقو لکه سود، جواري، رشوت، غلا، ظلم، دوکو او داسې نورو طریقو مه خورئ، البته که غواړئ چې د مالونو د حاصلولو سمه لاره او طریقه وموږ نوتاسو ته د داسې تجارت لارښوونه کوم چې له چل او دوکې څخه پاک وي او هغه داسې تجارت دی چې د دواړو خواوو په عام او تام رضایت ترسره شوی وي.

د دې تر څنګ تاسو ته الهي امر دا دی چې نفس په ناحقه مه وژنئ، که ستاسو خپل نفسونه وي او یا د نورو مسلمانانو نفسونه. ځکه د مسلمان وینه، د مسلمان مال، د مسلمان عزت او آبرو ټول په اسلامي ټولنه کې باید ساتلی او محفوظ وي او که کوم سړی له دې اوامرو څخه سرغړونه وکړي نو سزا به یې هغه وي چې ورپسې آیت یې څرګندونه کړې ده: ﴿وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا﴾ (النساء/۳۰).

ژباړه: او هر څوک چې د تیري او تجاوز له مخې دا ناوړه کار وکړي نو ډیر ژر به یې اور ته ننباسو او دا کار الله پاک ته ډیر آسان دی.

فعالیت

زده کوونکي دې د هغو ستونزو او کړاوونو په هکله، چې زمونږ ټولنه ورسره د دې لوست د آیتونو او نبوي احادیثو د لارښوونو د نه عملي کولو له امله مخامخ شوې ده، له یو بل سره د محترم استاد په مرسته بحث او خبرې وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

د لوست ګټې او لارښوونې

په دې لوست کې ډېر درسونه او عبرتونه نغښتي دي چې يوې ګوښې ته يې اشاره کيږي:

- ❖ د مسلمانانو د مالونو څخه په ناسمه توګه د ګټې اخيستلو حرمت چې په هرې طريقې سره وي.
- ❖ د تجارت اباحت، روا والی او هغه ته د خلکو هڅول او تشويقول.
- ❖ پر هغو کسانو باندې رد کول چې د ناپوهۍ او توکل په پلمه کسب او کار منع ګڼي.
- ❖ په بيع او تجارت کې د رضايت او خيار د مسئلې ثابتول.
- ❖ د مسلمان لپاره د نفس د وژنې حرمت، که هغه خپل نفس وژنه يا په ناحقه د بل نفس وژنه وي؛ ځکه مسلمانان ټول د يوه بدن په څير دي.
- ❖ د قاتلانو او مال لوټوونکو لپاره د شديد او دردناک عذاب وعيد.

پوښتنې

۱ـ لاندې کلمې وژباړئ:

{بالباطل} {تجارة} {عن تراض} {و لا تقتلوا أنفسكم}

۲ـ د مالونو د خوړلو د څو بيلګو چې د باطلو په مفهوم کې داخلې دي د نومونو يادونه وکړئ.

۳ـ د﴿إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ﴾ جمله تفسير او تشريح کړئ.

۴ـ د دې مبارک آيت مخکينی او وروستنی آيت څه مسئلې بيانوي؟

۵ـ د ښځو د حرمت، د احکامو د آسانۍ او فطرت په اړوند د آيت د ربط په هکله څه پوهيږئ؟

٦ـ له ﴿أَنْفُسَكُم﴾ څخه څه مراد دی او توجيه يې څرنګه ده؟

۷ـ د نفس او مال د حرمت لويوالی په حديث شريف کې څرنګه بيان شوی دی؟

۸ـ په معامله کې د اسلام علماء د بشپړ رضايت نښه څه شی ګڼي؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د دې لوست لنډيز په يو مخ کې د آيتونو او احاديثو په رڼا کې وليکي او په مختصره توګه دې وژباړي.

ketabton.com - The Digital Library

دوه ویشتم لوست

گډ ژوندون او خواخوږي

قال الله تعالى: ﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ...﴾ [الفتح: ٢٩]

د کلمو معنا

{وَالَّذِينَ مَعَهُ}	او کوم کسان چې له هغه سره ملګري دي.
{أَشِدَّاءُ}	ډېر سخت.
{رُحَمَاءُ}	رحم کوونکي او خواخوږي.
{تَرَاهُمْ}	ته هغوی وېنې.
{رُكَّعًا سُجَّدًا}	درکوع او سجدې په حالت کې.
{يَبْتَغُونَ}	غواړي، په لټه او هڅه کې دي.
{فَضْلًا}	مهرباني، اجر او ثواب.
{وَرِضْوَانًا}	او رضا، خوښي.
{سِيمَاهُم}	نښې او علامې د هغوی.

ژباړه

محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی ، او کوم کسان چې له هغه سره ملګري دي هغوی پرکافرانو سخت او په خپلو مینځو کې خواخوږي دي. ته چې کله هغوی ګورې په رکوع او سجده، او د الله د فضل او د هغه د رضا په طلب کې يې بوخت مومې. د سجدو نښې نښانې د هغو پر وچولیو موجودې دي چې په هغې سره هغوی بیل پیژندل کیږي.

تفسیر

د آیت شرح او څېړنه

﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ دا مبارک آیت د (الفتح) د سورت وروستنی مبارک آیت دی چې په ټولیزه توګه او بیا په ځانګړې ډول وروستۍ نیمایي

ketabton.com - The Digital Library

برخه يې د مؤمنانو د حالاتو او صفاتو بيانوونکې ده. له دې آيت څخه په وړاندې آيتونو کې د رسول اللهﷺ نه د مسلمانانو د بې ساري اطاعت او فرمانبرداری، کوم چې د بيعت الرضوان پر مهال څرګند شو او له دې مطيع امت نه د رضايت اعلان او يادونه شوې ده. وروسته بيا د مسلمانانو د ځلاندې راتلونکې وړاندوينه داسې شوې چې ډېر ژر به دوی سره له ويارې مکې مکرمې ته ننوځي او څرنګه چې د دوی دين د هدايت دين دی نو پر ټولو اديانو به غالب شي. په پای کې دغه مبارک آيت د مؤمنانو اوصاف بيانوي چې دوی څه ډول کسان دي او په تورات، انجيل او قرآن کې څرنګه تعريف شوي دي، الله تعالی فرمايي: ﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ لومړی جمله د الله تعالی د پيغمبرﷺ ليارې چې د دې امت قائد او لارښود دی جميل وصف بلل کيږي. له دې څخه به بل لوی وصف څه شی وي چې د عالميانو باچا په بشپړ ټينګار سره دا فرمايي: محمد د الله رسول دی، يعنی داسې ونه ګڼئ چې محمد يوازې يو نابغه او يا کوم پوه او عالم دی، بلکې د هغه مقام(له دې صفاتوسربيره) له دوی څخه ډېر لوړ او اوچت دی. هغه د الله تعالی رالېږل شوی او په ځمکه کې د هغه ځانګړی استازی دی. او د جميل وصف دويمه جمله د پيغمبرﷺامت دی چې دوی د کفر، الحاد او طغيان په مقابل کې ډېر سخت او شديد دي، خو د مؤمنانو پر وړاندې که هغوی له هر قوم، قبيلې، توکم، ژبې او رنګ څخه وي ډېر خواخوږي، نرم او مهربانه وي، ابن عباس رضي الله عنه فرمايلي دي: له ﴿وَالَّذِينَ مَعَهُ﴾ څخه مراد هغه کسان دي چې په حديبيې کې حاضر وو، خو د جمهورو مفسرينو نظر دا دی چې مراد ترې ټول اصحاب کرام دي، دلته د مسلمانانو د لومړني نسل نه د نمونې په ډول يادونه شوې ده ځکه ټول امت له هغوی څخه پيروي کړې ده او د هغوی پر پله روان دي نو دا صفات لومړی په دوی کې او بيا په ټول امت کې څرګند پرې.

﴿تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا﴾ د مبارک آيت دا برخه د پيغمبرﷺ د ريښتينو يارانو د مواصفاتو بل اړخ ته اشاره کوي، يعنی سره له دې چې دوی د کفر، الحاد او طغيان په وړاندې ډېر سخت او شديد دي او د مؤمنانو پر وړاندې نرم او مهربانه دي، دوی هر وخت د الله تعالی په عبادت کې بوخت او مشغول وي د رکوع او سجدې له حالت نه مراد د لمونځ ادا کول دي، د عربي ژبې قواعدو ته په کتلو سره د(تراهم) صيغه د مضارع صيغه ده چې په دوام او استمرار دلالت کوي او پر لمانځه د مداومت او پابندۍ پايله ترې اخيستل

ketabton.com - The Digital Library

کيږي په دې معنا چې خپل لمونځونه په پابندۍ سره ادا کوي او له فرايضو سربېره نوافل هم ادا کوي. دلته يوه پوښتنه پيدا کيږي چې له دې نرمۍ، خواخوږۍ، شدت، رکوع او سجدې نه موخه او هدف څه شی دی او دوی ولې دغه کارونه ترسره کوي؟ نو د دې پوښتنې ځواب په همدې آيت کې راغلی دی او هغه دا دی چې ﴿يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا﴾ هغوی په خپلو ټولو کړنو او تحرکاتو سره د الله د فضل، ثواب، رضا او خوښۍ غوښتونکي دي.

﴿سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ﴾ سيما د يو شي نښې او علامې ته ويل کيږي. له وجوه څخه مراد وچولي او يا مطلق مخونه دي. کله چې يوانسان ډېرزيات لمونځونه ادا کوي نو الله تعالی يې خبرې ته يوه ځانګړې رڼا ورپه برخه کوي او کله هم د لمونځ کوونکي په وچولي کې د زياتو سجدو له امله يوه ځانګړې نښه خرګندېږي، نو مفسرين کرام وايي چې کېدای شي له دې دوو رايو څخه يوه مراد وي، خو که څوک وغواړی چې په خپل وچولي کې قصدا داسې نښه راپيدا کړي چې د هغه د سجدو پر کثرت دلالت وکړي نو له دې کار څخه په شريعت کې منع راغلې ده، ځکه دا کار د ريا او ځان ښودنې خرګندونه کوي چې په دې سره د انسان د اعمالو اجر او ثواب له منځه ځي، په هر حال که د مبارک آيت اشاره د اصحاب کرامو په وچولي کې هماغې ظاهري نښې ته وي نو بياهم مخکينۍ جملې دا خرګنده کړه چې د هغوی موخه او مقصد په خپلو ټولو کړنو سره د الله تعالی د ثواب، رضا او خوښۍ تر لاسه کول و.

ښېګڼه او خواخوږي د آيتونو په رڼا کې

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ...﴾ (المائده: ۵۴).

ژباړه: ای مؤمنانو که له تاسې نه څوک له خپل دين نه واوړي (نو وادې وړي) الله به نور ډير داسې خلک پيداکړي چې الله ته ګران وي او الله هغوی ته ګران وي چې له مؤمنانو سره به نرمي کوي او پرکافرانو سختی، د الله په لاره کې به هلې ځلې وکړي اود هيڅ ملامتوونکي له پرې اچولو څخه به نه ويريږي. په دې مبارک آيت کې الله تعالی په خرګند ډول راښيي چې څوک د مسلمانانو پر وړاندې له نرمۍ او مهربانۍ او د کافرانو پر وړاندې له سختۍ او غوسې څخه کار اخلي نو دوي د الله سره رښتينی محبت لري او د دغه محبت نښه دا ده چې الله هم

ketabton.com - The Digital Library

دوی خوښوي، څکه بنده که هر څومره د الله تعالی د محبت دعوا وکړي خو که دغه دعوی د الله له لوري تایید نشي او هغه ورسره د محبت څرګندونه ونکړی نو دعوا یې بې بنسټه ده.

که څه هم د مفسرینو په وینا د دې آیت د نازلیدو لومړی لامل او مصداق حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه او هغه کسان دي چې د ده ترمشرۍ لاندې د مرتدینو سره وجنګیدل او دا مبارک آیت د قرآن د غیبي خبرونو او معجزو څخه ګڼل کیږي څکه د کوم شي خبریې چې ورکړی ؤ همغه پیښ شو او د رسول اللهﷺ له رحلت وروسته یوه ډله خلک له دین څخه وګرځیدل او مرتد شول. د مسلمانانو لومړي خلیفه د خپلو یارانو په مرسته له دوی سره جهاد وکړ خو په قرآني الفاظو کې د لفظ عمومیت ته اعتبار او ارزښت ورکول کیږي، نو دا مبارک آیت پر دې دلالت کوي چې الله تعالی د خپلو بندګانو په وجود کې درې صفتونه خوښوي، یو دا چې د مومنانو پر وړاندې نرم خویه او مهربانه وي او د کافرانو په مقابل کې ډیر کلک او شدید. دویم دا چې د الله په لاره کې جهاد وکړي. دریم دا چې د حق په پیروۍ کې د هیڅ ملامتوونکي له ملامتیا څخه ونه ویریږي.

﴿وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ...﴾ (الحشر: ۹).

دا مبارک آیت د نبي کریمﷺ د انصارو یعنې د مدینې منورې د خلکو په ستاینه کې راغلی دی او د هغوی د دوستۍ او مهربانۍ وصف، بلکې د هغوی سرښندنې او ځان تیریدنې د تعظیم او تمجید وړ ګرځوي او فرمایي: او هرڅه چې هغو ته ورکړل شي د هغو څه اړتیا قدرې هم دوی په خپلو زړونو کې نه احساسوي او پرخپل ځان باندې نوروته ترجیح ورکوي اګر که په خپله محتاج هم وي.

قرآنکریم داسې صفتونو ته په درنه سترګه ګوري او ټول دې ته ترغیب او تشویقوي څو په خپله او هم د اسلامی ټولنې په نورو غړیو کې دا صفتونه ژوندي او پیدا کړي او خلک سوله ایز ژوند، نرمۍ او ښو اخلاقو ته راوبولي، پرته له شکه د الله د رسولﷺ له خوا یوه روزله شوې ډله داسې وه چې قرآنکریم یې کیسه داسې کوي: دوی له حده زیات په خپلو منځونو کې مهربانه وو په هره نوې لیدنه کې به یې یو او بل په غیږ کې نیول سره له دې چې په ځینو چارو کې دوی د نظر او رأیې اختلاف هم درلود خو یو او بل ته په احترام قایل وو حاکمانو په رعیت رحم او شفقت درلود او رعیت حکومت ته تابع او فرمان برداره ؤ، نومسلمانان باید په هر وخت او زمانه کې همداسې وي.

ketabton.com - The Digital Library

د آیت لنډ مفهوم

په ذکر شوي مبارک آیت کې د رسول الله ﷺ ستاینه او همدارنګه د ده د رښتینو پیروانو تعریف او ستاینه شوې ده. په لومړي پړاو کې د پیغمبرانو د سردار حضرت محمد ﷺ رسالت ثابتوي او په دویم پړاو کې خو شیانو ته اشاره کوي: لومړی دا چې د محمد ﷺ پیروان او صحابه د کافرانو پر وړاندې د دوی د کفر پر اساس ډیر غلیظ، شدید او سخت خویه وو، نه د ذاتي او شخصي دښمنۍ پر اساس، خو د مؤمنو او دیندارو وروڼو پر وړاندې مهربانه او نرم خویه وو. دویم دا چې دوی په داسې شي التزام او پابندي لري چې دوی دې نیکو صفتونو ته هڅوي او هغه د لمانځه اداء کول دي، د پاک قرآن د وینا پربنسټ ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ﴾ [العنکبوت: ۴۵] لمونځ انسان له ټولو بې حیاییو او ناوړتیاوو څخه منع کوي او پرته له شکه بدخویي او سختي د مسلمانانو په وړاندې یو ناوړه او بد عمل دی چې د حقیقي لمانځه په واسطه مسلمان ورځنې ژغورل کیږي.

دریم دا چې دوی د اخلاص خاوندان دي، یعنې په خپلو کړو وړو سره د الله له رضا پرته بل هیڅ موخه او هدف نه لري. څلورم دا چې د پاکۍ او ایمان نښې د دوی له سر او مخ څخه روښانه څرګندیږي چې خلک یې په سمه توګه پیژندلی شي او د دوی له لوري امن او ډاډ احساسوي.

دا مبارک آیت د لومړنیو مسلمانانو د صفتونو په بیانولو او د مسلمانانو پر وړاندې د دوی په نرمۍ او مهربانۍ باندې د آسماني تایید سره په اسلامی ټولنه کې د خواخوږۍ، ګډ ژوند او نرمۍ بنسټونه ږدي او پر دې اساس چې اسلامي امت د حقیقت د لارې د مخکښانو په پیروۍ مکلف دی ګواکې ټول دې نرمۍ ته رابلي او دا د هغوی دیني وجیبه ګڼي نو مسلمانان باید په خپلو کې سوله ایز ژوند ولري، جغرافیوي پولې د مذهبونو او نظریو اختلاف اویا د ژبو، قوم او رنګ اختلاف باید د مینې او ایماني محبت او ښه نیت او په خپل منځ کې د نیکې معاملې خنډ ونه ګرځي.

فعالیت

زده کوونکي دې په ټولګي کې د مسلمانانو تر منځ د نرمۍ او ګډ ژوند ګټې او د بې ځایه سختۍ او تشدد زیانونه په خپلو کې تر بحث او څیړنې لاندې ونیسي.

ketabton.com - The Digital Library

د لوست ګټې او لارښوونې

په پورتني آيت کې ډېرې ګټې او لارښوونې شتون لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي.

- ❖ د حضرت محمدﷺ د نبوت او رسالت اثبات او تاييد.
- ❖ د رسول اللهﷺ او د هغه د يارانو د دې صفت بيانول چې هغه د مسلمانانو پر وړاندې نرمي کول او د کفارو پر وړاندې شدت کول دي.
- ❖ د ګډ ژوند، ښېګڼې او خواخوږي د روحيې په لور د مسلمانانو ترغيب او تشويق کول.
- ❖ په خشوع، خضوع، رکوع او سجود سره د لمانځه د فضيلت بيانول.
- ❖ په کړنو، اعمالو او د الله د رضا په حاصلولو کې د اخلاص فضيلت.
- ❖ د اصحاب کرامو د مقام او مرتبې لوړوالی او په تورات او انجيل کې د هغوی د اوصافو يادونه.

پوښتنې

۱- لاندې کلمات وژباړئ.

{ أَشِدَّاءُ }، { رُحَمَاءُ }، { رُكَّعًا سُجَّدًا }، { يَبْتَغُونَ }، { فَضْلًا }، { رِضْوَانًا }، { سِيمَاهُم }.

۲- د ﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ﴾ مبارک آيت د کوم سورت برخه ده؟

۳- په دې آيت کې د صحابه ؤ کرامو څو صفاتو ته اشاره شوې ده؟

۴- قرآن مجيد د رسول الله ﷺ د يارانو د صفاتو په بيانولو سره له مؤمنانو څخه څه غوښتنه کوي؟

۵- د ﴿سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ﴾ جمله تفسير کړئ.

۶- د مسلمانانو دښمنی د کفارو له ذات سره ده که دهغوی له کفري صفاتو سره؟

۷- د دې لوست له ګټو اولارښوونو څخه څلور ګټې بيان کړئ.

کورنی دنده

زده کوونکي دې په خپله خوښه د لاندينيو دوو موضوعګانو په هکله يوه لنډه مقاله وليکي:

۱- په اوسني عصر کې تفاهم او ګډ ژوند ته د اسلامي امت اړتيا.

۲- د قرآن مجيد د آيتونو په رڼا کې د تفاهم او ګډ ژوندون فضيلت او ارزښت.

ketabton.com - The Digital Library

په قران کريم کې نمونه ځوانان

قال الله تعالى: ﴿نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى۞ وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا﴾ [الكهف: ١٣- ١٤]

د کلمو معنا

{نَبَأَهُم}	د دوی عجيبه خبر
{بِالْحَقِّ}	په رښتينولې او باور سره
{فِتْيَةٌ}	ځوانان وو
{زِدْنَاهُمْ هُدًى}	دوی ته مو هدايت زيات کړ
{وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ}	محکم مو کړ زړونه د دوی
{لَنْ نَدْعُوَ}	هيڅکله نه راغواړو او عبادت نکوو
{شَطَطًا}	بيکاره او دروغ خبره

ژباړه

مورږ د هغو اصلی قصه تاته (ای محمده) اوروو هغوی ځوتنه زلميان وو چې پرخپل پروردګار يې ايمان راوړی ؤ او مورږ هغو ته په هدايت کې زياتوالی ورپه برخه کړ. مورږ د هغو زړونه په هغه وخت کې محکم کړل چې کله هغوی پاڅيدل او اعلان يې وکړ چې زمورږ رب فقط همغه ذات دی چې د آسمانونو او ځمکې رب دی مورږ به له هغه پرته نور کوم معبودان ونه بلو که مورږ دغسې وکړو نو بيخي بابيزه خبره به مو کړې وي.

تفسير

د آيتونو شرح او څيړنه

ياد شوي مبارک آيتونه د (الکهف) له سورت څخه دي چې څلور ډيرې لويې پيښې رانغاړي: لومړی د کهف د اصحابو کيسه . دويم د هغو خلکو کيسه چې الله ورته دوه سمسور بڼونه

ketabton.com - The Digital Library

وربښلي وو. دريم د حضرت موسی عليه السلام کيسه د الله دنيک بنده سره او څلورم د ذوالقرنين کيسه. خو د دې سورت ډير آيتونه د کهف د ملګرو په کيسې پورې تړاو لري، چې د ايمان د پياوړتيا يوه بيلګه ده او د دنيا پر مال او ښايست آخرت ته ترجيح ورکوي. د دې کيسې په اتلانو کې د هغو ځوانانو لپاره غوره لارښوونه او اقتداء ده چې د خپلې عقيدې او ايمان لپاره د ظلم او زياتي پر وړاندې دريږي او له يو الله پرته د بل هيڅا څخه ويره نه لري.

﴿نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى﴾ وروسته له دې چې په څو وړاندينيو آيتونو کې د کهف د ملګرو کيسې ته لنډه اشاره کيږي او له دې پيښې څخه د الله د يوې عجيبې نښې په عنوان يادونه کيږي، دادي په دې مبارک آيت کې په مفصله توګه د کهف د ملګرو کيسه پيليږي او فرمايي: ﴿نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ﴾ مور د دوی زړه وړونکی خبر په رښتينې او حقيقي توګه تا ته ای محمده، بيانوو.

(نبأ) په عربي ژبه کې هغه خبر ته ويل کيږي چې د ستر ارزښت لرونکی وي.

﴿إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى﴾ (فتية) د (فتى) جمع ده، فتى هغه ځوان ته ويل کيږي چې تر او تازه وي يا د ځوانۍ په اوصافو بشپړ وي، نو د مبارک آيت تفسير داسې کيږي: هغوی تنکي ځوانان وو د ځوانۍ په صفتونو ستايل شوي چې په خپل پالونکي الله يې ايمان راوړ او مور د دوی په ايمان کې زياتوالی راوست، د ايمان له زياتوالي څخه مراد په ايمان ثابت قدم پاتې کيدل او د الله له لوري د نيک عمل په توفيق مشرف کيدل دي.

﴿وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا﴾ (ربط)په عربي کې د يوه شي تړلو ته وايي او په مجازي توګه په مبارک آيت کې د صبر او زغم ورکولو ته ويل کيږي، په دې معنا چې د دوی زړو ته مو د داسې استقامت څخه ډک کړل چې هيڅکله د ظالم پادشاه ويرې اود ښځې، زامنو او ټاټوبې په پريښودلو د دوی قدمونه ونه لړزيدل، البته دا د زړونو تړل او استقامت هغه وخت د دوی په برخه شو چې کله په خپلو پښو ودريدل يعنې ټينګ هوډ يې وکړ او چيغې يې کړې چې ﴿رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ يعنی زمور پروردګار همغه د اسمانونو او ځمکې پروردګار دی او مور پرته له هغه بل الله نه پيژنو او له هغه پرته د بل هيڅ معبود لمانځنه نه کوو، ځکه که داسې وکړو نو په حقيقت کې به مو د حق نه لرې خبره ويلې وي ﴿لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا﴾ (شطط) اصلا هغه څه ته

ketabton.com - The Digital Library

ویل کیږي چې لرې او ناممکنه وي، په دروغو، دوکې او ظلم یې هم اطلاق کیږي او دا ټولې معنا ګانې د مبارک آیت له لفظ څخه مرادیږي.

د آیتونو د نزول سبب

د کهف د ملګرو د کیسې په اړوند د آیتونو د رالیږلو لامل دا ؤ چې د مکې مشرکانو د یثرب (مدینې) له یهودیانو څخه وغوښتل چې څو دوی ته د داسې څیزونو لارښونه وکړي چې په هغه سره د الله رسول و ارزوي او په دې توګه یې د رسالت صحت او عدم صحت څرګند کړي. یهودو خبر ورکړ چې د دریو شیانو په اړه له ده څخه پوښتنه وکړئ: لومړی دا چې د کهف د ملګرو کیسه څرنګه وه. دویم د ذوالقرنین او دریم د روح په باره کې، که چیرې هغه دوه لومړنیو پوښتنو ته ځواب وویل اود دریمې په هکله یې چُپتیا غوره کړه نو هغه د الله استازی دی. کله چې مشرکانو دا پوښتنې وکړې نو الله تعالی ورته د اصحاب کهف او ذوالقرنین دواړه پیښې د کهف په سورت کې مفصلا بیان کړې. او د روح په هکله آیت نازل شو چې ﴿قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا﴾ [الاسراء : ۸۵] **ژباړه:** ووایه روح یو امردی چې زما الله پورې اړه لري او تاسې ته علم نه دی درکړې شوې مګر ډیرلږ.

د اصحاب کهف کیسه

د اصحاب کهف کیسه په لنډه توګه لکه څرنګه چې په کابلي تفسیر کې ټوټه ټوټه راغلې ده داسې بیانوو:

وایي چې دا څو رومې تنکي ځوانان وو چې د کوم ظالم او زورور باچا په وخت کې یې ژوند کاوه چې نوم یې ځینو «د قیانوس»یاد کړی دی. دا باچا په بوت لمانځنه کې ډیر غرق ؤ او په ظلم او زیاتي سره یې بوت لمانځنه خوروله، خلکو د ده د جبر او عذاب له ویرې او یا د څو ورځو دنیوي ګټو په خاطر خپل مذهبونه پریښودل اود بوت په عبادت مشغول شول په دې وخت کې څو ځوانان چې د حکومت د لویو کورنیو او چارواکو پورې یې تړاو درلود په دې فکر شول چې د مخلوق د خوشحالۍ په وجه د خالق رضا له لاسه ورکول مناسب کار نه دی نو څرنګه چې د دوی زړونه د ایمان او تقوی اود الله د وېرې څخه ډک وو او الله تعالی دوی ته د صبر، ثبات، توکل او له مجازي خدایانو څخه د بې زارۍ وسه او توان ورکړې وه نو د باچا پر وړاندې یې هم یوه مستانه چیغه وکړه چې ﴿لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا

ketabton.com - The Digital Library

شَطَطًا﴾ او په دې توګه يې خپله زړه ورتيا، خپلواکې او عقيده څرګنده کړه او ټول خلک يې حيران کړل، باچا له يوې خوا د دوی پر ځوانۍ رحم وکړ او له بلې خوا څه چارې او مصلحتونه د دې مانع شول چې دوی سمدستي ووژني نو په دې وجه يې هغوی ته څو ورځې مهلت ورکړ څو په خپلو کارونو کې فکر او غور وکړي، دوی له مشورې وروسته پريکړه وکړه چې په هر حال خطر خو راته متوجه دی او اروميرو د هغه د ظلم او زياتي څخه عاجز او قدمونه مو ښوييږي نو مصلحت دا دی چې د ښار په شا او خوا د کوم غره په غارکې پټ شو او ښارته د راستنيدو لپاره يوه مناسبه موقع ولټوو د خپل وړاندیز په ټينګار يې دعا وکړه چې يا الله ستا په ځانګړي رحمت زموږ کارونه سم کړه او موږ ته د کاميابۍ او هدايت لاره وښيه او په پای کې زموږ واړه کارونه سم کړه! همغه وه چې له ښاره ووتل او ښار ته نږدې د يوه غره په يو غار کې پټ شول او په خپلو کې يې يوتن وټاکه چې خپل حالت بدلوي او کله ناکله ښار ته ځي څو خپلې اړتياوې او ضرورتونه له بازاره واخلي اود ښار له حال احوال څخه هم ځان خبر کړي کوم کس چې د دوی له ډلې څخه د دې کار لپاره ټاکل شوی ؤ يوه ورځ يې خبر راوړ چې نن د حکومت جاسوسان په ښار کې زموږ پلټنه کوي او زموږ خپل او خپلوان دې ته اړ باسي چې زموږ پټ ځای هغوته وښيي، په همدې يادونه کې وو چې ناڅا په الهی قدرت پردوی د خوب غلبه راغله او پلټونکو چې هر څومره پلټنه وکړه د دوی پته يې ونه لګوله، ناهيلي شول او له پلټنې څخه لاس په سر شول باچا امر وکړ چې د سرپو(فلز) په تخته د دې ځوانانو نومونه د دوی د کيفيت او احوالو سره يو ځای وليکي او په خزانه کې يې وساتي تر څو راتلونکي نسلونه وپوهيږي چې څو تنه په حيرانوونکې توګه ورک شوي دي ښايې په راتلونکې کې له دوی څخه څه اثر ظاهر شي او کومې عجيبې پيښې ورځنې څرګندې شي. دوی په لمريز حساب پوره درې سوه کاله په همغه غار کې ويده وو چې د سپوږمي په حساب نه کاله ورباندې زياتيږي ـ له يوې اوږدې مودې څخه وروسته راجګ شول او په خپلو کې يې يادونه وکړه چې موږ به څومره موده ويده شوي يو؟ ځنو وويل چې يوه يا نيمه ورځ (يعنې ډير لږ) نورو وويل چې په دې هکله خبرې کول فايده نه لري الله پوهيږي چې موږ به څومره وخت ويده شوي وو ـ اوس غوره داده کار وکړو يو تن دې دغه روپۍ له ځانه سره واخلي او ښار ته دې لاړ شي اوله يوه دوکان څخه دې حلال او پاک خواړه راوړي، يو تن روپۍ واخستې، ښار ته ولاړ خو دهغه ښار هر څه يې متغير او نوي ومونډل ـ ښاريانو چې کله هغه سکه وليده حيران شول چې د کوم باچا نوم په هغې ليکل شوی او دا به کوم وخت وي.

ketabton.com - The Digital Library

خلکو وپتیله چې دې سړي کوم ځای خزانه موندلې ده، پلټنې په دې هکله دوام وموند تردې چې پیښه د باچا حضورته ورسیده، باچا ځیر شو او هغه پخوانۍ تخته چې د څو ځوانانو هویت او د دوی د ورکې تاریخ وربانديې لیکل شوی ؤ او ډیره زمانه ساتل شوې وه نو خپل حضور ته یې وغوښتل او پلټنه یې پیل کړه او بالآخره وپوهیده چې دا هماغه ورکه ډله ده. په هغه وخت کې په ښار کې د ﴿بعث بعد الموت﴾ په هکله بحثونه او مناظرې روانې وې ځینو ویل له مرګه وروسته څوک بیرته نه راژوندي کیږي، ځینو به ویل بعث یوازې روحانې وي نه جسماني، ځینو دواړه منل ـ د وخت باچا چې یو حق پرست او انصاف کوونکی سړی ؤ غوښتل یې چې کومه بیلګه له کومې لورې نه په دې هکله لاس ته راوړي تر څو د خلکو عقل یې په آسانۍ سره ومني نو الله تعالی دا بیلګه دوی ته راولیږله اودا کار ددې لامل شو چې د آخرت څخه انکار کوونکي هم د دې حیرانوونکې پیښې له لیدلو او اوریدلو وروسته د قیامت د ورځې په راتلو ایمان راوړ.

د آیتونو لنډ مفهوم

دواړه مبارک آیتونه د هغو ځوانانو په هکله دي چې د بشریت په تاریخ کې د اصحاب کهف په نامه مشهور دي، الله تعالی هغوی د بیلګې په توګه د ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه د ځوانې طبقې لپاره په خپل سپیڅلي کتاب کې ذکر کړي که چېرې تاسې غواړئ چې په خپل دین ټینګ واوسی، که غواړئ چې حق ته پر باطل ترجیح او غوره والی ورکړئ، که غواړئ د آخرت د لاس ته راوړلو لپاره د ظالمانو او متکبرانو له رټنې او تهدید څخه ونه ویریږئ نو په دې ډله پیاوړو ځوانانو پسې اقتداء وکړئ او پوه شئ چې د عالمیانو د خالق او پالونکي غیبي مرسته به ستاسو سره مل او ملګرې وي بلکې تاسوته به ډیرې لویې ویاړنې در په برخه کړي لکه څرنګه چې د اصحاب کهف ملګروته وربښل شوې وې.

له بلې خوا دا آیتونه اودا کیسه په ټولیزه توګه له مرګ وروسته د ژوندانه واقعي بیلګه وړاندې کوي، د روایتونو پر بنسټ په هغه زمانه کې چې دا پیښه رامنځ ته شوې وه وروسته له مرګه د بیا ژوندي کیدو پدیدې د آخرت څخه انکار کوونکي د شک او شبهې سره مخ کړي وو او یوه ډله خلک یا مطلقاً د ژوندي کیدو څخه منکروو یا یې د دې دعوه کوله چې یوازې روح ژوندۍ کیږي نه جسم، خو د اصحاب کهف په ویښیدلو سره وروسته له ۳۰۹ کلونو

ketabton.com - The Digital Library

څخه دا شک او شبهه له منځه ولاړه او خلکو د سر په سترګو ولیدل چې پرته له شکه الله تعالی کولای شي مړ بدن ته دویم ځلي روح وروښني او په حرکت یې راولي.

دریم شی چې مبارک آیتونه ورته اشاره کوي دا دی چې د مومنانو لپاره هیڅکله له الله سره شریک راوړل د زغملو وړنه دی او واقعي مسلمان نشي کولای د مشرکانو سره هم نظره او هم عقیده واوسي، شرک کاملا باطل دی او په قرآني تعبیر سره (شطط) دروغ، ظلم او له حق او حقیقت څخه لرې ته ویل کیږي.

په قرآن کریم کې څو نور نمونه ځوانان

ابراهیم خلیل الله علیه السلام

حضرت ابراهیم علیه السلام د الله پیغمبر ؤ چې د الله په لارکې د سترو ځان ښندنو په خاطر د خلیل الله یعنې د الله د ځانګړي دوست لقب ورکړل شو، هغه د ځوانۍ په منګ کې په بشپړې میړانې سره داسې کارو ته وکړل، چې د نمونه(مثالي)ځوانانو په ډله کې شمیرل کیږي. د اتلولۍ له کارونو څخه یې یو دا ؤ چې په کوڅه او بازار کې به د ظالم نمرود له ویرې پرته ګرځیده او بتان چې د نمرود او نمرودیانو معبودان وو هغه یې باطل او بې بنسټه بلل. او په دې یې هم بسنه ونکړه او کله چې یې مناسبه موقع وموندله، تبرې یې راواخست او د باطل پرستو یو یو بت یې مات او له منځه یوړ. هرکله چې د بتانو عبادت کوونکي د ظالم باچا په ملتیا راوګرځیدل له داسې عجیبه کار سره مخامخ شول چې هیڅکله یې په ذهن کې هم نه ؤ انځور شوی. کله یې چې د دې کار له کوونکي څخه پلټنه وکړه یوې ډلې وویل: ﴿سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ﴾ [الانبیاء :۶۰] یعنی له یوه ځوان څخه چې ابراهیم نومیږي اوریدلي مو دي چې د دې بوتانو بدي یادوي نو دا لوی جرم او ګناه له ده څخه پرته بل چا نه ده کړې. د ابرهیم خلیل اود نمرود د اور بلیدنه مشهوره ده.

موخه دا ده څو وپوهیږو چې پاک قرآن هغه د نمونه ځوان په توګه یادوي ځکه چې هغه د باطل په ماتولو او ځپولو کې د ځوانانو لارښود او مقتدا دی.

اسماعیل ذبیح علیه السلام

دا د ابراهیم خلیل زوی دی چې وروسته هغه هم پیغمبر شو، خو مخکې له پیغمبرۍ څخه یې د تنکۍ ځوانۍ په منګ کې داسې لویه سرښندنه د الله حضورته وړاندې کړې ده چې د ذبیح

ketabton.com - The Digital Library

الله (د الله لپاره حلال شوي) لقب ورکړی شوی دی دا پیښبه داسې وه چې پلار يې په خوب کې ولیدل چې یوازنی ګران زوی د قربانولو ځای ته وړي اود الله لپاره يې حلالوي. څرنګه چې د پیغمبر خوب حق دی، هغه باید دا خوب عملي کړی وای، خو اندیښنه دا وه چې آیا دا تنکی ځوان سرښندنې ته تیاریږي او یا د زور له مخې دې کار ته لاس واچوي، نو ځکه يې لومړی د ده سره د مشورې لپاره مسئله شریکه کړه. ابراهیم علیه السلام له داسې ځواب سره مخ شو چې د دې ځوان تر ټولو د لوړ ایماني قوت ښکارندوی ؤ. قرآنکریم له دې پیښې څخه داسې یادونه کوي ﴿فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَاأَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ﴾ [الصفات: ۱۰۲]. **ژباړه :** کله چې هغه(اسماعیل علیه السلام) د هلوځلو(مرستې کولو) مرحلې ته ورسیده نو ابراهیم علیه السلام ورته وویل:زوی جانه، زه په خوب کې ګورم چې تا حلالوم، ته ووایه چې ستا نظر څه دی؟ زوی يې وویل : پلار جانه، څه چې درته حکم کیږي هغه وکړه. ان شاء الله ما به صابر وومومې.

همغه وه چې دا پاک فطرته ځوان تر هغه شیبې پورې چې چاړه يې پرمړۍ راښکل کېده د غره په څیر مستحکم ولاړ و او نوره کیسه يې مشهوره ده. دلته موخه دا ده ترڅو وپوهیږو چې اسماعیل ذبیح الله د قرآني نمونه ځوانانو څخه هغه ځوان دی چې په صبر، زغم اود الله په عبادت او فرمان منلو کې د ټولو مقتدا او لارښود دی.

یوسف علیه السلام

یوسف علیه السلام د یعقوب علیه السلام زوی اود اسحق علیه السلام لمسی اود ابراهیم علیه السلام کړوسی دی چې د پیغمبرۍ نعمت په مسلسله توګه د دې کورنۍ په برخه شوی دی. د حضرت یوسف د ځوانۍ د وخت کیسه چې الله تعالی ورته بې اندازې حسن او ښایست ورکړی ؤ په هغه اندازه زړه راښکونکې او له عبرته ډکه ده چې په قرآنکریم کې په احسن القصص یعنې بهترینه کیسه یاده شویده . د دې کیسې د تفصیل ځای دغه لنډ لوست نه دی یوازې باید دومره وپوهیږو چې هغه د ځوانانو لپاره ډیره غوره بیلګه ده چې غوښتل يې خپل ځان د اخلاقي مفاسدو له لومو څخه وژغوري. هغه د خپلې ځوانۍ په ډیرو ښایسته ورځو کې ؤ او په ډیر غوره ناز او نعمت کې يې ژوند کاوه او د هغه زمانې تر ټولو ښې او لوړې طبقې ښځې ورڅخه وغوښتل چې د زړه مرام يې پوره کړي، خو هغه د بند تنګه او تیاره ګوښه په هغه ټولو نعمتونو او

ketabton.com - The Digital Library

خوندونو غوره کړه او ويې فرمايل: ﴿ مَعَاذَ اللَّهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ﴾ [يوسف: ۲۳] **ژباړه:** په الله له دې بدې نه پنا غواړم او بر سبره پر دې زما رب زه ډېر ښه ساتلی يم او ظالمان هېڅکله خلاصېدلی نشي.

که اوسني ځوانان په دې نيکه نمونه پسې اقتداء وکړي پرته له شکه الله تعالی به يې د دنيا او آخرت پايله داسې نيکه کړي او هغو ته به داسې عزت ورپه برخه کړي لکه څرنګه چې يې يوسف عليه السلام ته وربښلی ؤ.

فعاليت

زده کوونکي دې په دوه ډلو وويشل شي او په خپلو کې دې د هغو حکمتونو او عبرتونو په هکله بحث او څېړنه وکړي کوم چې د اصحاب کهف له کيسې څخه څرګندېږي.

د لوست ګټې او لارښونې

په پورتنيو آيتونو کې ځينې ګټې او لارښوونې شته چې عبارت دي له:

- ❖ د کهف د کيسې په نازليدو سره د حضرت محمدﷺ د رسالت اثبات.
- ❖ د حق خبرې د څرګندولو غوره والی که څه هم په هغه کې د وژلو يا د وهلو او ټکولو او بندي کولو ويره وی.
- ❖ د توحيد د عقيدې او د سپيڅلي کلمې(لااله الاالله) د بيانولو ارزښت، لکه څرنګه چې د اصحاب کهف ځوانانو وويله.
- ❖ له الله پرته د نورو مخلوقاتو د عبادت او لمانځنې بطلان او پر هغه د عقلي او نقلي دليل نشتوالی.
- ❖ د دين او عقيدې د ساتنې په خاطر د الله په لار کې د هجرت د فرضيت او ارزښت ثبوت.
- ❖ د ځوانی اود هغه د منګ ارزښت، ځکه انسان په دې دوران کې لوی لوی کارونه په آسانی سره تر سره کولای شي.

ketabton.com - The Digital Library

❖ د الله په غیبي مرستي سره د رښتینو مؤمنانو د برلاسی ثبوت، لکه څرنګه چې یې د اصحاب کهف ځوانانو ته په هدایت کې زیادت وکړ او د دوی زړونه یې ټینګ او ثابت کړل.

پوښتنې

۱- لاندې کلمې وژباړئ:

{نَبَأَهُم} ، {بِالْحَقِّ }،{ فِتْيَةٌ }، {وَرَبَطْنَا} ،{شَطَطًا}.

۱- د کهف په مبارک سورت کې څو کیسوته اشاره شوې ده؟

۲- د اصحاب کهف په کیسې پورې د اړوندو آیتونو د نازلیدو سبب څه ؤ؟

۳- د ربط قلوب لفظی معنا او مراد په ذکر شوي آیت کې بیان کړئ؟

۴- د اصحاب کهف کیسه په لنډه توګه بیان کړئ؟

۵- د اصحاب کهف د ویده کیدو موده څو کاله وه؟

۶- د دې لوست د آیتونو له ګټو او لار ښوونو څخه څلور ګټې بیان کړئ؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې په قرآن کریم کې د نمونه ځوانانو د سیرت نه په استفادې سره د (دځان، کورنی او ټولنې په اصلاح کې د ځوانانو ونډه)ترسرلیک لاندې یوه مقاله ولیکي، چې له شلو کرښو څخه کمه نه وي.

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English